فهرس

شماره

مضمون

صفحه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، اللهم صلِّ على محمدٍ وآله وسلم وبارك، اللهم إنَّا نسألك من الخير كله عاجله وآجله ما علمنا منه وما لم نعلم، ونعوذ بك من الشر كله عاجله وآجله ما علمنا منه وما لم نعلم، اللهم إنَّا نعوذ بك من فتنة القول والعمل، آمين اللهم آمين، أمَّا بعد:

الله β انسان ته ازادي ورکړېده چې هغه ځان ته د هدایت او که د ګمراهي لاره خوښوي په ډېرو خلقو باندې الله β رحم کړی دی او هغوی ته یې هدایت کړی دی چې هغوی د ځان لپاره د هدایت لاره خوښه کړي لکن هغه کسان چې د هدایت لاره خوښه کړي په هغوی کې هم بیا الله β مراتب او درجې ایښي دي ځینې ته یې د زیات اخلاص او زیاتو قربانیو او زیاتو نېکو عملونو توفیق ورکړی وي او ځینې ته په نسبت د کمو هغه کسان چې د الله β په لاره کې له خپل ځانه تیرېږي او د الله β د رضا لپاره هغه ځای ته ورځي چې الله β ورته شهادت ورکړي امید دی چې دا به له هغه کسانو څخه وي چې هغه په اوله درجه کې وي .

ددې امله خو د الله β په لاره کې شهید نقصان او ضائعه نه ګڼل کیږي او دا د اسلامي امت لپاره نقصان نه بلکه ګټه ده سره ددې چې مرګ سخت دی ، سره ددې چې په مرګ کې تکلیف وي ، درد وي ، غم وي او سره ددې چې د یو ګران جدایي برداشت کول سخت وي ، سره ددې چې د زړه ټوټه د ټول عمر لپاره رخصت کول اسان کار نه دی لکن بیا هم شهید په ګټه کې دی هغه کور په ګټه کې دی چې د الله β په لاره کې شهید ورکړي ، هغه ډله په ګټه

کې ده چې خپل ملګری شهید ورکړي او دا ګټه هر چا ته نه ښکاره کیږي ، ددې ګټې تصور هرڅوک نشي کولی او ددې مفهوم ته هرڅوک نشي رسېدلی پدې خبرو يوازې هغه څوک پوهیږي چې هغوی د اسلام او د الله β په لاره کې د قرباني په معنی پوهیږي او د هغه څه په قدر پوهیږي چې د کوم شي لپاره قرباني ورکول کیږي هغه کسان چې پدې پوه شي چې د اسلام لپاره قرباني ورکول څومره ارزښتناک کار دی هغوی بیا پدې باندې پوهېدلی شي چې شهادت سراسر ګټه ده هم د شهید لپاره او هم يې د کورنۍ لپاره ...

شهادت د الله β او دشهید په مینځ کې يوه سودا ده چې شهید خپل ژوند ورکوي او د الله β رضا وربانديې اخلي او د الله β جنت وربانديې اخلي الله β فرمايي :

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ .[1]

ترجمه : بیشکه چې اللهβ پیرودلي (آخیستلي) دي له مؤمنینو څخه نفسونه د دوی او مالونه د دوی (چې خپل ځان او مال په جهاد کې ښندی (قربانوی) په عوض د دې چې بیشکه شته (په بدل د دغه جهاد) دوی ته جنت، (دغه پیرودل (اخیستل) په دې شان دي چې) جنګونه کوي دوی په لاره د اللهβ کې نو (کله) وژني مؤمنان دا (کفار) او (کله د کفارو له لوري) وژلی شي دغه مؤمنان وعده ده په دغه (الله β) باندې وعده حقه په توریت کې او په انجیل کې او په قرآن کې ، او

[1] سورة التوبة آية ١١١

څوک دي ښه وفا کوونکي په وعدې خپلې سره له ﷲβ څخه (بلکه هېڅوک نشته) نو خوشاله شئ تاسې (ای مؤمنانو) په بيع ستاسې باندې هغه چې معامله کړې ده تاسې له ﷲ β سره په هغې (بيع او شری سره)، او دغه (بيعه چې ده) هم دغه بری دی ډير لوی .

ددېنه اوس موږ ته را معلوميږي چې کاميابي دا نه ده چې انسان تر ډېره وخته پورې ژوندی پاتې شي او اوږد عمر ولري د ماشومتوب، ځواني او سپين ږيروالي ټول وختونه تېر کړي او يا دا چې پدې ټولو مرحلوکې تکړه او صحتمند پاتې شي او له ژوند نه په هر وخت کې خوند واخلي بلکه کاميابي داده چې انسان د آخرت په سودا کې کامياب شي او د آخرت ګټه وکوي او د ﷲ β په لاره کې خپل ځان قرباني کول ددې ګټې اسانه او لنډه لاره ده د ﷲβ په لاره کې شهادت داسې مرګ نه دی چې يوازې انسان له دنيا څخه آخرت ته نقل کړي بلکه شهادت د آخرت د ژوند بنياد جوړول دي ، شهادت په آخرت کې د ژوند جوړول دي چې د **شهيد** د ځان لپاره هم او د هغه د کورنۍ لپاره هم او پدې معنی باندې صحابه کرام φ ډير ښه پوه شوي وو ځکه خو هغوی خپل ځانونه مکمل اسلام ته وقف کړي وو او اسلام يې خپل کار ګڼلی وو او خپله سر لوړي يې يوازې لدې لارې لټوله د مثال په ډول حضرت مصعب بن عميرI په مکه کې هغه ځوان وو چې د انتهايي راحت ژوند يې کاوه په کوم ځای کې به چې روان وو مخکې له دې چې هغه وليدل شي خلق به د ښه بوی نه پوهېدل چې مصعب را روان دی هغه عطر به يې استعمالول چې د بل چا په وس کې نه وو او هغه جامې به يې آغوستلې چې په هغه وخت کې بل چا ته نه رسېدلې خو چې کله يې اسلام قبول کړو خپل ځان مال يې اسلام ته وقف کړل بالآخره يو غريب

څوان وو پداسې حالت کې ورته الله β د هجرت په
دريم كال په اُحد كې شهادت وركړو چې يوازې د
يو څادر مالک وو هغه هم دومره څادر وو چې كله
دى **شهيد** وو چې دده مبارک سر به يې پكې پټ كړو
پښې به يې لوڅې شوې او كه پښې به يې پكې پټې
كړې نو سر به يې لوڅ شو بالآخره رسول الله γ امر
وكولو چې سر يې پكې پټ كړئ او په پښو باندې
يې يو ډول ګياه اذخر ور واچوئ ... هو حضرت
مصعب بن عمير I په د نيا كې هرڅه د اسلام
لپاره پريښودل همدا يې كاميابي ده او د همدې
املـه خو دى په ښه توګه باندې كامياب شو .

همدارنګه كله چې په اُحد كې شيطان او مشركينو
اوازه خپره كړه چې رسول الله γ ووژل شو حضرت
انس بن النضر I د حضرت انس بن مالک I تره وو
په يوه ډله صحابه وو φ باندې چې مهاجرين او
انصار φ پكې وو راغلو چې له جنګ نه يې زړه
مات وو او ناست وو ده مبارک ورته وويل : ولې
ناست يئ دا د جنګ وخت دى او تاسې په قرار يئ؟
دوى ورته وويل : بس رسول الله γ **شهيد** شو نو موږ
نور جنګ د څه لپاره وكوو؟ ده مبارک ورته وويل
: نو بيا چې رسول الله γ **شهيد** شو تاسې په ژوند څه
كوئ؟ راځئ پاڅيږئ په هغه څه باندې تاسې هم
شهيدان شئ چې په كوم شي باندې رسول الله γ **شهيد** شو
هغه صحابه φ بېرته را پاڅېدل او جنګ ته يې
مخه كړه ترڅو چې اكثر يې **شهيدان** شول الله β د په
جنتونو كې د دوى درجې ورته لوړې كړي دوى په
دې نيت جنګېدل چې په هغه څه باندې قربان شي
چې په كوم شي باندې رسول الله γ **شهيد** شو سره ددې
چې رسو ل اللهγ خپل رب په خپل حفاظت كې ساتلى
وو .. همدا قربانۍ وې چې اسلام يې وساتلو ،
همدا جذبات وو چې اسلام يې ټولې دنيا ته

ورسولو دا چې موږ اوس مسلمانان يو .. دا چې موږ اوس كلمه وايو ... دا چې موږ د يو الله β نوم يادوو او په هر كار كې د هغه رضا لټوو او په هر مشكل كې د هغه مرسته غواړو دا د هغه شهيدانو د شهادت بركت دى چې زموږ نيكونو ته يې د اسلام د را رسولو په لاره كې نصيب شوى دى كه د اسلام په شروع كې شهيدانو خپل ځانونه قرباني ته نه واى وركړي او كه وخت په وخت په مسلمانانو كې ځوانانو ځانونه نه واى شهيدان كړي اسلام به تر موږ پورې نه وو را رسېدلى داسې كه په اوس وخت كې اسلامي امت شهيدان ورنه كړي نو اسلام به وروسته راتلونكي نسل ته پاتې نشي همدا د شهيدانو وينې دي چې د اسلام ونه تازه ساتي همدا شهيدان دي چې په خپلو وينو باندې اسلام ژوندى كوي او خپله ذمه واري پوره كوي چې دا دين بايد وروسته نسل ته ژوندى پاتې شي الله β د د ټولو شهيدانو شهادتونه قبول كړي او موږ ته او ټولو مسلمانانو ته د الله β د شهادت لوړې مرتبې نصيب كړي د (حتمي سفر) د كتابونو دا برخه مو د شهيد په اړه څه خبرو ته خاصه كړېده تاسې او كتاب سره پرېږدم اميد دى چې له مطالعې به يې خوند واخلئ هغه چې وايي : خط مې چې درشي ورته ژاړه ... ما چې ليكل ورته مې ډېر ژړلې دينه ... ما چې ليكل له پوره احساساتو او مينې سره مې ليكلى دى اميد دى چې لوستونكى يې هم د پوره توجه او مينې سره وګوري .

شهادت

پدې برخه كې به د مرګونو څخه د يو خاص مرګ په اړه بحث وكړو كوم چې په ټولو كې غوره مرګ دى او د هر رښتوني مؤمن ارمان دى او د هر رښتوني مؤمن لپاره په كار دى او ضرورت دى هغه مرګ چې له مرګ نه وروسته يې هم انسان تقاضا كوي چې

بېرته ژوندی شوی وای او بیا په همدې مرګ باندې مړ شوی وای او بیا ژوندی شوی وای او بیا مړ شوی وای ... زه د هغه چا د مرګ خبره کوم چې الله β هغوی ته له مړو ویلو څخه منع کړیده او الله β ویلي دي چې هغوی ټول ژوندي دي او الله β هغوی ته رزق ورکوي ... هـــــو زه د شهادت خبره کوم او پدې برخه کې به زه د **شهید** او د هغه د لوړو مرتبو او ځینې ا حکامو په اړه خبره وکوم مخکې لدې چې په نورو خبرو کې ورننوزم د **شهید** له تعریف نه شروع کوم .

د **شهید** تعریف

شهید په لغت کې

شهید په لغت کې په وزن د فعیل دی له فعل د **شَهِدَ يَشْهُد شهادةً** ، فهو شاهد و**شهید** شاهد او **شهید** په یوه معنی دی معنی یې ده عالم ، حاضر خو په عربي کې قانون دی چې په فعیل وزن کې مبالغه (د معنی زیاتوالی) وي.[1]

همدارنګه د علم اللغة ځینې ماهرین وایي چې **شهید** فعیل په معنی د مفعول دی .[2]

دا شین هاء او دال یو اصل دی په حضور او علم باندې دلالت کوي نو **شهید** په لغت کې هغه ته وایي چې حاضر وي او جمع یې شهداء راځي او ددې نه نوم الشهادة جوړیږي .[3]

1 النهاية، لابن الأثير: 513/2
2 أنيس الفقهاء، للقونوي، ص123
3 معجم مقاييس اللغة

په يو حديث کې هم شاهد لفظ ذکر شوی دی او معنی يې حاضر ده رسول اللهγ فرمايي : **لا يحل للمرأة أن تصوم وزوجها شاهد إلا بإذنه .** [1]

ترجمه : د ښځې لپاره نه دي روا چې (نفلي) روژه پداسې وخت کې ونيسي چې خاوند يې حاضر وي ترڅو هغه ورته اجازه نه وي کړې .

شهيد په اصطلاح کې

په اصطلاح کې فقهاوو د **شهيد** لپاره مختلف ډول تعريفونه نقل کړي دي او دا د تعريفونو اختلاف د فقهاء کرامو د رايو د اختلاف له امله دی چې د **شهيد** په اړه يې لري د هغه د غسل ، کفن ، مونځ او نورو مسائلو په اړه نو حنفيان σ د شهيد تعريف داسې کوي : **هو كل مكلف، مسلم، طاهر، قتل ظلمًا، بجارحة، ولم يجب بنفس القتل مال، ولم يرتث وكذا لو قتله باغ أو حربي أو قاطع طريق ولو تسببًا أو بغير آلة جارحة.** [2]

ترجمه : هغه هر مکلف ، مسلمان، پاک انسان دی چې په ظلم سره ووژل شي په زخمي کونکې آله سره او پدې قتل سره مال لازم نشي او د جنګ له ځای نه ژوندی نقل نشي همدارنګه که باغي حربي او قاطع طريق يې ووژني اګر که په کوم سبب سره وي او يا بغير د زخمې کونکې آلې نه وي.

همدارنګه د حنفي مذهب په کتابونو کې د **شهيد** په اړه فرمايي : دا هغه کس دی چې کفار، باغيان، غله، قطاع الطريق يې ووژني او يا يې د وژل کېدلو وخت ښکاره نشي لکن د جنګ په ميدان کې مړ پيدا کړل شي چې تر پوزو غوږونو يې وينه

---

[1] **صحيح البخاري**
[2] **الشامي**

وتلې وي او يا د سوزېدلو يا د بل څه نه د زخمي کېدلو اثر يې په بدن کې ښکاره وي.

يا يې کفار ژوندى ونيسي او په مختلف ډول تکليفونو يې ووژني همدارنګه هغه مسلمان چې نور مسلمانان يې په ظلم باندې ووژني او د هغه ديت واجب نشي.[1]

همدارنګه هغه څوک چې د خپل ځان، يا مال، يا کورواله، يا د نورو مسلمانانو په دفاع کې ووژل شي په هر ډول چې ووژل شي هغه شهيد دى.[2]

که په يوه کښتى يا يوه موټر يا بل داسې شي کې مسلمانان وي کفارو وويشتل او په هغې کې موجوده مسلمانان شهيدان شول او پدې کې اور ولګېدو او دا اور بل موټر يا بلې کښتۍ ته ورسېدو په هغې کې چې کوم مسلمانان دي هغوى ورسره ووژل شول دا ټول يو رنګه شهيدان دي.

همدارنګه د جهاد په دوران کې که مجاهد د خپل ملګري په سلاح ولګيږي او يا په خپله سلاح باندې ولګيږي دا هم شهيدان دي همدارنګه که د جهاد په دوران کې د خپلې سپرلۍ نه وغورځيږي او مړ شي دا هم شهيد دى.

د شافعي مسلک علماء σ د شهيد تعريف داسې کوي:
الشهيد هو من مات من المسلمين في جهاد الكفار بسبب من أسباب قتالهم قبل انقضاء الحرب، كأن قتله كافر، أو أصابه سلاح مسلم خطأ، أو عاد عليه سلاحه، أو تردى في بئر أو وهدة،

[1] الکافي
[2] محيط السرخسي

أو رفسته دابته فمات، أو قتله مسلم باغٍ استعان به أهل الحرب .[1]

ترجمه : شهيد هغه کس دی چې د مسلمانانو له ډلې څخه د کفارو سره په جهاد کې په یوه وجه باندې په حق رسېدلی وي مخکې د ختمېدلو د جنګ نه د مثال په ډول لکه کفارو وژلی وي ، یا د بل مسلمان په سلاح سره په غلطي کې لګېدلی وي ، یا په کوهي یا کنده کې غورځېدلی وي ، یا تر خپله سپرلي غورځېدلی وي ، یا کوم باغي مسلمان وژلي وي او اهل الحرب ورسره په وژنه کې مرسته کړې وي .

شهيد ته شهيد ولې وايي ؟

هغه کس چې د الله β په لاره کې په جهاد کې ووژل شي هغه ته شهيد ويل کيږي امام نووي ρ ددې لپاره اوه وجې ښودلې دي :

١. ځکه الله β او د هغه رسول γ دده لپاره د جنت شهادة (ګواهي) ورکوي.

٢. ځکه شهيدان همدا اوس په حاضر وخت کې د الله β سره ژوندي او حاضر دي.

٣. ځکه دده د روح اخستلو ته د رحمت د ملائکو ډلې حاضريږي او لکه په لغوي معنی کې چې تېر شول شهيد حاضر ته ويل کيږي .

٤. شهيد هغه کس وي چې د قيامت په ميدان کې به په نورو امتونو باندې شهادة (ګواهي) ورکوي .

[1] المغني

٥. ځکه دده په قتل باندې شاهد (ګواه) شته چې د هغه وینه ده .

٦. ځکه چې دده په حسن خاتمه باندې شهادة (ګواهي) ورکړلې شوېده .

٧. ځکه دده روح همدا اوس جنت ته حاضرېږي او د نورو خلقو ارواح به تر قیامت وروسته هلته ځي[1] .

٨. ځکه شهید چې کله په حق رسیږي په هغه وخت کې د خپل کرامت او د ثواب او اکثرو نعمتونو مشاهده کوي[2] .

٩. ځکه ده د الله β په الهیة باندې په عمل سره ګواهي ورکړه او نور خلق په قول سره صرف په خبرو سره ګواهي ورکوي[3] .

١٠. ځکه چې دی د ځانکدن په وخت کې د دنیا او آخرت د دواړو طرفونو مشاهده کوي هم ورته دنیا ښکاره کیږي او هم ورته د آخرت ځینې نعمتونه ور ښکاره کیږي[4] .

او ځینې علماء σ فرمایي شهید ته ددې امله شهید وایي چې الله β، د هغه رسول γ او د فرښتې π دده لپاره د جنت شهادة (ګواهي) ورکوي[5] .

ځینې بیا فرمایي شهید ته ددې امله شهید وایي چې تر آخره پورې د حق په شهادة (ګواهي) باندې ولاړ وو تردې چې وربانده ووژل شو .

---

1 كتاب الجهاد والسياسة الشرعية
2 لسان العرب
3 المطلع على أبواب المقنع
4 بذل الماعون في فضل الطاعون، ص190
5 الدر المختار

او ځيني علماء σ فرمايي شهيد ته ځکه شهيد وايي چې ده د الله β ، حق او دين سره خپل اخلاص او صداقت په خپل مرګ باندې داسې ثابت کړو لکه څوک يو شی د چا په شهادة (ګواهي) سره ثابتوي او ده خپل مرګ پدې ګواه کړو چې دی له الله β ، له خپل دين او حق سره په مينه کې رښتونی وو .

په اسلام کې اول شهيد

په اسلام کې د اول شهيد کېدو بخت او قسمت حضرت سمية بنت الخباط ι ته رسېدلی دی د اسلام په اول کې په مکه مکرمه کې د ابي جهل په لاس په شهادت ورسېده حضرت سمية بنت الخباط ι د حضرت عمار بن ياسر η مور وه په هغه کسانو کې وه چې د اسلام په شروع کې په اسلام کې داخل شوي وو او په هغه اوو کسانو کې وه چې په اسلام مشرف شوي وو ددېنه وړاندې د زمکې په سر محدود کسان پخپله ذات اقدس د رسول الله γ ، خديجة ، علي، ابي بکر الصديق، بلال، صهيب ددې زوی عمار φ په اسلام مشرف شوي وو بيا يې دا او خاوند دواړه په اسلام مشرف شول او تر آخري حده پورې په اسلام باندې ټينګ پاتې شول د کفارو له لوري دوی ته ډېر تکليف ورسېدو لکن ددوی زړونه د ايمان له رڼا څخه ډک شوي وو ځکه د هغوی تکليفونو دوی ته هېڅ تاوان ونه کړلو او نه يې په الله β باندې په يقين کې کمښت راغلو حضرت عمارI د هغه تکليفونو په اړه فرمايي چې دوی ته د بني خزاعة قبيلې له خلقو ډېر زيات تکليفونه ورسېدل تردې چې حضرت عمارI د خپل ايمان پټولو ته اړ شو او په خوله باندې يې کفر ښکاره کړو لکن په زړه کې يې کلک ايمان وساتلو او د هغه په اړه بيا آيت نازل شو الله β

وفرمايل : مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ وَلَكِنْ مَنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ . [1]

ترجمه : هر څوک چې كافر شو پر الله β وروسته له ايمان راوړلو د ده (نو پرى غضب دى د الله β) مګر هغه څوک چې زور پرې وکړ شو (او مجبوراً د كفر كلمه ئې وويله) حال دا چې زړه د ده آرام نيونكى وي په ايمان سره (هغه كسان له غضب نه وتلي دي) ولېكن هغه څوک چې ارته كړي په كفرسره سينه (خپله چې راضي شي پرې اعتقاداً) نو پر دوى باندې غضب دى له (طرفه د) الله β، او شته دوى ته عذاب لوى (اخروي په سبب د ارتداد).

حضرت عمار I د هغوى په وړاندې كفر ښكاره كړو كله چې رسول اللهγ ته راغلو رسول الله γ ورڅخه د حال پوښتنه كوله ورته يې وويل : څه وشول؟ يعني د كفارو سره د څه وكول؟ ده ورته وويل : ډېر بد يا رسول اللهγ زه دوى تر هغه وخته پورې نه پرېښودم تردې چې ما لتا څخه انكار وكولو او د هغوى باطل خدايان مې ورته په ښو ياد كړل ... رسول الله γ ورته وويل : پدې وخت كې ستا زړه څنګه وو؟ ده I ورته وويل : هغه په ايمان باندې ټنيګ وو رسول الله γ ورته وويل : كه بيا ئې ونيولې نو ته ورسره بيا هم همداسې وكوه (يعني په تا باندې هېڅ ګناه نشته).

حضرت سمية l هغه وخت شهيده شوه چې كله ابو جهل په نيزه باندې وويشته او پدې وخت كې بوډۍ ،

---

[1] سورة النحل آية ١٠٦

کمزوري، غريبه لکن په دين او په اسلام باندې محکمه ولاړه ښځه وه په خپله پاکه عقيده باندې داسې ټينګه ولاړه وه چې هېڅ قدرت او هېڅ ظلم او هېڅ جابر هغه له خپلې عقيدې څخه نشواى اړولى او ددې په زړه کې ايمان دېته ټول تکليفونه چې له امله يې دا په شهادت ورسېده اسانه کړي وو او دا ډېره بختوره وه چې الله β ورته په اسلام کې د اول **شهيد** لقب ورکړو الله β يې د مرتبې لوړې کړي لدې سره ددې خاوند حضرت ياسرI هم په شهادت ورسول شو د دوى دواړو په اړه فرمايي :

وهذا ما حصل لسمية وياسر والدي عمار رضي الله عنهم، فقد كان إسلامهم قديمًا في أول الإسلام، وكانوا رضي الله عنهم ممن يعذب في الله. [1]

ترجمه : او دا اول شهادت هغه څه دي چې حضرت سمية او ياسر چې د عمارφ مور او پلار وو حاصل شوى دى د دوى اسلام مخکنى وو د اسلام په اول کې په اسلام مشرف شوي وو او دوى له هغه خلقو څخه وو چې د اللهβ په لاره کې ورته عذاب ورکول کېدو.

حضرت عثمان بن عفان I فرمايي زه د رسول الله γ سره وم لاسونه مو سره ورکړي وو په بطحاء کې په پښو روان وو چې د حضرت عمار I مور او پلار ته را ورسېدو چې هغوى په عذاب کې وو رسول الله γ هغوى ته وويل چې صبر وکوئ بيا رسول الله γ وويل : **اللهم اغفر لآل ياسر، وقد فعلت** . [2]

---

1 الاستيعاب في معرفة الاصحاب
2 ابن سعد في الطبقات

ترجمه : ای الله β بښنه وکوې آل د یا سر ته او تا ورته کړې ده .

د حضرت جابر I نه روایت دی چې رسول الله γ هغه ځای ته راغلو چېرته چې آل یاسر I ته په دښته کې عذاب ورکول کېدو رسول الله γ هغوی ته وویل :
أبشروا آل یاسر فإن موعدکم الجنة. [1]

ترجمه : د یاسر کورنۍ صبر وکوئ بېشکه ستاسې د ورتلو ځای جنت دی .

امام مجاهد ρ د حضرت سمیة په اړه فرمایي :
جاء أبو جهل فجعل یشتم سمیة ویرفث، ثم طعنها فقتلها، فهي أول شهید استشهد في الإسلام. [2]

ترجمه : ابو جهل راغلو سمیة ι ته یې ښکنځلې کولې او بد یې ورته ویل بیا یې په نیزه ووهله او شهیده یې کړه نو هغه په اسلام کې اوله شهیده شوه .

کله چې په بدر کې ابو جهل ووژل شو رسول الله γ حضرت عمار بن یاسر I ته وویل : مبارک د شه الله β ستا د مور پلار قاتل مړ کړو .

حضرت عمار I بیا په هغه کسانو کې وو چې مدینې منورې ته یې هجرت کړی وو او په بدر ، اُحد ، خندق ، بیعة الرضوان ، او مختلفو مقامونو کې یې حاضري ورکړې وه او د یو ښه تکړه مجاهد په صفت پېژندل شوی وو بالآخره یې الله β په معرکة

[1] أخرجه الحاکم في المستدرك
[2] ابن سعد في الطبقات

الصفين کې چې د ربيع الاول په مياشت کې د
هجرت په ۳۷ کال کې وه شهادت په نصيب کړو .

په انصارو کې اول شهيد

کله چې د اسلام رڼا مديني منورې ته ورخپره شوه
رسول الله γ هلته لاړو نو د مديني منورې خلقو د
رسول الله γ سره پوره ميړانه او غيرت ښکاره کړو
خپل ځانونه يې اسلام ته وقف کړل او په ځان او
مال يې د اسلام خدمت شروع کړو ښځو نرو او ما
شومانو ټولو په يو ډول د اسلام رڼا ته ډير
زياته په مينه ، اخلاص او جذبه سره لبيک وويل
او د خپلو مهاجرو ورونو سره اوږه په اوږه د
ژوند په هره برخه او ددين په هر کار کې
ودريدل کله چې د بدر د غزا وخت شو نو انصار
ورونه ډير په مېړانه له رسول الله γ سره د جنګ
ميدان ته وړاندې شول او هېڅ ډول قرباني يې له
رسول الله γ څخه ونه سپموله څرنګه چې د بدر جنګ
په اسلام کې د خپلې نوعې لمړی جنګ وو رسول اللهγ
د مهربان استاذ ، مهربان رهبر په حيث صحابه φ
په هره خبره پوه کول کله چې د جنګ ځای ته
نږدې شول رسول الله γ دوی ته خبرې کولې او ورته
يې ويل : ترڅو چې زه کوم کار ته نه وم ور
وړاندې شوی تاسې به نه ور وړاندې کيږئ او د
جنت خبرې يې ورته کولې او په اسلام کې او په
جهاد کې يې قرباني ته هڅول کله چې مشرکان را
نږدې شول رسول الله γ خپلو جنګيالو ته امر
وکولو چې ميدان د ور ودانګي رسول الله γ ورته
وويل : ورپاڅئ داسې جنت ته چې فراخي يې لکه د
زمکې او اسمانونو دومره ده صحابه کرام φ لکه
د بازونو په څير ميدان ته وړاندې شول او د
پوره جذبې سره هر يو ور مخکې شو په دوی کې يو

انصاري مجاهد حضرت عمير بن الحمام الانصاري I وو ده وويل : يا رسول الله γ داسې جنت چې فراخي يې لکه د زمکې او اسمانونو دومره ده؟ رسول الله γ ورته وويل : هـــــــو ! حضرت عمير I وويل : بخ بخ ... رسول الله γ ورته وويل : دا بخ بخ د ولې وويل : حضرت عمير I وويل : نـــــــه و الله يا رسول اللهγ زما صرف اميد دى چې زه جنتي شم رسول الله γ ورته وويل : ته جنتي يې حضرت عمير يو څو خورما را وويستې او خوړلې يې بيا يې ځان ته وويل : که زه دومره ژوندى پاتې شم چې دا خورما وخورم نو دا هم ډېر اوږد عمر دى پاڅېدو هغه خورما يې وغورځولې په جنګ يې شروع وکوله تردې چې شهيد شو نو لدې سره د انصارو څخه لمړى شهيد شو. [1] الله β يې د مرتبې لوړې کړي .

نکته : په يو روايت کې حارثه بن سراقة I چې ماشوم وو په بدر کې پداسې حالت کې په غيشي ولګېدو چې اوبه يې څښلې او د ماشومتوب له امله په جنګ کې شريک نه وو هغه ترده د مخه شهيد شو نو بيا په انصارو کې اول شهيد هغه راځي . والله اعلم

[1] صحيح مسلم

د شهيد او شهادت فضائل

کله چې موږ د يو مصرف شوي شي فضيلت او بهتري ګورو نو موږ هغه څه ته ګورو چې له امله يې مصرف شوی وي نو چې کله موږ د شهيد نفس او ځان ته ګورو چې د څه له امله قربان شو ؟ ځواب يې ښکاره دی چې د الله β د رضا لپاره نو د الله β رضا تر هرشي نه قيمتي او د قدر وړ شی دی نو چې هرشی د داسې قيمتي شي لپاره مصرف شي هغه به تر ټولو غوره او قيمتي وي .[1]

نو چې د شهادت او شهيد په اړه انسان همدومره فکر وکوي نو هم بس دی بيا هم انسان دې نتيجې ته رسيږي چې شهادت بهترينه مرتبه ده او شهيد بهترين شخصيت دی چې لدې دنيا نه تللی دی ځکه په دنيا کې انسان ته تر هرڅه نه قيمتي شی د هغه ژوند دی او چې انسان په دنيا کې هرڅه لري چې دده د ژوند سره يې مقابله راشي نو خپل ژوند خوښوي او هغه شی پريږدي نو چې کله انسان د الله β د رضا لپاره د خپل ژوند نه هم تېر شي نو يقيناً دده قرباني د ستاينې وړ ده او رسول الله γ هم د شهيد لپاره زيات فضيلتونه بيان کړي دي .. هغه کسان چې زموږ کتابونه هر وخت ګوري هغوی پدې پوه دي چې زموږ ټول کتابونه په اختصار سره جوړ وي موږ کوښښ کوو چې خپل کتاب تر ممکنه حده پورې مختصر کړو او له بله پلوه د شهادت او شهيد فضائل په قرآن کريم او احاديث کې دومره زيات دي چې هغه په دومره وړوکې رساله کې نشي را جمع کېدلی نو زه صرف مشت نمونه خروار ستاسې په وړاندې اېږدم .

[1] أحكام الجهاد وفضائله، للعز بن عبد السلام، ص28

شهيد په قرآن کې

په قرآن کريم کې د شهيد او شهادت په اړه ډېر آيتونه راغلي دي الله β فرمايي :

إِنَّ اللهَ اشْتَرَى مِنَ المُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْداً عَلَيْهِ حَقاً فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الفَوْزُ العَظِيمُ . [1]

ترجمه : بيشکه چې الله پيرودلي (آخيستلي) دي له مؤمنينو څخه نفسونه د دوی او مالونه د دوی (چې خپل ځان او مال په جهاد کې ښندي (قربانوي) په عوض د دې چې بېشکه شته (په بدل د دغه جهاد) دوی ته جنت، (دغه پيرودل (اخيستل) په دې شان دي چې) جنګونه کوي دوی په لاره د الله β کې نو (کله) وژني مؤمنان دا (کفار) او (کله د کفارو له لوري) وژلی شي دغه مؤمنان وعده ده په دغه (الله β) باندی وعده حقه په توريت کې او په انجيل کې او په قرآن کې ، او څوک دی ښه وفا کوونکی په وعدی خپلی سره له الله β څخه (بلکه هېڅوک نشته) نو خوشاله شئ تاسې (ای مؤمنانو) په بيع ستاسې باندې هغه چې معامله کړې ده تاسې له الله β سره په هغې (بيع او شری سره)، او دغه (بيعه چې ده) هم دغه بری دی ډېر لوی .

په بل ځای کې الله β فرمايي :

---

[1] سورة التوبة آية ١١١

وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتاً بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ * فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ * يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ.[1]

ترجمه : او له سره گمان مه کوه ! (ای محمده یا ای سامعه !) پر هغو کسانو چې وژل شوي دي دوی په لاره د الله β (جهاد او طاعت) کې د مړو (مړه نه دی)،بلکه ژوندي دي په نزد د رب خپل رزق ورته ورکولی شي (له جنتي ماکولاتو او مشروباتو څخه) په دې حال کې چې خوشاله دي دوی په هغه شي باندې چې ور کړي دي دوی ته الله β له فضله خپله او خوشالیږي دوی (په راتلو د) هغو کسانو باندې چې لا نه دي رسیدلي دوی تر هغو پورې وروسته د دوی نه په دې شان سره چې نه به وي (هیڅ قسم) ویره په دوی باندې او نه به دوی هېچرې غمجن کیږی (د ثواب په نقصان سره) خوشالیږي دوی په نعمت سره له (جانبه د) الله β او (د ده په) فضل سره او (په دی سره چې) بېشکه اللهβ نه ضائع کوي اجرا د مؤمنانو (بلکه پوره ئې ورکوي).

په بل ځای کې الله β فرمايي :

وَلاَ تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ.[2]

ترجمه : او مه وایئ تاسې هغه چاته چې ووژل شي په لاره د الله β (جهاد) کې چې (دوی) مړه دي (دوی

[1] سورة آل عمران آية 169تر171
[2] سورة البقرة آية 154

مړه نه دي) بلکه ژوندي دي ولېکن تاسې نه پوهيږئ (د دوی په ژوندانه) .

په بل ځای کې الله β فرمايي :

وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ * سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ * وَيُدْخِلُهُمُ الجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ . [1]

ترجمه : او هغه کسان چې وژلی شوي دي په لياره د الله βکې پس له سره به ضايع نه کړي (الله β) عملونه د دوی ژر به سمه لياره وښيي دوی ته (الله β په دنيا او په آخرت کې) او ښه به کړي حال د دوی (په دارينو کې) او داخل به کړي (الله β) دوی په جنت کې چې معلوم کړی دی (الله β) دغه (جنت) دوی ته .

شهيد له الله β سره خپل عهد پوره کړو الله β فرمايي : **مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلا** [2]

ترجمه :ځنې له مؤمنانو څخه (داسې) سړي دي چې رښتيا کړې ئې ده هغه خبره چې عهد کړی وو دوی له الله β سره په هغه باندې (چې ثبات، استقامت فی القتال دی) پس ځينې له دوی هغه دي چې تر سره ئې کړ نذر خپل ((چې مړ شو يا شهيد)) او ځينې له دوی هغه دي چې انتظار کوي (دغه مرګ يا شهادت ته) او بدل ئې نه کړ (عهد خپل يوه ذره هم) په بدلولو سره .

---

[1] **سورة محمد آية 4 تر 6**

[2] **سورة الأحزاب آية 23**

شهيد به په آخرت کې له انبياوو سره وي الله β فرمايي :

وَمَن يُطِعِ اللهَ وَالرَّسُولَ فَأُوْلَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُوْلَئِكَ رَفِيقاً [1]

ترجمه :اوهر څوک چې حکم ومني د الله β او د رسول (د الله β) نو دغه کسان به له هغو سره وي (په جنت کې) چې انعام کړی دی الله β پر دوی باندې چې انبياء π دي او صديقان دي او شهيدان دي او صالحان دي ، او ښه دي دغه کسان له جهته د رفاقته (چې ښه ملګري دي).

په بل ځای کې الله β فرمايي :

وَأَشْرَقَتِ الأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الكِتَابُ وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ وَالشُّهَدَاءِ[2]

ترجمه : او روښانه به شي ځمکه په نور د رب د دغې (ځمکې لپاره د فيصلې د بندګانو) او کېښود به شی کتاب (عمل نامې د پاره د حساب) او راتله به ورکړل شي په انبياوو (محشر ته) او په شهداوو سره (له هر امته).

په بل ځای کې الله β فرمايي :

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللهِ وَرُسُلِهِ أُوْلَئِكَ هُمُ الصِّدِّيقُونَ وَالشُّهَدَاءُ عِندَ رَبِّهِمْ لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ . [3]

---

[1] **سورة النساء آية 69**

[2] **. سورة الزمرآية 69**

[3] **سورة الحديد آية 19**

ترجمه: او هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دی په الله β او په (ټولو) رسولانو د دغه (الله β) دغه کسان هم دوی دي ډېر رښتیني او شاهدان دي (په ورځ د قیامت کې پر دروغ ویونکیو باندې) په نزد د رب خپل وي به دغو (صدیقانو مؤمنانو) ته اجر د دوی او رڼا (رنړا) د دوی (چې پرې تیریږي به په پل صراط باندی).

شهیدان هغه کسان دي چې الله β په ټولو خلقو کې غوره کړي دي الله β فرمایي

وَلِيَعْلَمَ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ . [1]

ترجمه : او له پاره د دې چې معلوم کړي الله β هغه کسان چې ایمان لرونکي دي (په علم الشهود سره هم) او (بل له پاره د دې چې) ونیسي (الله β) له تاسې شهیدان.

[1] سورة آل عمران آیة 140

شهيد په احاديثو کې

رسول الله γ د شهادت تمنا كوي

له حضرت ابي هريرهI څخه روايت دی هغه فرمايي رسول الله γ فرمايل : **انتدب الله لمن خرج في سبيله لا يخرجُه إلا إيمانٌ بي وتصديقٌ برسلي أنْ أرجِعَه بما نالَ من أجرٍ أو غنيمةٍ أو أدخله الجنة، ولولا أنْ أشقَّ على أمَّتي ما قعدتُ خلفَ سريَّة، ولوددت أنِّي أُقتَل في سبيل الله ثم أُحيَا، ثم أقتل ثم أحيا، ثم أقتل.** [1]

ترجمه : الله β زر وركوي اجر د هغه چا چې څوک د الله β په لاره كې وزي او هغه يوازې په ما باندې د ايمان او زما د رسولانو د تصديق له امله وزي چې يا به هغه بېرته له لوی اجر او غنيمت سره را وګرځوي او يا به يې جنت ته ننباسي رسول الله γ فرمايي كه زما په امت باندې نه سختېدلی زه به له يوې سريې څخه هم ناست نه وم او زما خوښېږي چې زه د الله β په لاره كې ووژل شم بيا ژوندی شم بيا ووژل شم بيا ژوندی شم .

رسول الله γ فرمايي زما يوازې دا نه خوښېږي چې دا يو ځل زه ژوندی يم او اوس د الله β په لاره كې ووژل شم بلكه دا مې خوښېږي چې ووژل شم بيا اللهβ ژوند راكړي او بيا ووژل شم ... كه چېرته په شهادت كې څه خاصه خبره نه وای نو رسول الله γ به يې په پورتني حديث كې درې ځله تمنا نه كوله .

[1] صحيح البخاري

همدارنګه بل حدیث دی رسول الله γ فرمایي : **والذي نفسي بيَدِه لولا أنَّ رجالاً من المؤمنين لا تطيب أنفسهم أنْ يتخلَّفوا عنِّي، ولا أجد ما أحملُهم عليه، ما تخلَّفت عن سريَّةٍ تغزو في سبيل الله، والذي نفسي بيده لوددت أنِّي أُقتَل في سبيل الله، ثم أحيا ثم أقتل، ثم أحيا ثم أقتل، ثم أحيا ثم أقتل .** [1]

ترجمه : زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس د قدرت کې دی که چېرته مسلمانانو ته دا بده نه ښکاره کېدی چې زه جهاد ته لاړ شم دوی پاتې شي او که چېرته داسې نه وای چې له ما سره د هغه اسبابو کمښت نه وای چې دوی ټول ځان سره بوزم نو زه به له یوې سریې څخه هم نه پاتې کېدم (اوس چې زه ځم نو مسلمانانو ته ښه نه ښکاره کیږي چې دوی پاتې شي او زه جهاد ته په سریه کې لاړ شم او له ما سره دومره څه نشته چې دوی ټول له ځان سره بوزم) زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس یې په لاس کې دی زما خوښیږي چې د الله β په لاره کې ووژل شم بیا ژوندی شم بیا ووژل شم بیا ژوندی شم ، ووژل شم بیا ژوندی شم ، ووژل شم بیا ژوندی شم .

نکته : سریه د غازیانو هغه ډلې ته ویل کیږي چې اسلامي امیر یې د څه مقصد لپاره چېرته ولیږي لکه په اوس وخت کې چریکي جنګیالي چې ځي.

پدې حدیث کې رسول الله γ د قسم سره وایي چې د هغه مبارک γ دا خوښیږي چې هغه د الله β په لاره کې ووژل شي بیا ژوندی شي او بیا ووژل شي او بیا ژوندی شي او بیا ووژل شي .

[1] صحيح البخاري

شهيد به بېرته راتلل غواړي

شهيد په جنت کې هم ددې امید کوي چې که ده ته وخت ورکړل شوی وای چې دی له جنت نه بېرته دنیا ته راوتلی وای او دلته یې د الله β په لاره کې جهاد کړی وای او بیا شهید شوی وای ..

حضرت انس I فرمایي رسول الله γ فرمایل : "مَا أُحد يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا عَلَى الأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ إِلاّ الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لِمَا يَرَى مِنْ الْكَرَامَةِ.[1]

ترجمه : په جنت کې به هېڅوک داسې نه وي چې هغه به دا غواړي چې له جنت نه را وزي او ده ته د هغه څه ورکړل شي چې ده ته په دنیا کې ورکړل شوي وو مګر یو شهید به وي هغه به ددې تمنا کوي چې هغه دنیا ته راشي او بیا لس ځله ووژل شي د هغه کرامت له امله چې دی یې ویني .

یعني کله چې جنتیان د جنت ژوند او هلته نعمتونه ویني نو هېڅوک به هم دا نه خوښوي چې بېرته دنیا ته راشي او هغه نعمتونه چې دلته دوی ته ورکړل شوي دي هغه د بیا ورکړل شي بلکه ددنیا ټول نعمتونه به په جنت کې جنتیانو ته هېڅ شی هم نه ښکاره کېږي یوازې شهید به وي هغه به غواړې چې دی بېرته دنیا ته راوستل شي د هغه به خوښېږي چې دی بېرته د نیا ته راغلی وای او یو ځل نه لس ځله بیا د الله β په دین باندې شهید شوی وای ځکه هغه چې کومه مزه په شهادت کې او کوم عزت په شهادت کې لیدلی وي

[1] متفق علیه

هغه به د جنت له نعمتونو هم ورته خوندور ښكاره كيږي .

همديته ورته بل حديث دى رسول الله γ فرمايي : **مَا مِنْ نَفْسٍ تَمُوتُ لَهَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ يَسُرُّهَا أَنَّهَا تَرْجِعُ إِلَى الدُّنْيَا وَلا أَنَّ لَهَا الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا إِلا الشَّهِيدُ فَإِنَّهُ يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ فَيُقْتَلَ فِي الدُّنْيَا لِمَا يَرَى مِنْ فَضْلِ الشَّهَادَةِ .** [1]

ترجمه : داسې نفس نشته چې هغه مړ كيږي له الله β سره داسې خير وي چې دى خوشحالوي (چې د الله β له لوري جنت ته ننوزي) او هغه بيا غواړي چې دى دنيا ته راشي او نه دا چې دا ټوله دنيا او هغه څه چې په دنيا كې دي دا ټول دده شي بغير د **شهيد** نه يوازې دى وي چې هغه ددې تمنا كوي چې دى بېرته دنيا ته راوګرځي او بيا په دنيا كې ووژل شي دا تمنا دى د هغه فضل له مخې كوي چې ده په شهادت كې ليدلى وي .

شهيد د قبر له عذاب نه په امن كې وي

له حضرت راشد بن سعد ρ نه روايت دى هغه له يو صحابي نه روايت كوي هغه فرمايي : **أَنَّ رَجُلا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا بَالُ الْمُؤْمِنِينَ يُفْتَنُونَ فِي قُبُورِهِمْ إِلا الشَّهِيدَ قَالَ كَفَى بِبَارِقَةِ السُّيُوفِ عَلَى رَأْسِهِ فِتْنَةً .** [2]

ترجمه : يو سړي (چې راوي ته يې نوم نه وو زده) رسول الله γ ته وويل : اي رسول الله γ څه وجه ده چې مؤمنان ټول په قبرونو كې په فتنه كې

---

[1] **رواه مسلم**
[2] **رواه النسائي**

واقع کیږي بغیر د شهیدانو نه (څه وجه ده چې شهیدان د قبر له عذاب نه په امن کې وي؟) رسول الله γ ورته وویل : کله چې هغه په جنګ کې وو او په سر باندې یې د تورو پړقا وه هغه فتنه دده بس ده د قبر د عذاب نه د هغه حالت له برکت نه په امن کې شوی دی .

معنی دا چې شهید ته به په قبر کې هیڅ تکلیف نه ورکول کیږي ځکه کوم کس چې ځان د الله β په لاره کې قربان کړي د هغه بل امتحان ته ضرورت نشته هغه خپل صداقت او رښتیا والی په خپل شهادت سره ښکاره او ثابت کړل او د جهاد په سختو حالتونو کې په خپل ځای تر هغه وخته پورې مستقیم پاتې شو چې ترڅو الله β ورته شهادت نصیب کړو (الله β یې د له ټولو شهیدانو څخه قبول کړي او الله β د زموږ او ټولو مخلصو مسلمانانو قسمت پکې وکوي) .

الله β شهید ته شپږ لوی خصوصیتونه ورکوي

هغه څوک چې د الله β د دین لپاره قرباني ورکوي او د الله β لپاره په شهادت ورسیږي الله β ورته شپږ لوی نعمتونه او خوشحالیانې ورکوي پدې اړه رسول الله γ فرمایي : **للشهيد عند الله سِتُّ خصال: يَغفر له في أول دُفعة من دمه، ويُرى مقعده من الجنة، ويُجار من عذاب القبر،، ويأمن من الفزع الأكبر، ويُحلّى حلة الإيمان، ويُزوج من الحور العين، ويُشفَّع في سبعين إنساناً من أقاربه .** [1]

---

[1] رواه الترمذي و ابن ماجة

ترجمه : دشهيد لپاره د الله β سره شپږ خصوصيتونه دي:

١. د وينې له اولې دفعې سره ورته گناهونه بښل کيږي.

٢. د شهادت په وخت کې ورته په جنت کې خپل ځای ور ښکاره کول کيږي.

٣. د قبر د عذاب نه ورته امان ورکول کيږي او د قيامت د ويرې نه به په امن وي.

٤. د ايمان غاړکی به په غاړه کې ور اچول کيږي.

٥. حورې ورته په نکاح کيږي.

٦. د خپلوانو له جملې څخه به د اويا کسانو په حق کې شفاعت کوي او دده شفاعت به منل کيږي .

نکته: په ځينې رواياتو کې د ست په ځای سبع (اوه) لفظ راغلی دی هلته بيا د قبر له عذاب نه امن بېل خصوصيت دی او د قيامت په ورځ له وېرې نه په امن کېدل بېل شمار کړل شوي دي نو ځکه هلته اوه دي او پدې ځای کې چې دواړه په يو حساب کړل شي نو بيا شپږ دي .

پدې حديث کې به لږ تم شو دلته رسول الله γ وفرمايل چې د شهيد لپاره د الله β په وړاندې څو خاص خصلتونه دي چې دا خصلتونه د بل هېچا لپاره هم نشته .

شهيد ته د ګناهونو ښبل کېدل

د وينې د اولې دفې سره ورته ټول ګناهونه ښبل کيږي

آيا شهيد ته رښتيا هم ټول ګناهونه ښبل کيږي که نه لوى وي که واړه؟ پدې اړه حضرت قتادة I فرمايي کله چې رسول الله γ د جهاد په غوره والي خبرې کولې **أن رجلاً سأل رسول الله صلى الله عليه وسلم : أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، تُكَفَّرُ عَنِّي خَطَايَايَ ؟ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : نَعَمْ ، إِنْ قُتِلْتَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ ، مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : كَيْفَ قُلْتَ ؟ قَالَ : أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَتُكَفَّرُ عَنِّي خَطَايَايَ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : نَعَمْ ، وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ ، مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ إِلاَّ الدَّيْنَ ، فَإِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلام قَالَ لِي ذَلِكَ .** [1]

ترجمه : بېشکه يو کس رسول الله γ ته وويل : تاته داسې ښکاري که زه د الله β په لاره کې ووژل شم زما ټولې خطاګانې راته ښبل کيږي؟ رسول اللهγ ورته وويل هو! که ته د الله β په لاره کې ووژل شې او ته په خپل درد ، تکليف باندې صبر وکوې او مخلص وې پداسې حال کې ووژل شې چې تا دښمن ته مخ کړی وي (د شکست په حالت کې نه وې) تاته به ټول ګناهونه ښبل کيږي بيا رسول الله γ ورته وويل : تا څنګه وويل؟ هغه کس بيا ورته وويل : تاته داسې ښکاري که زه د الله β په لاره کې ووژل شم زما ټولې خطاګانې راته ښبل کيږي؟

[1] رواه مسلم

رسول الله γ ورته وويل : هو، كه ته صبر كونكى او مخلص وې ، پداسې حالت كې ووژل شې چې تا دښمن ته مخ كړى وي (د شكست په حالت كې نه وې) بغير د قرض نه څكه دا ماته جبريل ν وويل .

پدې حديث كې رسول الله γ ښكاره كړه چې الله β شهيد ته ټول خپل حقونه ور بښي لكن د خلقو حق ورته نه بښي څكه هغه د خلقو حق دى او الله β د هغې د بښلو اختيار هم خلقو ته وركړى دى چې كله يې هغه وبښي نو وبښل شي .

په بل حديث كې حضرت محمد بن جحش I فرمايي :
كنا جلوسًا عند رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم فرفع رأسه إلى السماء ثم وضع راحته على جبهته - ثم قال سبحان الله ماذا نزل من التشديد فسكتنا وفزعنا، فلمَّا كان من الغد سألته: يا رسول الله ما هذا التشديد الذي نزل؟ قال: "والذي نفسي بيده لو أنَّ رجلاً قُتل في سبيل الله ثمَّ أُحيي ثمَّ قُتل ثمَّ أُحيي ثمَّ قُتل، وعليه دَين ما دخل الجنَّة حتَّى يُقضى عنه. [1]

ترجمه : موږ له رسول الله γ سره ناست وو رسول الله γ سر مبارک اسمان ته پورته کړو بيا يې لاس مبارک په خپل تندي باندې کېښود بيا يې وفرمايل : سبحان الله څومره سخت حکم نازل شو .. موږ چُپ شوو او وډار شوو کله چې سبا شو پوښتنه موترې وکوله يا رسول الله γ څه سخت حکم نازل شو؟ هغه مبارک γ وفرمايل : زما د په هغه ذات باندې قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دى که چېرته يو کس د الله β په لاره کې ووژل شي او بيا ژوندى شي بيا ووژل شي او بيا ژوندى شي

[1] رواه النسائي و احمد

بیا ووژل شي او په ده باندې قرض وي دی به جنت ته نه ننوزي ترڅو هغه قرض دده څخه اداء نه کړل شي .

پوښتنه : کله چې د قرض مسئله دومره سخته ده چې هغه شهید ته هم نه بښل کیږي لکه په پورتني حدیث کې چې رسول الله γ فرمايي صرف يو ځل نه که څو ځله هم شهید شي بیا هم ورته قرض نه بښل کیږي وجه یې داده چې قرض د مخلوق حق دی او د هغه تر بښنې پورې بند دی نو که په اوس وخت کې په چا باندې قرض وي هغه دا عذر ویلی شي چې زه جهاد ته نه ځم ځکه چې په ما باندې قرض دی؟

ځواب : ددې پوښتنې په ځواب کې زموږ مفتیان حضرات او علماء کرام σ فرمايي :

که چېرته جهاد فرض کفايي وو چې په کوم اسلامي ملک باندې کفارو تعرض نه وو کړی او یو څوک یوازې د ثواب لپاره جهاد ته ځي نو هغه به د خپل قرضدار نه اجازه واخلي او ورته به ووايي : ما چې لتا نه دومره مبلغ قرض کړی دی اوس غواړم چې جهاد ته لاړ شم اوس زما سره پیسې نشته چې ستا قرض پرې خلاص کړم ستا اجازه ده ؟ نو علماء σ فرمايي که هغه ورته اجازه وکوله نو بیا تلی شي ... او کنه نو نـــــــــــــــه ..

خو کله چې جهاد فرض عین شي بیا ورته د اجازې ضرورت نشته بغیر د اجازې نه هم تلی شي د قرض په اړه د خپلوانو ته وصیت وکوي که دی شهید شو هغه یې دې ورته اداء کړي .

پوښتنه : نو کله چې په یو مجاهد باندې قرض وي هغه په جهاد کې شهید شي نو آیا ددې قرض په بدل کې به ده ته عذاب ورکول کیږي؟

ځواب : علماء σ پدې ځای کې فرمايي : کله چې يو بنده قرض اخلي پدې وخت کې دده دوه حالتونه وي :

١. قرض اخلي او په زړه کې يې دا وي چې دی به دا قرض اداء کوي نو الله β به يې دده له لوري نه اداء کړي

٢. ده له چا نه داسې مال اخيستی وو چې د اخيستنې په وخت کې يې هم د ورکړې اراده نه وه نو پدې به يې الله β نيسي .

حضرت ابي هريره I فرمايي : رسول الله γ فرمايل :
من أخذ أموال الناس يريد أداءها أدَّى الله عنه، ومن أخذ يريد إتلافها أتلفه الله.[1]

ترجمه : چا چې د خلقو نه مالونه واخيستل اراده يې وه چې بېرته يې اداء کړي الله β به يې ورڅخه اداء کړي او چا چې مال د اتلاف (هلاکولو) په نيت واخيستو الله β به يې تلف کړي .

پاتې شوه د هغه حقوقو خبره چې د بنده او د الله β په مينځ کې وي لکه کله مونځ ترينه قضا شوی وي ، روژه ورڅخه خرابه شوې وي او داسې نور ترڅو يې چې په زړه کې ددې فرائضو اهانت او سپکاوی نه وي ، ترڅو چې لدې فرائضو څخه منکر نه وي نو چې په نقصان سره ترې پاتې شوې وي اميد دی چې هغه به الله β شهيد ته ټول ور وبښي .

پدې اړه يوسف القرضاوي حفظه الله لږ تفصيل کړی دی هغه وايي :

---

[1] رواه البخاري

هغه ګناهونه چې شهید کړي وي په دوه ډوله دي .

الف : هغه ګناهونه چې په مالي حقونو پورې يې تعلق وي لکه غصب ، غلا ، قرضونه امانتونه او داسې نور نو شهادت دا نشي ختمولی ځکه دا د خلقو حقونه دي لکه رسول الله γ چې فرمايي : **يغفر للشهيد كل ذنب إلا الدين .**[1] (شهید ته ټول ګناهونه ښښل کيږي بغير د قرض نه) او په همدې ډول پورته ياد کړل شوي حديث کې هم رسول الله γ وفرمايل چې ماته جبريل ν وويل : چې الله β د قرض نه بغير نور ټول ګناهونه شهيد ته ښښي .

ب : بل هغه ډول ګناهونه دي چې د بنده او د الله β په مينځ کې دي لکه د مانځه پاتې کېدل ، د روژې خرابېدل يا ماتېدل او داسې نور ترڅو چې ددې فرائضو په مقابل کې په زړه کې سپکاوی نه وي نو دلائل پدې شته چې الله β يې شهيد ته ښښي او لدې ګناهونو څخه يې پاکوي او پدې اړه متعدد احاديث موجود دي چې د اولې دفې وينې سره ورته دا ګناهونه بښکل کيږي خو چې کله د فرائضو په اړه په زړه کې سپکاوی وي او يا په پټه ورڅخه انکار وي نو بيا دا ګناهونه د نفاق مرتبې ته ورسيږي بيا يې شهادت د لرې کېدلو سبب نه کيږي .

پدې اړه د رسول الله γ يو حديث دی هغه فرمايي : **الْقَتْلَى ثَلاثَةٌ ، رَجُلٌ مُؤْمِنٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ وَقَاتَلهمَ حَتَّى يُقْتَلَ ، فَذَلِكَ الشَّهِيدُ الْمُمْتَحَنُ فِي جَنَّةِ اللَّهِ تَحْتَ عَرْشِهِ لا يَفْضُلُهُ النَّبِيُّونَ إِلا بِدَرَجَةِ النُّبُوَّةِ ، وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ فَرَّقَ عَلَى نَفْسِهِ مِنَ الذُّنُوبِ وَالْخَطَايَا ، جَاهَدَ بِمَالِهِ وَنَفْسِهِ فِي**

---

[1] روا مسلم

سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ وَقَاتَلَ حَتَّى يُقْتَلَ فَتِلْكَ مَخْمَصَةٌ تَحُطُّ مِنْ ذُنُوبِهِ وَخَطَايَاهُ إِنَّ السَّيْفَ مَحَّاءُ الْخَطَايَا ، وَأُدْخِلَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَ ، فَإِنَّ لَهَا ثَمَانِيَةَ أَبْوَابٍ ، وَلِجَهَنَّمَ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ ، وَبَعْضُهَا أَفْضَلُ مِنْ بَعْضٍ ، وَرَجُلٌ مُنَافِقٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ حَتَّى إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يُقْتَلَ ، فَإِنَّ ذَلِكَ فِي النَّارِ إِنَّ السَّيْفَ لا يَمْحُو النِّفَاقَ .[1]

ترجمه : (په جنګې کې چې د مسلمانانو له لوري) وژل کيږي هغه درې ډوله کسان دي يو هغه دى مؤمن سړى دى چې په خپل ځان او مال سره د الله β په لاره کې جهاد وکوي تردې چې له دښمن سره مخامخ شي او جنګ ورسره وکوي تردې چې ووژل شي بس دا هغه امتحان شوى شهيد دى په جنت کې به د الله β د عرش تر سيوري لاندې وي او انبياء π له دوى نه صرف د نبوت په يوه درجه باندې غوره دي .

بل هغه کس وي چې ګناهونه او خطاګانې يې کړې وي په خپل مال او ځان سره جهاد وکوي د الله β په لاره کې تردې چې له دښمن سره مخامخ شي او جنګ ورسره وکوي تردې چې ووژل شي نو هغه حالت دده ګناهونه او خطاګانې له ده نه لرې کوي بېشکه تورې دده ګناهونه ختم کړل او هغه به جنت ته ننوزي له هرې دروازې نه چې دده خوښه وي بيشکه د جنت آته دروازې دي او د دوزخ اوه دروازې دي او ځينې پکې له ځينې څخه غوره دي .

بل هغه منافق سړى دى چې په خپل مال او نفس سره يې جهاد وکولو تردې چې له دښمن سره مخامخ شو جنګ يې وکولو تردې چې ووژل شو بېشکه دا به په اور کې وي توره نفاق نشي ختمولى .

[1] شعب الايمان للبيهقي

يــو بــل لــوى عــالــم دكــتــور احــمــد الــشــربــاصــي حــفــظــه الله د جــامــعــة الازهــر اســتــاذ دى هــغــه پــدې اړه فــرمــايــي :

پــدې كــې شك نــشــتــه چــې د الله β پــه لاره كــې د خــپــل ځــان قــربــان كــول پــه ټــولــو هــغــه عــمــلــونــو كــې غــوره عــمــل دى چــې انــســان وربــانــدې الله β تــه ځــان نــېــږدې كــوي ځــكــه هــغــه څــوك چــې خــپــل ژونــد د الله β نــه زار كــړي هــغــه خــپــل ژونــد پــه الله β بــانــدې خــرڅ كــړو پــه ډېــر لــوى او غــوره قــېــمــت ســره چــې هــغــه د الله β رضــا او جــنــتــونــه دي او ددې قــربــانــي لــه امــلــه هــغــه چــاتــه چــې پــدې قــربــانــي كــې مــخــلــص وي د هــغــه خــطــاگــانــې او گــنــاهــونــه ورتــه بــښــي او مــوږ كــولــى شــو دا مــطــلــب پــه ســورة آل عــمــران كــې د الله β لــه قــول نــه را مــعــلــوم كــړو الله β هــلــتــه فــرمــايــي : **فالذينَ هاجَرُوا وأُخرِجُوا مِنْ دِيارِهِمْ وأُوذُوا فِي سَبيلِي، وقاتَلُوا وقُتِلُوا،لأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئاتِهِمْ، ولأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِها الأَنْهارُ، ثَوَابًا مِنْ عِنْدِ اللهِ، واللهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الثَّوابِ** [1]

تــرجــمــه : او هــغــه كــســان چــې هــجــرت كــړى دى دوى (لــه پــاره د ديــن) او ويــســتــلــى شــوي دي دوى لــه كــورونــو خــپــلــو (د الله پــه لاره كــې) او ضــرر رســولــى شــوى دوى تــه پــه لاره كــې او زمــا جــنــگــونــه ئــى كــړي دي (لــه كــفــارو ســره) او وژل شــوي دي (پــه غــزا كــې) نــو لــرې بــه كــړم هــرومــرو (خــامــخــا) لــه دوى نــه گــنــاهــونــه د دوى او خــامــخــا بــه داخــل كــړم دوى پــه جــنــتــونــو كــې چــې بــهــيــږى لــه لانــدې د (مــانــيــو او ونــو د) هــغــو ويــالــې، (جــزا د نــيــكــيــو بــه ور كــړو مــوږ دوى تــه) پــه جــزا ور كــولــو (نــيــكــو) ســره لــه نــزده د الله β او الله β پــه نــزد د ده دى ښــه ثــواب (نــېــكــه جــزا).

[1] ســورة آل عــمــران آيــة ١٩٥

وروسته ددې چې د پورتني آيت ترجمه مو ولوسته راځئ په اوسني شرائطو کې په موجوده وخت (۲۰۱٤ ميلادي کال) کې ددې آيت مصداق وګورو چې دا کوم خلک دي او اوس دا وخت داسې وخت دی چې موږ يې په سترګو وينو او يو څه وخت وروسته به موږ ټول مړه کيږو او بيا به وروسته راتلونکی نسل زموږ قصې په تاريخونو کې داسې لولي لکه موږ چې د مخکنيو خلقو تاريخونه لولو نو هغوی به هم پدې اړه فکر وکوي الله β فرمايي **فَالَّذِينَ هَاجَرُوا** (هغه کسان چې هجرت يې کړی دی) تاسې که په موجوده وخت کې فکر وکوئ اوس هجرت چا کړی دی؟ کومو خلقو کړی دی؟ د کومو خلقو اوس هجرت ته ضرورت شوی دی؟ ستاسې په ذهن کې څوک دي هغه کسان چې د الله β د رضا لپاره هجرت ته اړ شوي دي؟ بيا چې الله β فرمايي : **وَأُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ** (او دوی له خپلو کورونو څخه ويستل شوي دي) په اوس موجوده وخت کې څوک له خپلو کورونو څخه ويستل شوي دي؟ څوک داسې دي چې يوازې د الله β د رضا په خاطر داسې انسانان شوي دي چې هغوی خپلو کورونو ته نشي ورتلی؟ څوک هغه کسان دي چې د دين دشمنان يې په طلب کې دي او لټون يې کوي که يې په خپل کور کې هم ګير کړي نو نه يې پريږدي؟ بيا الله β فرمايي **وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي** (زما په لاره کې ورته تکليف رسېدلی دی) په اوس وخت کې د الله β په لاره کې چا ته تکليف رسېدلی دی؟ چا ته ددې امله تکليف رسېدلی دی چې هغوی د الله β په لاره روان دي؟ بيا الله β فرمايي : **وَقَاتَلُوا** (او جنګ کوي) په اوس وخت کې ستاسې په ګمان د الله β په لاره کې جنګ څوک کوي؟ څوک د الله β د دين په خاطر جنګيږي؟ ددې ټول پوښتنو ځواب ته ضرورت نشته چې زه يې لوستونکي ته ووايم بلکه لوستونکی دې په خپله فکر وکوي او خپل سر د ګريوان ته ور ښکته کړي او خپل ديني معلومات د

سره و جنګوي او څواب د ورته پيدا کړي چې هرڅوک ددې پوښتنو په څواب کې راځي د هغوی لپاره الله β وعده کړېده چې ددوی ګناهونه به ورته بښي او داسې جنتونو ته به يې ننباسي چې لاندې ترېنه ويالې بهيږي دا د الله β له لوري دوی ته ثواب دی ... دا پوښتنې مې له لوستونکې نه څکه وکړې چې په اوس وخت کې هرڅوک مړ شي نو د هغه دوستان ورته شهيد وايي او دا آيتونه تول د هغه په حق کې تلاوت کوي او په هغه يې حمل کوي ..

په بل ځای کې الله β فرمايي : **يا أَيُّها الذِينَ آَمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذابٍ أَلِيمٍ، تُؤمِنونَ بِاللهِ ورَسولِهِ، وتُجاهِدونَ فِي سَبِيلِ اللهِ بِأَمْوالِكُمْ وأَنْفُسِكُمْ، ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ، يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنوبَكُمْ، ويُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِها الأَنْهارُ، ومَساكِنَ طَيِّبةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ، ذَلِكَ الفَوْزُ العَظِيمُ .** [1]

ترجمه : ای هغو کسانو چې ايمان ئې راوړی دی (يعنی ای مؤمنانو) آيا دلالت و کړم تاسې ته (دروښيم تاسې ته) په هسې تجارت سوداګري چې نجات درکوي خلاصوي تاسې له عذاب دردناک (پس دغه تجارت او سوداګري کوئ چې هغه دا ده) ښه ټينګ محکم مضبوط اوسئ په ايمان باندې چې لرئ ئې په الله β باندې او په رسول استاځي د دغه (الله β) او جهاد جنګ کوئ تاسی (ای مؤمنانو له دوښمنانو د الله سره) په لاره د الله β کې په اموالو خپلو سره او په نفسو خپلو سره (چې جنګ ته ئې وړاندې کوئ) دغه (ټينګ ايمان او مالی او جاني جهاد) خيربهتر دی تاسې ته (ای مؤمنانو له نورو دنيوی معاملاتو څخه) که چيرې يئ تاسې چې پوهيږی (په طريقې د حقيقي تجارت باندې پس

[1] سورة الصف آية ١٠ او ١٢

محکم ایمان راوړئ او پوره جهاد و کړئ نو) وبه بښي (الله β) تاسې ته (ای مؤمنانو په دنیا کې تير شوي) گناهونه د تاسې او داخل به کړي تاسې (ننه باسي به مو په داسې) جنتونو کې چې بهيږی له لاندې (د مانیو او ونو) د هغو (د پاکو شرابو او د شاتو او د شودو او د خوږو اوبو) ويالې او (داخل به مو کړي) په ځايونو ښائسته وو پاکيزه وو کې (چې جوړ شوي دي) په جنتونو د همېشه او سېدلو کې دغه (مغفرت او ادخال د جنت مؤمنانو ته) فوز عظيم دی.

بيا رسول الله γ پدې خبره تصريح کړېده چې الله β شهيد ته گناهونه بښي بغير د قرض څخه پدې کې رسول الله γ ټولو هغه کسانو ته نصيحت کړی دی چې دوی د الله β په لاره کې جهاد کوي او د شهادت مقام ته ور وړاندې کېدل غواړي هغوی د لدې يو شي نه ځان خلاص کړي نور به الله β ورته وبښي يا خو د دده په غاړه ټول قرضونه اداء کړي او يا د داسې چا ته پرې وصيت وکوي چې له ده څخه وروسته وي او هغه دده له شهادت وروسته دده قرضونه خلاص کړي .

شهادت د جنت لنده لاره

حضرت براء بن عازب I فرمايي رسول الله γ ته يو کس راغلو چې په وسپنه باندې پوښلی وو (د جنگ جامه يې په ځان وه) رسول الله γ ته يې وويل : **يا رسول الله أقاتل أو أسلم**؟ (يا رسول الله γ اسلام راوړم او که د اسلام لپاره جنگ وکوم؟) رسول الله γ ورته وويل "**أسلم ثم قاتل**"، (اول اسلام قبول کړه بيا جنگ وکوه) هغه کس اسلام قبول کړو او بيا جنگ ته وړاندې شو په همدې جنگ کې په شهادت ورسېدو

رسول الله γ د هغه په حق کې وویل : "عَمِلَ قليلاً وأُجِرَ كثيرًا" (لږ عمل ئې وکولو او ډېر ثواب ورکړل شو) .

یو بل حدیث دی حضرت جابر بن عبد الله I د خیبر د غزا د یوې صحنې قصه کوي او فرمایي :

كنا مع رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ في غزوة خيبر، فخرجت سرية فأخذوا إنسانا معه غنم يرعاها ، فجاؤا به إلى رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ، فكلمه النبي ـ صلى الله عليه وسلم ـ ما شاء الله أن يكلمه به، فقال له الرجل: إني قد آمنت بك وبما جئتَ به، فكيف بالغنم يا رسول الله؟! فإنها أمانة، وهي للناس الشاة والشاتان وأكثر من ذلك؟، قال: أحصب وجوهها ترجع إلى أهلها، فأخذ قبضة من حصباء أو تراب فرمى به وجوهها، فخرجت تشتد حتى دخلت كل شاة إلى أهلها، ثم تقدم إلى الصف فأصابه سهم فقتله، ولم يصل لله سجدة قَطْ.

قال رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ : أدخلوه الخباء فأدخل خباء رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ، حتى إذا فرغ رسول الله ـ صلى الله عليه وسلم ـ دخل عليه ثم خرج، فقال: لقد حَسُن إسلام صاحبكم، لقد دخلت عليه وإن عنده لزوجتين له من الحور العين.[1]

ترجمه : موږ له رسول الله γ سره په غزوة خیبر کې وو د مجاهدینو یوه چریکي ډله ووتله یو کس یې ونیولو چې میږې یې څرولې رسول الله γ ته یې راوستلو رسول الله γ ورسره څه خبرې وکولې څومره چې د الله β خوښه وه چې خبرې ورسره وکوي سړي

[1] رواه البيهقي في دلائل النبوة

ورته وويل : ما په تا او په هغه څه باندې ايمان راوړى دى چې تا راوړي دي خو زه ددې مېږو سره څه وكوم؟ دا زما سره امانت دي دا د خلقو دي د چا پكې يو ګډ او د چا پكې دوه او يا تردې زياد رسول الله γ (د معجزې په ډول) ورته وويل : مخونو ته يې خاورې ور وشينده دوى به تولې خپلو كورنو ته لاړې شي هغه كس يو موټى وړې شګې او يا خاوره را واخيسته د دوى مخونو ته يې وروويشته هغوى ډېره په سختي سره منډه كړه او هره يوه خپل كور ته لاړه بيا دا كس جنګي لمرۍ كرښې ته وړاندې شو يو غيشى وربانديې ولګېد او په شهادت ورسېدو او تر خپل شهادت وړاندې يې الله β ته يوه سجده مونځ هم نه وو كړى .

رسول الله γ وفرمايل : دا خيمې ته ننباسئ د رسول الله γ خيمې ته ننه ايستل شو كله چې رسول الله γ لبږ فارغ شو خيمې ته ورغلو بېرته ترېنه راووتلو ويې فرمايل : ستاسې ددې ملګري اسلام ښه ګڼل شوى دى زه ورننوتلم ومې ليدل چې د هغه سره يې دوه بيبيانې وې د جنت له حورو څخه .

حضرت انس I د يو بل شهيد قصه كوي او فرمايي : أن رجلا أسود أتى النبي ـ صلى الله عليه وسلم ـ فقال : **يا رسول الله، إني رجل أسود، منتن الريح، قبيح الوجه، لا مال لي، فإن أنا قاتلت هؤلاء حتى أُقْتل فأين أنا؟، قال : في الجنة .. فقاتل حتى قُتِل، فأتاه النبي ـ صلى الله عليه وسلم ـ فقال : قد بيض الله وجهك، وطيب ريحك، وأكثر مالك، وقال ـ لهذا أو لغيره ـ : لقد رأيت زوجته من الحور العين نازعته جبة له من صوف تدخل بينه وبين جبت.** [1]

[1] رواه الحاكم

ترجمه : رسول الله γ ته يو تور كس راغلو رسول الله γ ته يې وويل : يا رسول الله γ زه يو تور ، بد بويه ، بد شكله سړى يم مال نه لرم كه چېرته زه ددې كفارو سره جنګ وكوم زه به چېرته وم؟
رسول الله γ ورته وويل : په جنت كې هغه كس جنګ وكولو تردې چې په شهادت ورسېدو رسول الله γ ورته راغلو ورته يې وويل : الله β ستا مخ سپين كړو ، ستا بوى يې ښكلى كړو ، او ستا مال يې ډېر كړو او ددې كه د كوم يو بل په اړه يې وويل : په تحقيق سره ما دهغه بي بي له حور عين څخه وليده چې دده له چپنې (چې دده په ځان كې وه) سره يې ضد وكولو او هغه يې دده له ځان څخه لرې كړه دده او دده د چپنې په مينځ كې ننوتله .

او بيا هغه **شهيد** چې ترشهادت وړاندې لوى عالم وي ، تقوى دار انسان وي ، د قرآن كريم قاري او حافظ وي د هغه ټولو نېكو اعمالو بدل به په خپل ځاى وركول كيږي د الله β په حضور كې يوه ذره خير هم نه وركيږي او هر چا ته به د خپلو عملونو بدل وركول كيږي هلته هرڅه په حساب دي ددې امله خو **شهيدان** هم په خپل مينځ كې بيا په مختلفو مرتبو تقسيم كيږي.

د **شهيد** وينه الله β ته محبوبه ده

الله β ته هغه وينه ډېره محبوبه ده چې له **شهيد** نه توئيږي ، د الله β د **شهيد** وينه خوښيږي ، د الله β د شهادت په وخت كې بهېدلې وينه خوښيږي او د الله β خوښيږي چې د هغه په لاره كې د مينې او اخلاص سره وينه تويه شي او هغه وينه چې پدې لاره كې تويه شي الله β د هغه قدر كوي د حضرت ابي امامة

I نه روايت دى هغه فرمايي رسول الله γ فرمايل : **لَيْسَ شَيْءٌ أَحَب إِلَى اللهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ، وَأَثَرَيْنِ: قَطْرَةٌ مِنْ دُمُوعٍ فِي خَشْيَةِ اللهِ وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَمَّا الأَثَرَانِ: فَأَثَرٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَثَرٌ فِي فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللهِ** . [1]

ترجمه : الله β ته له دوو څاڅکيو او دوو اثرونو څخه غوره بل شى نشته يو هغه د اوښکې څاڅکى چې د الله β له وېرې څخه توئيېږي او بل د هغه وينې څاڅکى چې په جهاد کې توئيېږي او اثرونه يو هغه اثر دى د الله β په لاره کې (لکه د پښې د قدم اثر ، ګرد ، د الله β په لاره کې زخمي کېدل او داسې نور) او بل اثر دى چې د الله β د کوم فرض د اداء کولو له امله پاتې شي (لکه په يخني کې د اوداسه له امله پښې چاودې کېدل ، په ګرمه زمکه باندې تندى سوزېدل او اثر پرې پاتې کېدل ، د اوداسه له امله لاس او پښې لندېدل او داسې نور) دا څلور واړه شيان الله β ته ډېر ګران دي .

پدې حديث کې علماء کرام σ پوهيږي چې کله رسول الله γ فرمايل : ليس شيءٌ دا شئ لفظ نکره دى مخکې ترينه ليس نفې واقع شوېده او په عربي ژبه کې قانون دى چې کله نکره په سياق د نفې کې راشي نو عموم فايده کوي نو د رسول الله γ د حديث مطلب دادى چې هېڅ شى هم داسې نشته چې اللهβ ته لدې ښکته ياد کړل شويو څلورو شيانو څخه ګران وي نو په پورتني حديث کې رسول الله γ وويل : چې هغه وينه چې له **شهيد** څخه بهيږي او يا هغه وينه چې له هغه زخم څخه بهيږي چې د الله β په

---

[1] **رواه الترمذي**

لاره کې چا ته رسېدلی وي دا په ټولو شیانو کې غوره او الله β ته ډېر ګران شی دی نو په حدیث کې رسول الله γ دا خبره هم ښکاره کړه چې د الله β خوښیږي چې ستا وینه د الله β په لاره کې تویې شي اوس که ته هم دا خوښ کړې نو الله β به تاته په بدل کې جنتونه درکوي اوس د هر چا خپله خوښه چې د الله β د رضا لپاره خپله وینه تویېدلو ته ورکوي او که بخیلي کوي ... د الله β ورته څه ضرورت نشته بلکه د هر انسان ورته ضرورت دی چې خپله وینه د الله β په لاره کې قرباني کړي په همدې ډول د الله β په لاره کې که انسان مالي قرباني کوي نو دا هم د الله β ضرورت نه دی د همدې بنده ضرورت دی او که څوک یې ساتي هغه د وساتي الله β په قرآن کریم کې فیصله کړېده او فرمایلي یې دي : **هَا أَنْتُمْ هَؤُلَاءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنْكُمْ مَنْ يَبْخَلُ ۖ وَمَنْ يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَفْسِهِ ۚ وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ ۚ وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ .** [1]

ترجمه : واوری خبردار شی تاسې چی ئی ای دغو کسانو چی بللی شوی ئې لپاره د دې چې نفقه کړي مال ولګوي په لیاره دالله βکې (په هغو طریقو سره چی فرض کړی ئې دی په تاسې لکه زکوة او جهاد) پس ځینې له تاسو هغه دي چې بخل کوي (نه لګوي مال) او هغه څوک چې بخل کوي مال نه لګوي نو بېشکه چې بخل کوي خپل ځان ته (چې محروموي ئې له ثوابه) او الله β غنی بی پروا دی (له نفقې د تاسې او له هر څیزه) او تاسې فقیران محتاجان ئی (الله β ته) او که وګرځیدی تاسې (له ایمان او سخا نه نو اللهβ) به بدل راولي یو قوم بل بې له

[1] سورة محمد آية ٣٨

تاسې بیا به نه وي هغوی پشان د تاسې (ګرځېدونکي له احکامو د الله β بلکه فرمان بردار به وي).

او د اسلام د مبارک دین لپاره چې څوک هرڅومره قرباني ورکوي ددې فایدې ته همدا بنده ضرورت لري الله β هېڅ شی ته ضرورت نلري او اللهβ په قرآن کریم کې موږ ته په ښکاره سره ویلي دي چې دا جهاد تاسې د خپل ځان لپاره کوئ الله β فرمایي :
وَمَنْ جَاهَدَ فَإِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ .[1]

ترجمه : او هر څوک چې جهاد کوی (له کفارو یا له نفس خپل سره) پس بېشکه هم دا خبره ده چې جهاد کوي دپاره (د نفعې) د نفس خپل بېشکه چې الله β خامخا غني بې پروا دی له ګردو (ټولو) عالمیانو څخه .

همدارنګه هغه کس چې د الله β په لاره کې زخمي شي او خپلې وینې ورته ښکاره کیږي چې توئیږي هغه د پدې پوه شي چې دا په ده باندې د الله β لوی احسان دی چې په ټولو خلقو کې یې دی ددې لپاره غوره کړو چې دده وینه د الله β په لاره کې تویې شوه او د الله β نه د په دې حالت او هر حالت کې رضا شي چې په ده باندې یې دومره لوی احسان وکولو چې دده وینه یې ددې قابله کړه چې د هغه په مبارکه لاره کې د هغه د رضا لپاره تویې شي او الله β ته د ووایي چې زما وینه چې ستا په لاره کې تویږي ستا خوښیږي نو دومره یې تویې کړه چې څومره زما په بدن کې وي ...

شهید د درد احساس نه کوي

[1] سورة العنکبوت آیة ٦

موړ ته ډېره مشکله ښکاره کيږي چې يو انسان په مرمى لګيږي او د هغه نه وينه بهيږي او په شهادت رسيږي دا دومره درد او تکليف به وي لکن رسول اللهγ هغه ذات چې کله يې هم دروا غ نه دي ويلي او د هغه هره خبره د هغه خپله نه بلکه هغه وحى وه چې ده ته به کېده فرمايلي دي چې شهيد د درد احساس صرف دومره کوي لکه په ګوتو چې څوک يو انسان وچيچي .. د حضرت ابي هريره I نه روايت دى هغه فرمايي رسول الله γ فرمايل :

مَا يَجِدُ الشَّهِيدُ مِنْ مَسِّ الْقَتْلِ إِلَّا كَمَا يَجِدُ أُحدكُمْ مِنْ مَسِّ الْقَرْصَةِ. [1]

ترجمه : شهيد د مرګ درد دومره محسوس کوي لکه په تاسې کې چې څوک په ګوتو د چيچ درد محسوس کوي .

رسول الله γ پخپله وويل چې شهيد د مرګ له درد څخه دومره محسوس کوي لکه څوک چې بل څوک په ګوتو سره وچيچي هغه چې څومره زرور وي نو څومره درد به وي؟ رسول الله γ زموږ پيغمبر دى او د هغه هره خبره رښتيا ده او زموږ ورباندې يقين دى او موږ هم پدې يقين کوو چې شهيد تردې زيات د درد احساس نه کوي او په تجربه سره هم ثابته ده چې اکثر هغه کسان چې الله β ورته په خپله لاره کې د شهادت لوړه مرتبه ورکوي د شهادت په وخت کې يې له خولې د درد فرياد نه راوزي بلکه په مبارکو شونډو يې يو ډول مسکا وي چې هغه يوه مسکا د هغه د ټول حالت تعبير او ترجماني کوي او دده تبسم موږ نشو تعبير کولى چې د څه له امله وي رسول الله γ فرمايلي دي لکه مخکې په يو حديث کې هم تېر شول چې شهيد د شهادت په وخت کې

[1] رواه الترمذي و النسائي و غيرهما

په جنت کې خپل ځای ويني په بل حديث کې دي چې شهيد د شهادت په وخت کې د حورو له جُملې څخه خپله بي بي ويني او پدې وخت کې به شهيد نور هم ډېر څه ويني چې زموږ سترګې د هغې شيانو له ليدلو څخه عاجزې دي ځکه يې په شونډو باندې داسې مسکا او تبسم راځي .

د ځينې شهيدانو بدنونه نه خاورې کيږي

په شهيدانو کې ځينې داسې بختوران شهيدان هم وي چې زمکه د هغه بدن نه خاوري کوي او جوړ يې ساتي سره ددې چې دا حکم د ټولو شهيدانو په حق کې نه دی او تر شهيدانو پورې خاص هم نه دی بلکه انبياء π ټول داسې دي چې د هغوی جسدونه نه خاورې کيږي او د هغوی په اړه حديث دی چې رسول الله γ فرمايلي دي چې الله β په زمکه باندې د انبياوو د جسدونو خوړل حرام کړي دي نو د ځينو شهيدانو جسدونه به زمکه خوري لکن داسې شهيدان هم وي چې هغوی دومره بختور وي چې زمکه د هغوی اجساد نه خوري پدې اړه مختلفې واقعې زما ذهن ته راځي چې خلقو په سترګو ليدلي دي چې څو کاله وروسته يو شهيد را ويستل کيږي او په هغه حالت کې وي په کوم حالت کې چې هغه دفن کړل شوی وي حضرت جابر بن حرام I هغه کس وو چې پلار يې د اُحد په غزوة کې په شهادت ورسېدو قصه يې اوږده ده خو حضرت جابر I فرمايي : د اُحد په ورځ حالت سخت وو نو موږ هغه له يو بل کس سره په يو ځای دفن کړو يو څه وخت وروسته زما په زړه کې را تاو شوه چې دا ښه خبره نه ده چې زما شهيد پلار له بل چا سره په يو ځای دفن دی ولې هغه ته زه بېل قبر جوړ نه کړم نو د همدې امله مې شپږ مياشتې وروسته له هغه ځای نه را وويستو په

کوم ځای کې مو چې خښ کړی وو چې ومې لیدلو هغه د ډېر کم تغیر سره نور داسې ښکارېدو لکه په کومه ورځ مو چې خښ کړی وو .[1]

همدارنګه په بل حدیث کې همدا مبارک I فرمایي : په کوم ځای کې چې د اُحد شهیدان دفن کړل شوي وو د اوبو د تېرولو له امله او یا د سیلاب اوبو ته د لارې ورکولو له امله هلته د حضرت معاویة I په وخت کې د څه کار کولو ضرورت شو چې هلته د دفن کړلو شویو د اُحد د ځینې شهیدانو له هغه ځای نه د ویستلو او په بل ځای کې د خښولو ضرورت شو موږ چې هغه شهیدان را لوخ کړل هغوی بالکل تازه وو تردې چې کولنګ د یو شهید د پښې ګوتې ته ور ورسېدو له هغه نه وینه روانه شوه (په یو روایت کې دا د حضرت سید الشهداء حمزه I ګوته وه) پدې وخت کې حضرت ابو سعید الخدري I وویل : ددینه وروسته به هېڅ منکر کونکی انکار نه کوي (د شهیدانو د دومره ښکاره کرامت د لیدلو نه وروسته به څوک انکار نه کوي) .[2]

مخکې بیا حضرت جابر I فرمایي په همدې واقعه کې : **فرأيت أبي في حفرته كأنه نائم، وما تغير من حاله قليل ولا كثير** (بیا ما خپل پلار په هغه خپل قبر کې ولیدو داسې ښکاره کېدو لکه چې ویده وي او د هغه حال نه لږ بدل شوی وو نه زیات .

پدې وخت کې چا ترې پوښتنه وکوله : د پلار کفن د ولیدو؟

---

[1] **أخرجه البخاري، كتاب الجنائز، باب هل يخرج الميت من القبر واللحد لعلة؟: رقم 1351**

[2] **أخرجه ابن المبارك في "الجهاد"، ص112**

حضرت جابر I ورته وویل : **إنما كفن في نمرةد خمر بها وجهه، وجعل على رجليه الحرمل، فوجدنا النمرة كما هي، والحرمل على رجليه على هيئته، وبين ذلك ست وأربعون سنة**[1] .

ترجمه : د هغه کفن د نمره (یو ډول ټوټې) وو چې د هغه مبارک مخ مو پکې پټ کړی وو او په پښو باندې مو حرمل (یو ډول ګیاه) ور اچولې وه موږ ولیدل چې هغه د کفن ټوټه هم هماغه شان وه او حرمل هم هماغه شان وو او پدې مینځ کې (د هغوی د دفن او د اوس را ښکاره کېدلو کې) ٤٦ شپږ څلویښت کاله تېر شوي وو .

په بل روایت کې د حضرت قیس بن ابي حازم I نه روایت دی هغه فرمایي د حضرت طلحة بن عبید الله I ځینې خپلوانو هغه په خوب کې ولیدو چې ورته ویل یې تاسې زه په داسې ځای کې دفن کړی یم چې دلته اوبه ماته ضرر را رسوي ما ترینه لرې کړئ دوی هغه قبر را لوڅ کړو چې وئې لیدو هغه هماغسې تازه پروت وو هېڅ شی یې نه وو بدل شوي صرف د ږیرې مبارکې وېښته یې یو څه متغیر شوي وو (او پدې وخت کې یې له دفن څخه دیرش کاله تېر شوي وو)[2] .

د شهید لپاره په جنت کې محل وي

د شهید لپاره الله β په جنت کې غوره محل جوړوي هغه دده لپاره دده د قرباني ډالۍ وي له حضرت

[1] أخرجه ابن سعد في الطبقات: 562/3

[2] **رواه عبد الرازق: 277/5**

سمرة بن جندب I څخه روايت دی هغه فرمايي رسول الله γ فرمايل : **رأيت الليلة رجلين أتياني، فصعدا بي الشجرة، وأدخلاني دارًا هي أحسن وأفضل، لم أر قط أحسن منها، قال: أما هذه الدار فدار الشهداء .** [1]

ترجمه : نن شپه مې وليدل چې دوه سړي ماته راغلل زه يې يوې ونې ته وخېژولم او هلته يې يو کور ته ننه ايستم چې ډېر ښه او ډېر غوره وو تر دې وړاندې ما دومره ښکلی کور بالکل نه وو ليدلی بيا يې راته وويل دا کور د شهيدانو کور دی .

شهيد په قبر کې خوشحال وي

د قبر ژوند چې هرڅو اوږد وي او چې هرڅو لپاسه تاته داسې ښکاره کيږي چې دلته به موجود انسان ډېر تنګ وي ځکه صرف دوه لويشتې ځای دی او پدې کې يو انسان پداسې توګه کېښودل شوی دی چې بېرته د راوتلو هېڅ لاره نه لري لکن ددې سره سره شهيد دلته نه وي په تنګ څرنګه چې شهيد ځان د الله β له دين نه قربان کړو په همدې ډول الله β له دلته شهيد ته خفګان نه ورکوي الله β له خپله فضله ورته د خوشحالي اسباب ورکوي او شهيد دلته خوشحال ساتي او الله β د دوی په اړه موږ ته فرمايي : وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتاً بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ * فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ [2] .

---

[1] أخرجه البخاري، كتاب الجهاد، باب درجات المجاهدين في سبيل الله، رقم 2791

[2] سورة آل عمران آية ١٦٩ او ١٧٠

ترجمه : او له سره ګمان مه کوئ ! (ای محمده یا ای سامعه !) پر هغو کسانو چې وژل شوي دي دوی په لاره د الله (جهاد او طاعت) کې د مړو (مړه نه دي)، بلکه ژوندي دي په نزد د رب خپل رزق ورته ورکولی شي (له جنتي ماکولاتو او مشروباتو څخه) په دې حال کې چې خوشاله دي دوی په هغه شي باندې چې ور کړي دي دوی ته الله β له فضله خپله او خوشالیږی دوی (په راتلو د) هغو کسانو باندې چې لا نه دي رسیدلی دوی تر هغو پورې وروسته د دوی نه په دې شان سره چې نه وي (هیڅ قسم) ویره په دوی باندې او نه به دوی (هیچرې) غمجن کیږي (د ثواب په نقصان سره).

تاسې ولیدل چې الله β په دوهم آیت کې وویل : دوی خوشحال دي ...

د شهیدانو روحونه په جنت کې ګرځي

هغه کسان چې شهیدان شي د هغوی په اړه الله β فرمایي چې هغوی ژوندي دي هغوی ته روزي ورکوله کیږي لکن تاسې د هغه ژوند په اړه څه معلومات نه لرئ او تاسې نه پوهېږئ حضرت مسروق I فرمایي ما له حضرت عبد الله ابن مسعود I نه د هغوی د ژوند په اړه پوښتنه وکوله هغه مبارک راته وویل موږ هم له رسول الله γ نه پوښتنه وکوله هغهγ راته وویل : أَروَاحهُمْ فِي جوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ. لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ ثُمَّ تَأْوِي إِلَىٰ تِلْكَ الْقَنَادِيلِ. فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمُ اطِّلاَعَةً فَقَالَ: هَلْ تَشْتَهُونَ شَيْئاً؟ قَالُوا: أَيَّ شَيْءٍ نَشْتَهِي؟ وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا فَفَعَلَ ذَلِكَ بِهِمْ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ. فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ

يُسْأَلُوا، قَالُوا: يَا رَبِّ نُرِيدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِي أَجْسَادِنَا حَتَّىٰ نُقْتَلَ فِي سَبِيلِكَ مَرَّةً أُخْرَىٰ. فَلَمَّا رَأَىٰ أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا .[1]

ترجمه : د هغوی روحونه په شنو مارغانو کې وي د دوی لپاره چراغونه وي چې په عرش پورې را ځړیږي دوی په هغې کې وي او چېرته یې چې خوښه شي په جنت کې الوزي بیا بېرته هغه خپل قندیل ته را شي بیا الله β ورته په یو ډول سره وګوري او ورته ووایي کوم شي ته مو زړه کیږي؟ دوی ورته ووایي څه شي ته به مو زړه وشي په جنت کې خوښې یو چې چېرته وغواړو هلته الوزو بیا به الله β دری ځله ورته همدا ووایي (کوم شي ته مو زړه کیږي؟) بیا چې دوی پوه شي چې خامخا اوس باید موږ څه شی وغواړو نو ووایي ای الله β موږ غواړو چې زموږ ارواح بېرته زموږ په بدنونو کې واچول شي او موږ بېرته ژوندي شوي او بیا موږ ستا په لاره کې ووژل شو یو ځل بیا.. بیا چې ددوی څه حاجت نه وي نو پرېښودل شي ...

په پورتني حدیث کې رسول الله γ خبر ورکړو چې د شهیدانو ارواح په شنو مارغانو کې کېښودل شوي دي او هغه په جنت کې ګرځي ..

په بل حدیث کې له حضرت عبد الله بن عباس I څخه نقل شوي دي هغه فرمایي رسول الله γ فرمایل : **لَمَّا أُصِيبَ إِخْوَانُكُمْ بِأُحد جَعَلَ اللَّهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ تَرِدُ أَنْهَارَ الْجَنَّةِ تَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا وَتَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مِنْ ذَهَبٍ مُعَلَّقَةٍ فِي ظِلِّ الْعَرْشِ فَلَمَّا وَجَدُوا طِيبَ مَأْكَلِهِمْ وَمَشْرَبِهِمْ وَمَقِيلِهِمْ قَالُوا مَنْ يُبَلِّغُ إِخْوَانَنَا عَنَّا أَنَّا أَحْيَاءٌ فِي الْجَنَّةِ نُرْزَقُ لِئَلا يَزْهَدُوا فِي**

---

[1] رواه مسلم

الْجِهَادِ وَلايَنْكُلُوا عِنْدَ الْحَرْبِ فَقَالَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ أَنَا أُبَلِّغُهُمْ عَنْكُمْ قَالَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ وَلا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ إِلَى آخِرِ الآيَةِ". [1]

ترجمه : کله چې په اُحد کې ستاسې ورونه شهیدان شول الله β د هغوی ارواح په شنو مارغانو کې کېښودل هغوی د جنت نهرونو ته راتلل او د جنت له مېوو څخه یې خوراک کاوه او بیا هغه قندیلونو ته راتلل چې د سرو زرو نه جوړ دي او د عرش تر سیوري لاندې را ځړېدلې دي کله چې دوی ولیدل چې دوی ته څومره ښه خوراک او ښه څښاک ورکول کیږي او څومره ښه د ارام ځای ورکول کیږي نو یې وویل : څوک به داسې وي چې زموږ ورونو ته دا خبره ورسوي چې موږ ژوندي یو په جنت کې یو موږ ته روزي راکول کیږي ددې لپاره چې هغوی په جهاد کې سستیا ونه کوي بیا الله β ورته وویل : زه به ستاسې له لوري هغوی ته دا ووایم نو بیا آیت نازل شوو وَلا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي ... تر آخره پورې مخکې تېر شوی دی ..

په پورتنیو احادیثو کې رسول الله γ د شهید لپاره ډېره لوړه مرتبه یاده کړېده چې د هغوی ارواح یې په شنو مارغانو کې اچولي او بل دا چې هغه مارغان د عرش تر سیوري لاندې په قنادیلو کې ژوند کوي او بل دا چې هغه په جنت کې ګرځې چېرته یې چې خوښه شي هلته ځي بله دا چې هغوی د جنت له مېوو څخه خوراکونه کوي او له نهرونو څخه یې څښاک کوي نو پدې ټولو خبرو سره شهید خاص کړل شوی دی او داسې په یو ځای کې د عامو مخلصو مسلمانانو د ارواحو په اړه هم ویل شوي دي چې هغه به تر قیامت پورې په جنت کې په مارغانو کې وي لکه حضرت عبد الرحمن بن کعب بن ابي مالک ρ یې د خپل پلار نه روایت کوي هغه

---

[1] رواه أبو داود، الحدیث الرقم 2158

فرمايي رسول اللهγ فرمايل : **إنما نسمة المؤمن طير يعلق في شجر الجنَّة حتى يُرجعه الله إلى جسده يوم يُبعث .** [1]

ترجمه : بېشكه د مؤمن روح مارغه وي چې دجنت په ونه كې آويزان وي تردې چې الله β يې د قيامت په ورځ بېرته جسد ته ور وګرځوي .

خو ددې ارواحو لپاره هغه امتيازونه او خصوصيات نه دي ياد كړل شوي كوم چې د شهيد د روح لپاره ياد كړل شوي دي .

شهيد د قيامت د شپېلۍ سره نه بې هوښه كيږي

الله β په قرآن كريم كې اكثر موږ ته د قيامت د ورځې د سختو لحظو په اړه آيتونه ددې لپاره را لېږلې دي چې بنده پدې اړه فكر وكوي چې لدې لحظو سره زما مخامخ كېدل دي او ځان له مخكې نه ورته تيار كړي او د تياري لپاره وخت همدا عمر او ژوند دى چې كله دا له انسان څخه واخيستل شي بيا به د تياري لپاره هېڅ وخت نه وركول كيږي نو الله β د يوې صحنې په اړه فرمايي : **وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاء اللَّهُ (68) .** [2]

ترجمه : او پو كل به و كړل شى په صور (شپېلۍ) كې پس بېخوده مړه به شى هر هغه چې په آسمانونو كې دى او هر چې په ځمكه كې وي هغه څوك چې اراده وفرمائي الله β (د نه بېخوده كېدلو د هغه) .

---

[1] رواه النسائي و ابن ماجة
[2] سورة الزمر آية ٦٨

حضرت ابو هريره I نه روايت د ى هغه له رسول الله γ څخه روايت كوي چې هغه له جبريل ν څخه پوښتنه وكوله چې په پورتني آيت كې اللهβ فرمايي چې كله په شپيلى كې پوكى وكول شي نو په زمكه او اسمانونو كې چې هرشى دي ټول به بې هوښه شي بغير د هغه څه كسانو څخه چې د الله β خوښه وي (چې هغه د بې هوښه نه شي) هغه څوك دي چې نه به بې هوښه كيږي؟ رسول الله γ فرمايي بيا جبريل ν ماته وويل : هغه شهيدان دي .. شهيدان هغه كسان دي چې د قيامت په ورځ د شپېلى د سخت هيبتناك اواز سره نه بې هوښه كيږي .[1]

شهيد به د قيامت په ورځ له تكليف نه خلاص وي

د قيامت په ورځ چې هرڅوك په خپل مصيبت او غم او وېره كې وي په هغه ورځ به شهيد له تكليف نه خلاص وي په قيامت كې به له خلقو نه ډېرې زياتې خولې څي له يوې خوا به ګرمه ورځ وي او له بلې خوا به په هر چا باندې هيبت او وېره خپره شوې وي هېڅوك به نه پوهېږي چې اوس به دده په اړه اللهβ څه فيصله كوي چې دى به جنت او كه الله β مه كړه دوزخ ته به څي حضرت عبد الله بن عمر I فرمايي : رسول الله γ فرمايل : **يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ حَتَّى يَغِيبَ أُحدهُمْ فِي رَشْحِهِ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ** .[2]

ترجمه : كله چې خلق رب العلمين ته ودريږي تردې چې يو كس به په خپلو خولو كې د غوږونو تر نيمايي پورې ډوب وي نو چې په داسې تكليف

---

1 **اخرجه الترمذي و ابن ماجة**
2 **مسند عبد الله ابن مبارك**

کې خلق ولاړ وي شهيد چې کله راځي له هغه نه به خوله نه بهيږي ، هغه به په خپله خوله کې نه وي ډوب بلکه د هغه په بدن باندې به هغه وينه وي چې دده د شهادت په وخت کې دده له بدن څخه بهېدلې ده رسول الله γ فرمايي : **وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُكْلَمُ أُحد فِي سَبِيلِ اللَّهِ - وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ - إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجُرْحُهُ يَثْعَبُ دَمًا ، اللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ ، وَالرِّيحُ رِيحُ مِسْكٍ .** [1]

ترجمه : زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی يو څوک د الله β په لاره کې نه زخمي کيږي او الله β ښه خبر دی چې څوک د هغه په لاره کې زخمي کيږي مګر د قيامت په ورځ به راشي او له زخم نه به يې وينه بهيږي رنګ به يې رنګ د وينې وي او بوی به يې د مسکو بوی وي.

سره ددې چې رسول الله γ دا خبره د قيامت د ورځې په اړه کړېده چې هلته به د شهيد له وينې څخه د مسکو بوی ځي لکه تجربې ثابته کړېده او خلقو ليدلي چې د کرامت په ډول د ځينې شهيدانو د وينې څخه په دنيا کې د مسکو بوی ځي دا خو لا پريږده چې تجربې موږ ته دا هم را ښودلې ده چې کوم شی د شهيد له بدن سره ولګيږي تر ډېره وخته پورې د هغه نه د مسکو نه ښکلی بوی ځي دا يو کرامت دی چې الله β يې ځينې شهيدانو ته تر قيامت وړاندې په دنيا کې ورکوي .

په قيامت کې به شهيد شفاعت کوي

[1] متفق عليه

د قيامت په ورځ به داسې حالت وي چې هرځوک به له بل چا څخه تښتي او هرڅوک به د خپل ځان په غم کې وي دا په دنيا کې چې څومره مينه او محبت دى دا به په قيامت کې بيا له هرچا څخه پاتې وي الله β د هغه حالت په اړه فرمايي : يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ (34) وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ (35) وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ (36) لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ (37)[1]

ترجمه : د قيامت ورځ هغه ورځ ده په کومه چې به سړى به تښتي له خپله وروره ، له خپلې مور او له خپل پلار نه ، له خپلې مېرمن او له خپلو بچو نه ، پدې ورځ به د هرچا يو شان وي چې دى به يې له نورو خلقو نه مستغني کړى او په خپل ځان مشغول کړى وي .

بلکه دا خو لا پرېږده ځينې به دا هم خوښوي چې دا د مور ، پلار، ښځه ، بچي او ټول خپلوان ، دوستان بلکه ټول خلق دې په اور کې غورځېدلي واى خو چې زه خلاص شوى واى.... تاسې متوجه ياست...؟ يو څوک به غواړي چې دا ټول خواږه دوستان مې دې په اور کې غورځېدلي واى خو چې زه خلاص وى ... نو ځکه هغه کسان ډېر بدبخت دي چې په دنيا کې د بل چا لپاره حرام کار کوي همدا په دنيا کې چې ته د چا لپاره څه حرام کار کوې همدا به په آخرت کې وايي چې دى دې په اور کې وغورځول شي خو زه د خلاص شم هلته بيا دا مينه هېڅ په درد نه خوري يوازې خپل عملونه انسان خلاصولى شي الله β ددې حالت په اړه فرمايي : يُبَصَّرُونَهُمْ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ (11)

---

[1] سورة عبس

وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ (12) وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ (13) وَمَن فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنجِيهِ (14).[1]

ترجمه : هغه به دوى ته ور ښكاره كول كيږي پدې ورځ به مجرم خوښوي چې كه كيداى شي ده د نن ورځې له عذاب نه خپل زامن فديه كړي واى (زامن يې عذاب ته وركړي واى خو چې دى خلاص شوى واى) . يا يې خپله ښځه او يا ورور د ځان په فديه كې وركړي واى ، يا يې هغه قبيله اوس د خپل ځان په فديه كې وركړې واى چې ده ته د سختي په وخت كې پناه وركوي ، يا چې دا په زمكه كې ځومره خلق دي چې دا ټول دده په مخ كې فديه شوي واى خو چې دى له عذاب نه خلاص وى ...

نو چې دا اوس موږ په دنيا كې د چا لپاره ناروا كارونه كوو همدا به په آخرت كې ددې ارزو كوي چې موږ دې په اور كې وغورځول شو خو ده ته د نجات وركړل شي ...

پدې سختو حالتونو كې چې خلق به دوستان، خپلوان ، عزيزان بلكه د دنيا ټول خلق له ځان نه جار كوي خو د ځان لپاره به نجات غواړي شهيد به ولاړ وي د خپلوانو په حق كې به شفاعت كوي او د الله β نه به غواړي چې دده له كورنى څخه اويا كسان دده په سترګو له دوزخ نه خلاص كړي او جنت ته يې بوزي پدې اړه حديث مخكې تېر شو چې رسول الله γ فرمايلي وو چې د شهيد لپاره شپږ (يا اوه) خاص خصلتونه دي يو پكې همدا وو چې د خپلې كورنى د اويا كسانو شفاعت كوي .

شهيدان به جنت ته تر ټولو وړاندې ننوزي

[1] سورة معارج

جنت د متقیانو ځای دی ، جنت هغه ځای دی چې خالص مؤمنان به هلته ورځي ، جنت جوړ کړل شوی د خالصو مؤمنانو لپاره دی چې هغوی دلته په دنیا کې نېک عملونه وکوي بیا په همدې نېکو عملونو کې او له توبې سره وفات شي الله β به ورته جنت ورکوي لکن چې ټول د جنت مستحقین جنت ته را ټول شي او ننوتل غواړي اول هغه کسان چې جنت ته به ننوزي هغه به شهیدان حضرات وي د حضرت ابي هریره I نه روایت دی هغه فرمایي رسول الله γ فرمایل : عُرِضَ عَلَيَّ أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ ، وَأَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ النَّارَ ، فَأَمَّا أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ : فَالشَّهِيدُ ، وَعَبْدٌ مَمْلُوكٌ لَمْ يَشْغَلْهُ رِقُّ الدُّنْيَا عَنْ طَاعَةِ رَبِّهِ ، وَفَقِيرٌ ضَعِيفٌ ذُو عِيَالٍ . وَأَمَّا أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ النَّارَ : فَأَمِيرٌ مُتَسَلِّطٌ ، وَذُو ثَرْوَةٍ مِنَ الْمَالِ لَا يُؤْتِي الزَّكَاةَ ، وَفَقِيرٌ فَخُورٌ . [1]

ترجمه : ماته را ښکاره کړل شول هغه دری کسان چې اول به جنت ته ننوزي او هغه دری کسان چې اول به دوزخ ته ننوزي هغه چې اول به جنت ته ننوزي هغه یو شهید دی ، هغه غلام دی چې غلامي یې د الله β له اطاعت څخه مصروف نه کړي ، فقیر ضعیف دی چې اولاد داره وي او هغه دری کسان چې اول به دوزخ ته ننوزي هغه امیر دی چې په خلقو مسلط شوی وي ، هغه مالدار سړی دی چې د مال زکات نه ورکوي ، هغه فقیر دی چې کبر جن وي.

په حدیث کې رسول الله γ دری هغه کسان یاد کړل چې تر هرچا به وړاندې جنت ته ننوزي او بیا یې په هغو دریو کې اول شهید یاد کړو نو دوی رښتیا هم همدا کسان دي چې ټول خلق به وروسته ددې چې د جنت مستحقین به شوي وي لکن په کلونو کلونو به

[1] رواه الترمذي

انتظار کوي او شهيدان به تر تولو د مخه جنت ته ننوزي .

شهيد په لوړه درجه د جنت کې دی

په بدر کې يو نوی ځوان حضرت حارثة بن سراقة I په شهادت رسېدلی وو مور يې راغله رسول الله γ ته يې وويل : حارثه چېرته دی؟ که چېرته په جنت کې وي چې صبر پرې وکوم او که چېرته په جنت کې نه وي چې بيا ښه زيات پسې وژاړم ... رسول الله γ ورته وويل : **يا أم حارثة، إنها جنان في الجنة، وإن ابنك أصاب الفردوس الأعلى .** [1]

ترجمه : ای د حارثه موري! بېشکه په جنت کې بيا جنتونه دي او بېشکه ستا زوی فردوس اعلی ته رسېدلی دی .

فرښتې په شهيد باندې سيوری جوړوي

د حضرت جابر بن عبد الله I څخه روايت دی هغه فرمايي : د اُحد په ورځ زما پلار پداسې حالت کې راوړل شو چې د هغه شکل بدل شوی وو مخ يې ور خراب کړل شوی وو د رسول الله γ په مخ کې کېښودل شو يوه جامه پرې خپره شوې وه زه ورغلم غوښتل مې چې مخ يې وګورم نو خپل قوم منع کړم (د هغه د مخ کتلو ته يې نه پرېښودم) بيا رسول الله γ امر وکولو هغه پورته کړل شو د کومې چيغې کونکې چيغه يې واورېده ... رسول الله γ پوښتنه وکوله دا څوک ده؟ صحابه وو φ ورته وويل : د عمرو لور ده او يا يې ورته وويل د عمرو خور

[1] صحيح البخاري

ده رسول الله γ ورته وويل : **فلم تبكي؟ أو: لا تبكي، فما زالت الملائكة تظله بأجنحتها حتى رفع** .[1]

ترجمه : د څه لپاره ژاړې او يا يې ورته وويل : مه ژاړه ترڅو چې هغه پورته کړل شوى نه وو ملائکو په خپلو وزرونو باندې وربانديې سيورى جوړ کړى وو.

لکه ددې موضوع په سر کې ما عرض وکولو چې د **شهيد** فضائل دومره زيات دي چې زما دا مختصره رساله هغه ټول نشي را ځايولى زه تاسې ته صرف مشت نمونه خروار يو څو په خدمت کې ايږدم اوس پدې باندې دلته کفايت کوم .

[1] **رواه البخاري في كتاب الجهاد**

د شهادت غوښتل

په ټولو مرګونو کې غوره مرګ د شهادت مرګ دی او چې انسان پورته یاد کړل شویو فضائلو ته وګوري نو پدې پوهیږي چې هېڅ مرګ د شهادت تر مرګ څخه غوره نه دی او موږ مسلمانان ټول پدې عقیده کې شریک یو چې انسان دنیا ته د همېشه ژوند لپاره نه دی راغلی بلکه ددې لپاره راغلی چې دلته خپله امتحاني دوره یو څو محدود کالونه ، یو څو محدودې میاشتې ، محدودې هفتې ورځې ساعتونه او په شمار شمارل شوې دقیقې او ثانیې او په شمار شمارل شوي نفسونه دلته تېر کړي او پدې محدود عمر کې یې چې هرڅه وکول په آخرت کې به ددې ژوند په نتیجه کې یا د آخرت له نعمتونو څخه خوند اخلي او یا به الله β مه کړه هلته په عذاب کیږي نو چې داسې ده د هر ژوندي لپاره د مرګ نیټه تعین شوې او ټاکل شوې ده چې د هېڅ ژوندي له هغه نه خلاصون نشته نو ډېر بختور به هغه انسانان وي چې د شهادت په مرګ له دنیا څخه وزي دا دومره لوی نعمت انسان په خپلو مټو ځان ته نشي راکش کولی او نه یې کوم مالدار په مال سره اخیستلی شي او نه یې کوم باچا په خپل قدرت سره خپلولی شي بلکه دا یوازې د الله β ورکړه ده چې چاته یې خوښه شي ورکوي یې نو د رښتیني مؤمن له شان سره ښایي چې په خپلو دعاګانو کې له الله β نه دا نعمت وغواړي او په عاجزي سره له الله β نه وغواړي چې د شهادت مرګ ورکړي کله چې موږ د شهادت په فضیلتونو باندې شروع وکوله هلته د رسول الله γ حدیثونه تېر شول چې :

رسول الله γ هم د شهادت تمنا کوله

له حضرت ابي هريره I څخه روايت دی هغه فرمايي رسول الله γ فرمايل : **انتدب الله لمن خرج في سبيله لا يخرجُه إلا إيمانٌ بي وتصديقٌ برسلي أنْ أرجِعَه بما نالَ من أجرٍ أو غنيمةٍ أو أدخله الجنة، ولولا أنْ أشقَّ على أمَّتي ما قعدتُ خلفَ سريَّة، ولوددت أنِّي أُقتَل في سبيل الله ثم أُحيَا، ثم أقتل ثم أحيا، ثم أقتل.** [1]

ترجمه : الله β زر ورکوي اجر د هغه چا چې څوک د الله β په لاره کې وزي او هغه يوازې په ما باندې د ايمان او زما د رسولانو د تصديق له امله وزي چې يا به هغه بېرته له لوی اجر او غنيمت سره را وګرځوي او يا به يې جنت ته ننباسي رسول الله γ فرمايي که زما په امت باندې نه سختېدلی زه به له يوې سريې څخه هم ناست نه وم او زما خوښېږي چې زه د الله β په لاره کې ووژل شم بيا ژوندی شم بيا ووژل شم بيا ژوندی شم .

رسول الله γ فرمايي زما يوازې دا نه خوښېږي چې دا يو ځل زه ژوندی يم او اوس د الله β په لاره کې ووژل شم بلکه دا مې خوښېږي چې ووژل شم بيا الله β ژوند راکړي او بيا ووژل شم ... که چېرته په شهادت کې څه خاصه خبره نه وای نو رسول الله γ به يې په پورتني حديث کې دری ځله تمنا نه کوله .

همدارنګه بل حديث دی رسول الله γ فرمايي : **والذي نفسي بيَدِه لولا أنَّ رجالاً من المؤمنين لا تطيب أنفسهم أنْ**

---

[1] صحيح البخاري

يتخلَّفوا عنِّي، ولا أجد ما أحملُهم عليه، ما تخلَّفت عن سريَّةٍ تغزو في سبيل الله، والذي نفسي بيده لوددت أنِّي أُقتَل في سبيل الله، ثم أحيا ثم أقتل، ثم أحيا ثم أقتل، ثم أحيا ثم أقتل . [1]

ترجمه : زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس د قدرت کې دی که چېرته مسلمانانو ته دا بده نه ښکاره کېدی چې زه جهاد ته لاړ شم دوی پاتې شي او که چېرته داسې نه وای چې له ما سره د هغه اسبابو کمښت نه وای چې دوی ټول ځان سره بوزم نو زه به له یوې سریې څخه هم نه پاتې کېدم (اوس چې زه ځم نو مسلمانانو ته ښه نه ښکاره کیږي چې دوی پاتې شي او زه جهاد ته په سریه کې لاړ شم او له ما سره دومره څه نشته چې دوی ټول ځان سره بوزم) زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس یې په لاس کې دی زما خوښیږي چې د الله β په لاره کې ووژل شم بیا ژوندی شم بیا ووژل شم بیا ژوندی شم ، ووژل شم بیا ژوندی شم ، ووژل شم بیا ژوندی شم .

څوک چې شهادت وغواړي الله β ورته د شهادت مرتبه ورکوي

څوک چې په دعاء کې په اخلاص سره وغواړي چې الله β ده ته شهادت ورکړي الله β هغه ته د شهادت مرتبه ورکوي رسول الله γ پدې اړه فرمایي: **مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللَّهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ"** [2]

ترجمه : څوک چې د الله β نه په رښتیا سره شهادت وغواړي الله β ورته د شهیدانو مرتبه ورکوي اګر که په خپله بستره باندې هم مړ شي .

---

[1] **صحيح البخاري**
[2] **رواه مسلم**

مطلب دا چې الله β هغه ته د هغه د اخلاص په بدل کې د شهادت لوړه مرتبه ورکوي دا د هغه يو احسان دی چې له بنده سره يې کوي اګر که هغه په بستره باندې مړ شي يعني چې په هر حالت کې مړ شي او که په هره وجه مړ شي الله β ورته د شهادت مرتبه ورکوي امام نووي ρ ددې حديث نه لاندې فرمايي : **فيه استحباب سؤال الشهادة، واستحباب نية الخير.** [1]

ترجمه : پدې کې د شهادت د سوال کول او د خير نيت مستحب ګڼل شوي دي.

په همدې ډول يو بل حديث دی حضرت انس بن مالک I فرمايي رسول الله γ فرمايل : **من طلب الشهادة صادقًا، أعطيها ولو لم تصبه.** [2]

ترجمه : چا چې شهادت د صدق سره وغوښت ورته وربه کړل شي اګر که ده ته ونه رسيږي يعني اګر که دی **شهيد** نشي هم الله β به ورته هغه منزله ورکړي کومه چې **شهيد** ته ورکوي.

ددې امله علماء کرام σ فرمايي چې دا دعاء مستحب ده : **اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ** (ای الله β زه لتا نه ستا په لاره کې د شهادت سوال کوم)

صحابه وو φ هم د شهادت تمنا کړې وه

---

[1] **شرح صحيح مسلم**
[2] **رواه مسلم**

د بدر لـه واقعې مخکې صحابـه وو φ هم ددې تمنا کړې وه چې کـه دوی تـه الله β پـه جهاد کې شهادت نصيب کړي الله β ځکه ورتـه وفرمايل : **وَلَقَدْ كُنتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ** .[1]

ترجمه : او خامخا پـه تحقيق وئ تاسی چې آرزو بـه مو کولـه د مرګ پخوا لـه هغه چې تاسې پيښيدئ پر دغه (مرګ) نو پـه تحقيق وليد تاسې دا (مرګ) حال دا چې تاسې (ورتـه) کتل .

د يو تفسير لـه مخې دوی د شهادت تمنا کړې وه او ورسره مخامخ شول پـه بل تفسير کې راغلي دي چې دوی لـه دښمن سره د مخامخ کېدو تمنا کولـه دوی ددې تمنا کولـه چې لـه دښمن سره پـه جنګ کې مخامخ شي او دوی د اسلام لپاره ښکلې قربانې ورکړي او دښمن تـه سم درس ورکړي نو د دښمن سره لـه مخامخ کېدو څخه الله β تعبير پـه مرګ سره وکولو ځکه اکثر پداسې حالت کې انسان تـه مرګ راځي ..

[1] سورة آل عمران آيـة ١٤٣

حضرت عمر I ځان ته په دعا کې شهادت غوښت

حضرت ام المؤمنين حفصة بنت عمر Λ فرمايي ما له حضرت عمر I نه واورېدل چې هغه په خپله دعاء کې فرمايل : **اللَّهُمَّ ارْزُقْنِي شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ ، وَاجْعَلْ مَوْتِي فِي بَلَدِ رَسُولِكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.** [1]

ترجمه : ای الله β ماته په خپله لاره کې شهادت په نصيب کړه او زما مرګ د خپل نبي په ښار (مدينه) کې کړه .

او دا د امير المؤمنين حضرت عمر I کرامت وو چې هغه د يو مجوسي غلام په لاس په شهادت ورسېدو او د رسول الله γ په ښار او در سول الله γ په جومات کې په شهادت ورسېدو .

حضرت عبد الله بن جحش I هم شهادت غوښت

حضرت عبد الله بن جحش I جليل القدر صحابي وو د اُحد نه وړاندې يې د ځان لپاره د شهادت دعاء کوله او فرمايل يې : **اللهم إني أقسم عليك أن ألقى العدو غدًا، فيقتلوني، ثم يبقروا بطني، ويجدعوا أنفي وأذني، ثم تسألني بما ذاك؟ فأقول: فيك .** [2]

ترجمه : ای الله β زه تاته قسم درکوم چې زه د د ښمن سره سبا مخامخ شم بيا د هغه ما مړ کړي

---

[1] صحيح البخاري
[2] اخرجه الحاكم في المستدرک

بـيـا د زمـا ګـېډه وشکـوي او هغـه د زمـا پـوزه او غوږونـه پـرې کـړي بـيـا تـه لـمـا څخه پـوښـتـنه کـوې چې دا ولـې زه درتـه ووايـم چې دا سـتـا پـه لاره کې .

دا هم د صحابـي کـرامـت وو چې پـه همدې ډول بـانـدې پـه شـهـادت ورسېـدو او کـفـارو همداسې د هغـه شکـل بـدل کـړو او د هغـه انـدامـونـه يـې پـرې کـړل .

حضرت الـنعمـان بـن مـقـرن I هم شـهـادت غـوښت

حضرت الـنعمـان بـن مقـرن الـمزنـي I د نـهـاونـد پـه جګـړه کـې د ځـان لـپـاره شـهـادت غوښتـلـو او دعـاء يـې کـولـه : اللهم إني أسـألك أن تقر عيني بيوم فيه عز الإسلام وأهله، وذل الكفار وأهله. ثم اختم لي على أثر ذلك بالشهادة .[1]

تـرجمـه : اى الله β زه لـتـا نـه سـوال کـوم چې زمـا سـتـرګې پـداسې ورځ يـخې کـړه چې پـه هغې کـې د اسلام او د اهل اسلام عزت وي او د کـفـر او د کـفـارو ذلـت وي او بـيـا دا ورځ زمـا لـپـاره پـه شـهـادت سره خـتـمه کـړه .

[1] مـوارد الـظمآن إلـى زوائـد ابـن حبـان

د شهادت په غوښتنه کې اشکال

که د چا ذهن ته دا پوښتنه ورشي چې رسول الله اکرم γ خو د مرګ له غوښتنې څخه منع کړې تفصيلي دلائل او موضوع ددې کتابونو په اوله برخه کې تېره شوېدي او حضرت انس بن مالک I هم فرمايي : **لولا أني سمعت النبي يقول: لا تتمنوا الموت، لتمنيت** .[1]

ترجمه : که ما له رسول الله γ څخه آورېدلي نه واى چې هغه فرمايل د مرګ تمنا مه کوئ نو ما به کړې وه .

او څوک چې شهادت غواړي نو خامخا مرګ به هم غواړي ځکه شهادت خو بې له مرګه نه وي نو څنګه کېداى شي چې د شهادت غوښتل د مستحب شي؟

ځواب : شهادت غوښتل د مرګ غوښتل نه بلکه د يوې لويې او لوړې مرتبې غوښتل دي او دا په هغه نهى کې نه راځي ابن قيم ρ پدې اړه فرمايلي دي : : **ففي هذا دلالة على جواز دعاء الرجل أن يقتل في سبيل الله، وتمنيه ذلك، وليس هذا من تمني الموت المنهي عنه** .[2]

ترجمه : پدې کې پدې دلالت دى چې دا روا ده چې انسان ددې لپاره دعاء وکوي چې دى د الله β په لاره کې مړ شي او د هغې تمنا وکوي او دا هغه د مرګ تمنا نه ده چې له کوم نه منع شوې ده .

---

[1] رواه البخاري
[2] زاد المعاد

همدارنګه علماء کرام σ فرمايي : **كما أن تمني الشهادة ليس تمنيًا مطلقًا للموت؛ إنما هو تمني من يقاتل لنصرة الحق أن تذهب نفسه دونه، فإذا وصل إلى ما ينبغي من نصرة الحق وإعزازه بانهزام أهل الباطل وخذلانهم فبها ونعمت، وإلا فضل الموت في سبيل إعزاز الحق ورآه خيرًا من البقاء مع إذلاله وغلبة الباطل عليه .** [1]

ترجمه : لکه د شهادت تمنا د مطلق مرګ تمنا نه ده بلکه دا د هغه چا تمنا ده چې د حق د مرستې لپاره جنګ کوي چې د ده نفس تر حق قربان شي نو کله چې خپل مطلب چې د حق نصرت او مرسته او د اهل الباطل شکست ته ورسيږي نو ډېره غوره خبره ده او کنه نو د حق د عزت په لاره کې مرګ خپله يوه بهتري ده او دا تر هغه پاتې کېدلو نه غوره دی چې انسان ژوندی وي او په حق باندې باطل غالب وي او دی يې ويني .

او بل چې انسان د ځان لپاره په رښتيا شهادت غواړي هغه ددې امله نه غواړي چې په دنيا کې د څه مشکل له امله او يا څه حالاتو له امله تنګ وي نو د ځان لپاره عاجل شهادت غواړي بلکه د شهادت غوښتونکی دا غواړي چې کله دی مړ کيږي نو دی د دشهادت په مرګ مړ شي او دا په هېڅ ډول باندې ناروا نه ده او په اسلام کې چې د مرګ غوښتنه منع ده هغه داسې ده چې يو مسلمان د دنيوي کوم مشکل له امله ځان ته مرګ غواړي .

[1] تفسير المنار

د شهید ډولونه

علماء کرام σ فرمایي شهید په درې ډوله دی .[1]

شهید الدنیا و الآخرة (د دنیا او آخرت شهید)

شهید الدنیا : شهید الدنیا دوی هغه شهید ته وایي چې د دنیا احکام وربانـدې عملي شي او له نورو مړیو نه یې فرق وي لکه غسل نه ورکول کیږي او د خپلو جامو سره خښول کیږي او داسې نور تفصیل یې راځي .

شهید الآخرة : شهید الآخرة دوی هغه شهید ته وایي چې هغه ثوابونه ورته ورکړل شي چې الله β یې په آخرت کې ورسره وعده کړېده .

نو شهید الدنیا والآخرة هغه دی چې د کامل شهادت مالک وي د الله β په وړاندې لوړه مرتبه لري دا هغه مکلف پاک مسلمان دی چې په جنګ کې د الله β د رضا لپاره وژل شوی وي پداسې حالت کې چې په جنګ کې یې مخه جنګ ته کړې وي په شکست کې نه وي که اهل الحرب وژلی وي ، که باغیانو وژلی وي ، که قطاع الطریق وژلی وي او یا د جنګ په ځای کې پیدا کړل شي چې په بدن یې د وژلو وجه ښکاره کیږي (او په سترګو ونه لیدل شي چې څنګه وژل شوی دی) او یا یې مسلمان ووژني په ظلم سره په وژونکې آله سره او په قتل سره یې دیت نه وي آوښتی او یا د جنګ له ختم نه وروسته د جنګ په ځای کې مړ پیدا شي او د قتل وجه یې نه وي معلومه په دې کې فرق نشته که په توره لګېدلی وي ، په توپ لګېدلی

[1] بدائع الصنائع، للكاساني، حاشية رد المحتار، لابن عابدين، مواهب الجليل، للخطاب، الفواكه الدواني، للنفراوي، الوسيط، للغزالي، المجموع، للنووي

وي ، په ټوپک ، تفنګچې ، غیشی ، چاړه او داسې نور ...

همدارنګه که مجاهد په کوم شي باندې سپور وو لکه موټر، طیاره ، ټانګ ، آس ، موټر سائکل او داسې نور له هغه نه وغورځېدو که ددښمن په کار سره وي او یا په خپل څه حرکت سره له هغه شي نه وغورځیږي دا هم د جنګ شهید دی ..

همدارنګه که په جنګ کې د دښمن له خوا اوبو ته وغورځول شو ، یا له لوړ ځای نه ښکته وغورځول شو دا هم د جنګ شهید دی .

همدارنګه که د جنګ په وخت کې د مسلمانانو لخوا په غلطي کې ولګیږي ، یا په خپله خپله سلاح سره ولګیږي دا هم جنګي شهید دی .

شهید الدنیا (د دنیا شهید)

دا هغه شهید وي چې په دنیا کې وربانديې احکام د شهید عملي کړل شي لکن د څه وجې له امله د هغه ثواب مستحق نشي چې ﷲ β یې شهید ته ورکوي لکه ریاء ترېنه وشي یا جهاد ته د کوم دنیوي مقصد لپاره وړاندې شوی وي ، یا مطلب په جهاد کې غنیمت وي او یا د کومې بلې وجې نه یې شهادت خراب شي دېته د دنیا شهید ویل کیږي .[1]

څرنګه چې ﷲ β ته د بنده د عملونو هېڅ ضرورت نشته بلکه بنده ته ددې ضرورت دی چې ښه او نېک اعمال وکوي لکه مخکې هم موږ تېر کړل چې ﷲ β ته ددې ضرورت نشته چې بنده د هغه د دین لپاره قرباني ورکړي بلکه بنده ته ددې ضرورت دی چې

---

[1] شامي

باید د الله β په دین باندې خپل ځان قربان کړي نو ځکه الله β یوازې هغه عملونه قبلوي چې هغه د اخلاص نه ډک وي ځکه خو ډېر عملونه نه دي په کار بلکه هغه عملونه په کار دي چې هغه د پوره اخلاص سره وي الله β فرمایي : **وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورً .** [1]

ترجمه : او اراده کړی ده رسېدلی یو موږ هغو شیانو ته چې کړي دي (دغو کفارو) له (نېک) عمل نه پس وبه ګرځوو موږ هغه (نېک عمل په شان د) وړی (ګرد) تار په تار کړی شوی .

او بنده ته ډېره په کار ده چې که انسان هرڅه عمل کوي نو یوازې د الله β د رضا لپاره وي او د پوره اخلاص سره وي الله β فرمایي : **قُلْ إِنَّ صَلاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ . لا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ.** [2]

ترجمه : ووایه (ای محمده) دوی ته بېشکه مونځ زما او قرباني زما او (طاعتونه د) ژوندون زما او مرګ زما (پر صالح عمل) خاص الله β لره دی چې رب (پالونکی) د ټولو عالمیانو (د جهان) دی نشته هېڅ شریک ده لره (په دغو تیرو عبادتونو کې) او په هم دی (توحید) امر (حکم) کړی شوی دی ماته او زه اول د مسلمانانو (الله β ته غاړې ایښودونکو) څخه یم .

همدارنګه رسول الله γ فرمایي : **إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لاِمْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى**

---

[1] سورة الفرقان آية ٢٣

[2] الانعام آ ية ١٦٢، ١٦٣

اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ.[1]

ترجمه : بېشکه ثوابونه د عملونو په نیتونو سره دي او بنده ته هغه څه رسیږي چې ده یې نیت کړی وي د چا چې هجرت د الله β او د هغه د رسول لپاره وي نو د هغه هجرت د الله β او د هغه د رسول لپاره دی او د چا چې هجرت ددنیا د حاصلولو لپاره وي یا د کومې ښځې سره د واده لپاره وي نو د هغه هجرت د هغه څه لپاره دی چې د کوم شي لپاره یې هجرت کړی وي .

نو الله β د موږ وساتي ډېر به داسې کسان هم وي چې هغوی به شهیدان وي په دنیا کې به موږ وربانديې د شهید احکام عملي کړو لکن الله β به د هغه شهادت قبول نه کړي او هغه ثواب به ورنه کړي چې د کوم له شهیدانو سره وعده شوې ده یوازې شهیدان هم نه بلکه ډېر علماء به وي چې د هغوی نه دا علم او دا سعی نه وي قبوله شوې او داسې نور پدې اړه د رسول الله γ یو حدیث دی له حضرت ابي هریره I نه روایت شوی دی هغه فرمایي رسول الله γ فرمایل : إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ. قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لأَنْ يُقَالَ جَرِىءٌ. فَقَدْ قِيلَ. ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِىَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ. قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ عَالِمٌ. وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ هُوَ قَارِئٌ. فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِىَ فِي النَّارِ.

---

[1] متفق علیه

وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ فَأُتِىَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلاَّ أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ هُوَ جَوَادٌ. فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ ثُمَّ أُلْقِىَ فِي النَّارِ[1].

ترجمه : بېشکه چې د قیامت په ورځ چې د چا په اړه اول فیصله کیږي یو کس به وي چې شهید شوی به وي هغه به راوستل شي الله β به خپل نعمتونه ور په زړه کړي او ده ته به هم ور په زړه شي بیا به الله β ورته ووایي : تا پدې نعمتونو کې څه وکول؟ هغه به ورته ووایي ما تر هغه وخته پورې ستا په لاره کې جنګ وکولو تردې چې زه شهید شوم الله β به ورته ووایي تا دروغ وویل : بلکه تا ددې لپاره جنګ وکولو چې خلق ووایي چې دی ډېر زړور دی او خلقو دا وویل (تا چې د کوم شي لپاره جنګ کولو هغه کار وشو) بیا به امر وشي هغه به په مخ باندې کش کړل شي تردې چې په اور کې وغورځول شي بل کس به وي چې هغه به علم حاصل کړی وي او خلقو ته به یې هم ور ښودلی وي او قرآن به یې لوستلی وي هغه به راوستل شي الله β به هغه ته خپل نعمتونه ور په زړه کړي او ده ته به هم ور په زړه شي بیا به الله β ورته ووایي : تا پدې نعمتونو کې څه وکول؟ دی به ووایي ستا د رضا لپاره مې علم حاصل کړو او خلقو ته مې ور وښود او ستا لپاره مې قرآن ولوست الله β به ورته ووایي : دروغ د وویل بلکه تا علم ددې لپاره حاصل کړو چې خلق ووایي چې دا عالم دی او قرآن د ددې لپاره ولوست او خلقو وویل بیا به امر پرې وشي او هغه به په مخ باندې کش کړل شي تردې چې په اور کې واچول

[1] متفق علیه

شي بل كس به وي چې الله β وربانديړ فراخي راوستلې وي او ډول مالونه يې ورکړې وي هغه به راوستل شي بيا به الله β هغه ته خپل نعمتونه ور په زړه کړي او ده ته به هم ور په زړه شي بيا به الله β ورته ووايي : تا پدې نعمتونو کې څه وکول؟ دی به ووايي ما هېڅ داسې لاره چې په هغې کې ستا مصرف کول خوښيږي پرې نه ښوده مګر مصرف مې پکې وکولو ستا د رضا لپاره الله β به ورته ووايي : دروغ د وويل بلکه تا مصرف ددې لپاره وکولو چې خلق ووايي چې ته ډير سخي يې او خلقو وويل بيا به د هغه په اړه هم امر وشي او په مخ باندې به اور ته کش کړل شي په اور کې به وغورځول شي .

شهيد الآخرة (د آخرت شهيد)

دا هر هغه شهيد دی چې په دنيا کې وربانديړ د شهيد احکام نه عملي کيږي (لکه غسل نه ورکول ، د خپلو جامو سره ښخول او داسې نور) لکن په آخرت کې ورته الله β د شهيدانو ثوابونه او مرتبې ورکوي يعني په دنيا کې ورسره داسې معامله کيږي لکه د عامو مسلمانانو مړيو سره چې کيږي د دوی لپاره څه خاص احکام نه وي غسل ورکول کيږي ، کفن ورکول کيږي دوی ددې امله شهيدان دي چې رسول الله γ ورته شهيدان ويلي دي او دا متعدد کسان دي په لاندې ډول سره .

من مات بالطاعون

(هغه چې په وبا بيماري سره وفات شي)

د حضرت انس بن مالک I څخه روایت دی هغه فرمایي رسول الله γ فرمایل : **الطَّاعُونُ شَهَادَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ**[1] .

ترجمه : د طاعون د بیماري نه وفات کېدل د هر مسلم لپاره شهادت دی .

همدارنګه د طاعون (وبا) په اړه حضرت عائشه I فرمایي رسول الله γ فرمایي : **أَنَّهُ عَذَابٌ يَبْعَثُهُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ ، فَجَعَلَهَا رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ ، فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَكُونُ فِي بَلْدَةِ الطَّاعُونِ ، فَيَمْكُثُ فِي بَلْدَةٍ ، يُرِيدُ تِلْكَ الْبَلْدَةَ صَابِرًا ، مُحْتَسِبًا ، يَعْلَمُ أَنَّهُ لَمْ يُصِبْهُ إِلا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ ، إِلا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ الشَّهِيدِ**[2] .

ترجمه : دا یو عذاب دی الله β یې په هغه چا باندې نازلوي چې خوښه یې شي خو الله β هغه د مؤمنانو لپاره رحمت ګرځولی دی داسې یو بنده نشته چې په هغه ښار کې وي چې په کوم کې د طاعون (وبا بیماري ولګیږي) دی په هغه ښار کې پاتې شي او په هماغه ښار کې صبر وکوي پدې سره د الله β نه اجر غواړي او پدې پوهیږي چې انسان ته صرف هغه څه رسیږي چې الله β ورته لیکلي وي پدې توګه هېڅوک نه پاتې کیږي مګر د دوی لپاره د شهید اجر وي .

په بل حدیث کې حضرت عائشه I فرمایي : رسول الله γ فرمایل : **لا تَفْنَى أُمَّتِي إِلا بِالطَّعْنِ وَالطَّاعُونِ " ، قُلْنَا : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، قَدْ عَرَفْنَا الطَّعْنَ ، فَمَا الطَّاعُونُ ؟ ، قَالَ : " غُدَّةٌ**

---

[1] رواه البخاري في كتاب الجهاد و السير
[2] رواه البخاري

كَغُدَّةِ الإِبِلِ ، الْمُقِيمُ بِهَا كَالشَّهِيدِ ، وَالْفَارُّ مِنْهَا كَالْفَارِّ مِنَ الزَّحْفِ [1] .

ترجمه : زما امت په طعن او طاعون سره نه فنا کیږي په طعن او طاعون سره مونږ ورته وویل یا رسول الله γ دا طعن خو مونږ پېژنو خو دا طاعون څه شی دی ؟ ده راته وویل دا یوه بیماري لکه د په اوښانو کې د غدې بیماري پدې کې چې څوک پاتې شي (په کوم ځای کې چې طاعون ولګیږي له هغه ځایه څخه ونه تښتي) هغه ته د شهيد اجر ورکول کیږي او څوک چې تریږنه وتښتي دومره ګناه یې ده لکه له جهاد نه چې څوک وتښتي .

مبطون

(هغه چې د ګېډې په بیماري وفات شي)

دا هغه بیمار وي چې په ګېډه کې یې څه بیماري راشي لکه اسهال ، استسقاء او یا بله دېته ورته بیماري امام نووي ρ پدې اړه فرمایي :

صاحب داء البطن ـ وهو الإسهال ـ قال القاضي: وقيل: هو الذي به الاستسقاء وانتفاخ البطن، وقيل: هو الذي تشتكي بطنه، وقيل: هو الذي يموت بداء بطنه مطلقاً . [2]

ترجمه : دا هغه کس وي چې د ګېډې بیماري ورته لګېدلې وي چې هغه اسهال دی قاضي ρ فرمایي دا هغه دی چې استسقاء بیماري وربانډې وي او ګېډه یې پړسېدلې وي او ویل شوي دي چې مراد ترینه هر هغه دی چې په ګېډه کې یې شکایت (تکلیف) وي او دا هم ویل شوي دي چې دا هر هغه څوک دی چې د ګېډې په کومه بیماري باندې مړ شي .

---

[1] رواه احمد ٢٣٩٦٥

[2] شرح صحیح مسلم للنووي ρ

د سعودي مشهور عالم شيخ ابن عثيمين ρ په حديث کې د ذکر شوي المبطون تشريح داسې کوي :

والمبطون هو الذي أصيب بداء البطن بمعنى أنه يكون فيه إسهال، أو وجع في بطنه ومنه ما يسمى بالزائدة إذا انفجرت وما أشبه ذلك، فكل أدواء البطن التي تكون سبباً للموت فإنها داخلة في قوله صلى الله عليه وسلم: المبطون ـ لا سيما التي يكون الموت فيها محققاً عاجلاً .

ترجمه : مبطون هغه څوک دی چې د ګېډې په بيماري باندې آخته وي پدې معنى چې په ګېډه کې يې اسهال بيماري وي او يا يې په ګېډه کې درد وي لدې بيماريو څخه يوې ته د زائدې چاودېدل وايي او يا دېته ورته نو د ګېډې هره بيماري هغه چې د مرګ سبب شي د رسول الله γ په حديث کې د ياد کړل شوي المبطون تکي نه لاندې دي په خاصه توګه هغه چې مرګ ورسره په عاجله توګه واقع شي .

د ګېډې د بيمار په اړه رسول الله γ په اورده حديث کې فرمايل : **والمبطون شهيد** .[1] (هغه چې د ګېډې په بيماري باندې وفات شي هغه **شهيد** دی) .

په بل حديث کې حضرت ابو هريره I نقل کوي چې رسول الله γ فرمايل : **وَمَنْ قَتَلَهُ الْبَطْنُ فَهُوَ شَهِيدٌ** .[2]

ترجمه : هغه چې ګېډه يې مړ کړي هغه هم **شهيد** دی .

---

[1] **ابن ماجة**

[2] **مسند ابي هريره**

په بل حديث کې د حضرت ابي هريره I نه روايت دی هغه فرمايي : رسول الله γ له موږ نه پوښتنه وکوله چې پتاسې کې شهيد څوک دی؟ موږ ورته وويل : يا رسول الله γ چې د الله β په لاره کې ووژل شي هغه شهيد دی بيا رسول الله γ وويل نو بيا خو زما په امت کې شهيدان ډېر لږ کسان دي نو بيا موږ پوښتنه وکوله : بيا څوک دي يا رسول الله γ ؟ (رسول الله γ څه کسان ياد کړل چې يو يې ورته دا وويل) وَمَنْ مَاتَ فِى الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيدٌ .[1]

ترجمه : هغه چې په ګېډه کې مړ شي (د ګېډې د بيماري له امله په حق ورسيږي) هغه شهيد دی .

غريق

(هغه چې په اوبو کې غرق شي)

هغه کس چې په اوبو کې ډوب شي او وفات شي دا هم شهيد دی الله β ورته د شهيدانو مرتبې ورکوي هغه کس چې په ګناه پسې نه وي روان په بحر کې سفر کوي مباح سفر وي او يا مستحب سفر وي او د الله β په اطاعت پسې روان وي نو پدې سلسله کې غرق شي او يا يې په کښتۍ کې زړه خراب شي قی وکوي او بالآخره دا حالت وربانديې سخت شي او لدې حالت نه په حق ورسيږي دا کس هم شهيد دی .

[1] صحيح مسلم

رسول الله γ په يوه اوږده حديث کې چې شهيدان يې پکې حسابول وفرمايل : **وَالْغَرِيقُ شَهِيدٌ** .[1] (يعني هغه کس چې په اوبو کې غرق شي هغه هم شهيد دی)

له حضرت ام حرام l څخه روايت دی هغه فرمايي رسول الله γ فرمايل : **الْمَائِدُ فِي الْبَحْرِ ، الَّذِي يُصِيبُهُ الْقَيْءُ ، لَهُ أَجْرُ شَهِيدٍ ، وَالْغَرِقُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدَيْنِ** .[2]

ترجمه : هغه چې په بحر کې يې زړه خراب شي او بيا قی وکوي هغه ته د شهيد اجر دی او هغه چې غرق شي هغه ته د دوو شهيدانو اجر دی .

دا مونږ د هغه غريق خبرې کوو چې هغه په خپل کوم کار پسې سفر کوي او د سفر په دوران کې غرق شي او يا په خپل کوم کار لګيا وي او يا په خپل کور کې له کومې خوا وربانديې اوبه راشي په هغې کې غرق شي او په حق ورسيږي او که چېرته په بحر کې جهاد کوي او غرق شي هغه خو د لوړې درجې شهيد دی او کله چې د جهاد خبره شي نو هغه کس چې بحري جهاد کې شهيد شي هغه د وچې له شهيد نه غوره دی لکه په بحر کې چې جهاد د وچې له جهاد نه غوره دی په يوه حديث کې ويل شوي دي چې په بحر کې جهاد دومره غوره دی لکه د رسول الله γ سره چې څوک په جهاد کې شريک شوي وي حضرت واثلة بن اسقع I فرمايي رسول الله γ فرمايل : **من فاته الغزو معي فليغز في البحر** .[3]

---

1. صحيح مسلم
2. رواه ابو داود ٣١٣٢
3. رواه الطبراني في الاوسط

ترجمه : له چا نه چې زما سره غزا کول پاتې شي (او دې بهتري ته ځان رسول غواړي) نو په بحر کې د غزا وکوي .

او پورته چې په يو حديث کې هم تېر شول چې په بحر کې د غرق شوي لپاره د دوو شهيدانو اجر دی د هغې هم همدا مطلب دی چې هغه کس چې په بحر کې جهاد کوي او شهيد شي نو د دوو شهيدانو اجر ورکول کيږي .

په بل حديث کې حضرت علقمة بن شهاب I فرمايي : رسول الله γ فرمايل : **من لم يدرك الغزو معي فليغز في البحر فإن قتال يوم في البحر خير من قتال يومين في البر وإن أجر الشهيدفي البحر كأجر شهيدين في البر، وإن خيار الشهداء عند الله أصحاب الأكف "، قيل : ومن أصحاب الأكف ؟ قال : "يوم تكفأ عليهم مراكبهم في البحر** .[1]

ترجمه : هغه کس چې زما سره ورځخه غزا پاتې شي نو هغه د په بحر کې غزا وکوي ځکه په بحر کې د يوې ورځې جنګ په وچه کې د دوو ورځو له جنګ نه غوره دی او په بحر کې د شهيد اجر لکه د دوو شهيدانو اجر دی چې په وچې کې وي او د الله β په وړاندې غوره شهيدان اصحاب الاکف دي چا ورته وويل : دا اصحاب الاکف څوک دي؟ رسول الله γ وويل هغه چې په بحر کې کښتی وربانده اوړي .

المطعون

(هغه چې په نيزه يا بل تيره شي ووهل شي)

[1] رواه ابن المبارک ρ عن سعيد بن عبد العزيزρ

هغه کس چې په کوم تېره شي باندې ووهل شو او لدې وهلو نه په حق ورسېدو الله β به ورته د **شهيدانو** لوړې مرتبې ورکوي رسول الله γ چې د جابر بن عتيک په يوه اوږده حديث کې د **شهيدانو** ډولونه او قسمونه حسابول نو يې پکې دا وويل : **الْمَطْعُونُ شَهِيدٌ** . موطاء امام مالک ρ (هغه چې په نيزه يا بل شي ووهل شي هغه **شهيد** دی) .

صاحب الهدم

(هغه چې کوم ځای پرې را نړنګ شي)

چې د کومې زلزلې یا بلې وجې نه په چا باندې کوم ځای را وغورځیږي او دی ترېنه لاندې شي دې کس ته به هم الله β د شهیدانو لوړې مرتبې ورکوي لکه لږ مخکې چې یو حدیث تېر شو رسول الله γ پکې شهیدان حسابول یو یې پکې دا هم وویل : وَالَّذِي يَمُوتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيدٌ .[1]

ترجمه : هغه چې تر نړنګېدلو لاندې مړ شي شهید دی .

په اوس وخت کې علماء کرام σ فرمایي چې د موټرو په حادثو کې چې څوک مړ کیږي موټر وربانديې آوړي ، چپه شي ، ټکر شي ، موټر یې ووهي دا ټولې حادثې تر هدم (نړیدلو) لاندې کیږي امید دی چې الله β به دوی ته هم د شهیدانو مرتبې ورکړي .

صاحب ذات الجنب

(یو ډول بیماري ده چې په اوسني طب کې ورته Pleurisy ویل کیږي)

پدې بیماري باندې چې څوک اخته شي او وفات شي هغه ته هم الله β د شهادت مرتبه او اجرونه ورکوي رسول الله γ په هغه حدیث کې چې حضرت جابر بن

[1] رواه مالک و ابو داود و النسائي

عتيک I روايت کړی دی فرمايي : وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيدٌ .[1]

ترجمه : هغه چې په ذات الجنب بيماري باندې وفات شي هم شهيد دی .

صاحب الحريق

(هغه چې وسوزي)

هغه مسلمان چې په کومه حادثه کې په اور باندې وسوزي هغه هم شهيد دی.

د حضرت جابر بن عتيک I نه روايت دی چې رسول الله γ فرمايل : ، وَصَاحِبُ الْحَرِيقِ شَهِيدٌ .[2] (او هغه کس چې وسوزي او وفات شي هغه شهيد دی) د ابي داود په شرح عون المعبود کې ددې ټکي لاندې ليکي أي المحرّق وهو الذي يموت بالحرق (يعني سوزېدلی هغه چې مړ شي په سوزېدلو سره) .

پدې اړه د سعودي مشهور عالم ابن عثيمين ρ نه پوښتنه وشوه : کله چې د ښار په کومه برخه کې اور ولګيږي د هغې په ګل کولو کې د اطفايې کسان وسوزيږي دا شهيدان دي؟ ده ρ ورته وويل : اول به زه درته دا ووايم چې هرڅوک چې مسلمان وي او په اور وسوزي دا له شهيدانو څخه دي ځکه رسول الله γ فرمايلي دي (الحريق شهيد) لکن دا موږ نه وايو چې فلانی (کوم چې په همداسې حادثه کې سوزېدلی وي) شهيد دی ځکه د يو خاص کس په اړه موږ نه پوهيږو لکن په عمومي ډول سره وايو چې

[1] رواه الامام مالک ρ
[2] رواه ابو داود

هرڅوک په اور وسوزي هغه **شهيد** دی سره ددې چې هغه کسان چې اور ګل کوي د دوی ثواب زيات وي ځکه دې کس د اور په ګل کولو سره دوه کارونه سره جمع کړل يو د خپلو ورونو په دفاع کې په حق ورسېدو او بل وسوزېدو ده په حقيت کې دوه اجرونه واخيستل يو اجر يې دا واخيست چې له خپلو مسلمانو ورونو يې دفاع کوله او بل اجر يې د سوزېدلو د شهادت شو لکن دا خبره ياد ساتئ چې موږ د يو کس په اړه داسې فيصله نشو کولی د مثال په ډول يو کس وي چې زموږ په وړاندې وسوزي موږ دا وايو چې په اور سوزېدلی مسلمان **شهيد** دی خو دانشو ويلی چې دا کس **شهيد** دی په بخاري شريف کې ددې لپاره بېل باب کېښودل شوی دی (باب: لا يقال فلان **شهيد**) بيا يې په دليل کې د رسول الله γ يو حديث را نقل کړی دی چې رسول الله γ فرمايي : **ما من مكلوم يكلم في سبيل الله والله أعلم بمن يكلم في سبيله** (هېڅ داسې کس نه وي چې هغه د الله β په لاره کې زخمي کيږي او الله β په هغه کسانو خبر دی چې او پوهيږي چې د الله β په لاره کې زخمي کيږي) بيا ددې حديث نه وروسته فرمايي و الله اعلم چې کله الله β په هغه کسانو باندې پوهيږي چې کوم د هغه په لاره کې زخمي کيږي نو موږ د هېچا په اړه ددې ګواهي نه ورکوو لکن په عمومي توګه وايو چې څوک د الله β په لاره کې ووژل شي هغه **شهيد** دی .[1]

---

[1] **مجموع فتاوی ابن عثيمين**

الْمَرْأة تَمُوت بِجُمْعٍ

كله چې رسول الله γ **شهيدان** شمار كول نو دا لفظ يې هم پكې ياد كړو او ددې په تفسير كې مختلفې خبرې شوې دي چې ځينې يې وايي ددېنه مطلب هغه ښځه ده چې پداسې حالت كې مړه شي چې په ګېډه كې يې حمل وي هغه **شهيده** ده ، ځينې وايي چې مطلب يې دادی چې ښځه په اولاد مړه شي هغه **شهيده** ده يا هغه ښځه چې ماشوم يې پيدا شي او په نفاس (ځلويښتي) كې مړه شي نو دا **شهيده** ده او ځينې وايي چې جينۍ تر واده وړاندې پېغله پداسې حالت كې مړه شي چې خپل ځان يې د الله β د رضا لپاره له ناروا نه ساتلی وي نو هغه **شهيده** ده .

پدې اړه حافظ ابن حجر ρ فرمايي : **وَأَمَّا الْمَرْأَة تَمُوت بِجُمْعٍ وَهِيَ النُّفَسَاء ؛ وَقِيلَ الَّتِي يَمُوت وَلَدهَا فِي بَطْنهَا ثُمَّ تَمُوت بِسَبَبِ ذَلِكَ ، وَقِيلَ الَّتِي تَمُوت عَذْرَاء وَالْأَوَّل أَشْهَر .** [1]

ترجمه: دا چې رسول الله γ فرمايي **وَأَمَّا الْمَرْأَة تَمُوت بِجُمْعٍ** دا هغه ښځه ده چې ماشوم يې پيدا شوی وي دا په نفاس كې وي او دا هم ويل شوي دي چې دا هغه ښځه ده چې ماشوم يې په ګېډه كې مړشي د هغې له امله بيا دا مړه شي او دا هم ويل شوي دي چې مطلب يې دا دی چې جينۍ پېغله مړه شي پدې ټولو كې يې اوله معنی يې زياته مشهوره ده .

[1] **فتح الباري شرح البخاري**

امام نووي ρ فرمايي : وَأَمَّا (الْمَرْأَة تَمُوت بِجُمْع): الَّتِي تَمُوت حَامِلًا جَامِعَة وَلَدهَا فِي بَطْنهَا ، وَقِيلَ : هِيَ الْبِكْر ، وَالصَّحِيح الْأَوَّل .[1]

ترجمه : او دا چې رسول الله γ په حديث کې فرمايي الْمَرْأَة تَمُوت بِجُمْعٍ معنى يې هغه ښځه ده چې حامله وفات شي پداسې حال کې چې ماشوم يې په ګېډه کې وي دا هم ويل شوي دي چې مطلب يې هغه جينۍ ده چې پېغله مړه شي لکن اوله معنى يې صحيح ده .

هغه مسلمانه ښځه چې په حلاله نکاح باندې الله β ورته ماشوم ورکړی وي او د هغه په پيدا کېدلو کې په حق ورسيږي ددې لپاره ډېرې لوړې مرتبې دي حضرت عبادة بن صامت I فرمايي رسول الله γ فرمايل : وَالنُّفَسَاءُ يَجُرُّهَا وَلَدُهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِسَرَرِهِ إِلَى الْجَنَّةِ .[2]

ترجمه : هغه ښځه چې په اولاد مړه شي د قيامت په ورځ به يې هماغه ماشوم تر هغه شي کش کوي چې د مور د ننه او د ماشوم نو (نوم) يې سره تړلی وي او جنت ته به يې بيايي .

يعني د قيامت په ورځ به يې هغه معصوم چې د کوم د پيدا کېدلو له امله دا په حق رسېدلې ده جنت ته کش کوي (سبحان الله) .

ځينې علماء کرام σ فرمايي چې ددې حديث نه هم دا معلوميږي چې په پورتني حديث کې د الْمَرْأَة تَمُوت بِجُمْعٍ نه مراد هغه ښځه ده چې د ماشوم د پيدا کېدلو سره وفات شي .

---

[1] شرح صحيح مسلم للنووي
[2] مسند ابي داود الطيالسي

المقتول دون ماله

(هغه چې د خپل مال په دفاع کې ووژل شي)

که څوک چې د چا په مال باندې تجاوزي او تيري وکوي او له ده څخه دده مال اخلي دی له هغه سره مقابله وکوي که پدې مقابله کې دی ووژل شو نو دا هم **شهيد** دی الله β به په جنت کې ورته د شهادت لوړې مرتبې ورکوي د حضرت ابي هريره I نه روايت دی هغه فرمايي : **جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ رَجُلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي ؟ قَالَ : فَلَا تُعْطِهِ مَالَكَ ، قَالَ : أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلَنِي ؟ قَالَ : قَاتِلْهُ ، قَالَ : أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلَنِي ؟ قَالَ : فَأَنْتَ شَهِيدٌ ، قَالَ : أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُهُ ؟ قَالَ: هُوَ فِي النَّارِ** .[1]

ترجمه : يو سړی رسول الله γ ته راغلو ورته يې وويل : يا رسول الله ستا څه نظر دی که يو څوک راشي لما څخه زما مال اخلي؟ (يعني زه ورسره څه وکوم؟) رسول الله γ ورته وويل : مه يې ورکوه هغه کس وويل که هغه کس لما سره جنګ وکوي؟ رسول الله γ ورته وويل : ته هم ورسره جنګ وکوه هغه کس وويل : بيا ستا څه نظر دی که هغه ما مړ کړي؟ رسول الله γ ورته وويل : ته **شهيد** يې هغه کس وويل که زه هغه مړ کړم؟ رسول الله γ ورته وويل : هغه به په اور کې وي .

بل حديث دی حضرت سعيد بن زيد I فرمايي رسول الله γ فرمايل : **مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ** .[2]

---

1 رواه مسلم ١٤٠
2 رواه الترمذي ١٤٢١

ترجمه : څوک چې د خپل مال په دفاع کې ووژل شي هغه شهید دی .

پدې ځای کې فقهاء کرام فرمایي : **إِذَا تَعَرَّضَ شَخْصٌ لِإِنْسَانٍ يُرِيدُ الِاعْتِدَاءَ عَلَى نَفْسِهِ أَوْ أَهْلِهِ أَوْ مَالِهِ : فَإِنْ أَمْكَنَهُ رَدُّهُ بِأَسْهَلِ طَرِيقَةٍ مُمْكِنَةٍ فَعَلَ ذَلِكَ ،.. وَإِنْ لَمْ يُمْكِنْ رَدُّهُ إِلَّا بِالْقِتَالِ قَاتَلَهُ ,فَإِنْ قُتِلَ الْمُعْتَدَى عَلَيْهِ فَهُوَ شَهِيدٌ ، وَإِنْ قُتِلَ الْمُعْتَدِي فَلَا قِصَاصَ وَلَا دِيَةَ .**

ترجمه : که چېرته یو شخص په بل باندې تعرض وکولو او د هغه په نفس ، اهل او یا مال یې تجاوز کول غوښتل نو که په اسانه طریقه سره یې رد کولی شو نو رد یې دې کړي او که د جنګ نه بغیر بله لاره د هغه د رد کولو نه وه نو بیا د جنګ ورسره وکوي که چېرته هغه کس چې تجاوز ورباندې شوی وو ووژل شو دا شهید دی او که چېرته تجاوز کونکی ووژل شو په وژونکي کس نه قصاص شته او نه وربانډې دیت شته

د فقهاوو پدې قول کې اول راغلل چې که په اسانه سره یې دفع کولی شو معنی یې داده که په چیغه سره کېدای شو نو چیغه د پرې ورکوي چې هغه و تښتي او بیا که پوهېدو چې په کوتک او لرګي سره یې ووهي هم تښتي نو په هغه د ووهي او که بیا ده وریسې سلاح را واخیسته او هغه په منډه شو و تښتېدو نو د تیښتې په حالت کې یې دې بیا نه وژني او که چېرته یې یو وار پرې وکولو او هغه را وغورځېدو نو بیا د بل ګذار پرې نه کوي ...

د پورتني حدیث په ځای داسې روایت هم شوی دی :
يا رسول الله أرأيت إن عُدِي على مالي؟ قال : فانشد بالله. قال: فإن أبوا عليَّ. قال: انشد بالله، قال: فإن أبوا عليَّ. قال: فنشد الله.

قال: فإن أبوا عليَّ. قال فقاتل، فإن قُتلت ففي الجنة، وإن قَتلتَ ففي النار .[1]

ترجمه : هغه راغلي كس رسول الله γ ته وويل : يا رسول الله γ كه زما په مال تجاوز وشي ستا څه رايه ده؟ رسول الله γ ورته وويل هغه ته د الله β روى وركړه (ورته ووايه د الله β خاطر وكوه مه راځه) هغه كس وويل : كه هغه پدې منع نشي ؟ نو رسول الله بيا ورته همدا خبره وكوله هغه كس بيا وويل كه هغه پدې منع نه شي؟ رسول الله بيا ورته همدا خبره وكوله هغه كس بيا خپل سوال تكرار كړو بيا رسول الله γ ورته وويل : بيا ورسره جنګ وكوه كه ووژل شوې ته به جنت ته ځي او كه د ووژلو هغه به دوزخ ته ځي .

ددې لپاره چې اسلام تر ممكنه حده پورې د جنګ او وينې تويېدلو څخه مسلمانانو ته د ځان ساتنې حكم كوي نو پدې حديث كې رسول الله γ تر دريو وارونو پورې هغه ته د مهلت وركولو او خبرې كولو امر وكولو خو كه بيا هم هغه پدې خبره نه پوهيږي نو رسول الله γ امر وكولو چې جنګ د ورسره وشي كه پدې جنګ كې له خپل مال نه دفاع كونكى كس ووژل شي نو **شهيد** دى ځكه د خپل مال او خپل حق په دفاع كې وژل شوى دى او كه هغه تجاوز كونكى كس ووژل شي نو دوزخي دى .

المقتول ظلماً

(هغه چې په ظلم سره ووژل شي)

---

[1] رواه النسائي ٤٠١٤

هغه کس چې څوک وربانديې ظلم وکوي او قتل يې کړي هغه هم شهيد دی الله β به په جنت کې ورته د شهيدانو مرتبې ورکوي له حضرت ابن عباس I څخه روايت دی هغه فرمايي رسول الله γ فرمايل : **مَنْ قُتِلَ دُونَ مَظْلَمَتِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ** .[1]

ترجمه : هغه کس چې په ظلم سره ووژل شي هغه شهيد دی .

په بل حديث کې له حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص I څخه روايت دی هغه فرمايي رسول الله γ فرمايل : **مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُظْلَمُ مَظْلَمَةً ، فَيُقَاتِلُ فَيُقْتَلُ ، إِلا قُتِلَ شَهِيدًا** .[2]

ترجمه : په هر مسلمان چې ظلم وشي او هغه د هغه ظلم په بدل کې جنګ وکوي او وژل شي دا شهيد دی .

---

1 روان النسايي ٤٠٢٨
2 رواه احمد ٦٦١٩

المقتول دون دينه او ماله او اهله

(هغه چې د خپل دين ، يا مال يا اهل په دفاع کې ووژل شي)

که په دين باندې څوک تېرى کوي او څوک يې دفاع وکوي پدې لاره کې هغه ووژل شي که د چا په مال څوک تېرى کوي او په دفاع کې يې څوک ووژل شي او يا که د چا په اهل باندې څوک تېرى کوي او بل کس لدې شيانو دفاع کول غواړي او پدې دفاع کې دا په شهادت ورسيږي نو دا کس شهيد دى رسول الله γ فرمايي .

وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ . [1]

ترجمه : هغه چې د خپل مال په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دى هغه چې د خپل دين په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دى هغه چې د خپل ځان په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دى هغه چې د خپل اهل په دفاع کې ووژل شي هغه شهيد دى .

ددېنه علاوه هم ډېر کسان دي چې رسول الله γ ورته د شهيد مرتبه ياده کړېده د مثال په ډول په يو حديث کې راغلي دي چې د غربت مرګ هم شهادت دى او په ځينې کې ځينې کلمات راغلي چې څوک يې سحر او ماښام ووايي که وفات شي نو شهيد دى ځينې نورې کلمې دي چې څوک يې ووايي نو د شهيد مرتبه ورکول کيږي خو زه دلته په همدې شهيدانو باندې اکتفاء کوم .

[1] رواه الترمذي ١٣٤١

د شهادت لوی شرط

دا چې څوک شهید کېدلی شي او څوک نشي ددې لپاره علماوو σ شرطونه ذکر کړي دي ځینې داسې شرطونه دي چې هغه په پورته یاد شویو ټولو قسمونو کې ضروري دي او ځینې یې داسې دي چې په بعض کې ضروري دي پدې ډول سره تقسیم شوي دي خو تر ټولو لوی شرط چې په هر ډول شهید کې ضروري دی هغه اسلام دی .

د شهادت شرط اسلام

دا داسې شرط دی چې په هر شهید کې ضروري هرڅوک چې وي چې په پورته یاد شویو ډولونو سره ووژل شي خو مسلمان نه وي نو بیا شهېد نه دی او نه د څه ډول احترام او اکرام وړ دی که په ظلم سره مړ شي ، که د مال په دفاع کې مړ شي ، که په جنګ کې مړ شي ، که په اور وسوزي ، که په وبا کې مړ شي که په هر ډول له دنیا تېر شي بیا هم شهید نه ګڼل کیږي ځکه دا یوه لوړه او د قدر وړ مرتبه ده چې الله β یې صرف او صرف مسلمان ته ورکوي الله β د کافرانو په اړه په قطعي طور فیصله کړې ده او فرمایي : **إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يُقْبَلَ مِنْ أُحدهِم مِّلْءُ الأرْضِ ذَهَباً وَلَوِ افْتَدَى بِهِ أُوْلَـئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ** .[1]

ترجمه : بیشکه هغه کسان چې کافران شوی دی او مړه شوی دی حال دا چې دوی کافران دی نو له سره به قبول نشی له یوه د دوی څخه په ډک والی د ځمکې سره زر او اګر که فدیه ورکړی دی په دغه (ټولو زرو) سره ، دغه کسان (چې کفار مړه

[1] سورة آل عمران آیة ۹۱

دى) شته دوى لره عذاب دردناک او نشته دوى لره هيڅ مدد ګاران (چې مرسته (مدد) ورسره و کړى).

په بل ځاى کې الله β فرمايي : **وَمَن يَكْفُرْ بِالإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ .** [1]

ترجمه : او هر څوک چې کافر (منکر) شو په ايمان (او مؤمن به شيانو) پس په تحقيق ضائع (باطل) شو عمل د ده او آخرت کې به له زيانکارانو څنى وى .

نو ددې امله هرچاته بايد موږ **شهيد** ونه وايو تاسې به ځينې داسې جاهلان هم ليدلي وي چې هغه کس ته هم **شهيد** وايي چې د ټولې دنيا علماوو σ يې په کفر باندې فيصله کړې وي او ځينې خو **شهيد** صرف هغه چاته وايي چې د هغه په مرګ دده زړه بد شي او دېته نه ګوري چې د اسلام په دښمني کې او که د اسلام په دفاع کې وژل شوى دى نو ځکه چې موږ چا ته **شهيد** وايو بايد څه نا څه فکر پکې وکوو .

او که چېرته يو کس وي په ښکاره وايي چې زه مسلمان يم په پټه هغه کافر وي دېته منافق ويل کيږي د هغه سره به په دنيا کې موږ د مسلمان رويه کوو او که په جهاد کې ووژل شي همداسې رويه به ورسره کوو لکه د نورومسلمانانو **شهيدانو** سره يې چې کوو او آخرت به يې الله β ته سپارو د آخرت په اړه يې الله β موږ ته فرمايي : **إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيراً .** [2]

---

1 سورة المائدة آية ٥
2 سورة النساء آية ١٤٥

ترجمه : بیشکه منافقان دی په طبقه ډیره ښکته کې له اوره (د دوزخ) او له سره به نه مومی ته دوی ته مدد ګار (له عذابه خلاصوونکی).

پدې اړه مخکې یو حدیث هم تېر شو هلته رسول الله γ فرمایلي وو چې تورهٔ نفاق نشي ختمولی یو څوک چې منافق وي که هغه هرڅو په تکلیف سره په جنګ کې د هرڅومره ډېرې قربانۍ څخه وروسته ووژل شي بیا هم هغه منافق دی جنت ته نشي تلی که یو ګناهګار مسلمان په جهاد کې ووژل شي مخکې تېر شول چې د قرض نه علاوه نور ګناهونه ورته بښل کیږي لکن منافق چې مړ شي دده دا مرګ له ده څخه نفاق نشي ختمولی.

د آخرت په شهید کې شرطونه

الف : اخلاص

د مثال په ډول چې هرڅنګه مجاهد وي چې هغه په جهاد کې په شهادت ورسیږي موږ ورسره د شهید معامله کوو یعنې غسل نه ورکوو او د خپلو جامو سره یې ښخوو لکن الله β چې کومې لوړې مرتبې او عالي مقامونه ورکوي یوازې هغه شهید ته به یې ورکوي چې هغه د پوره اخلاص سره او د الله β د رضا لپاره جهاد ته وړاندې شوی وي لکه الله β چې فرمایي : **وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء**[1].

ترجمه : حال دا چې امر حکم نه وو ور کړل شوی دوی ته په توریت او انجیل کې مګر ور کړی شوی وو چې عبادت دکوي دوی د الله β په داسې حال کې

[1] سورة بينة آية ٥

چې خالص کوونکي وي الله β لره دین له شرکه او نفاقه په داسې حال کې چې راګرځېدونکی وي له باطله حق ته (په لاره د ابراهیم پس څرنګه کافر کیږی په محمد باندې ؟).

او مخکې احادیث تېر شول :

رسول الله γ فرمایي : **إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لاِمْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ.**[1]

ترجمه : بېشکه ثوابونه د عملونو په نیتونو سره دي او بنده ته هغه څه رسیږي چې ده یې نیت کړی وي د چا چې هجرت د الله β او د هغه د رسول γ لپاره وي نو د هغه هجرت د الله β او د هغه د رسول γ لپاره دی او د چا چې هجرت ددنیا د حاصلولو لپاره وي یا د کومې ښځې سره د واده لپاره وي نو د هغه هجرت د هغه څه لپاره دی چې د کوم شي لپاره یې هجرت کړی وي .

نو الله β د موږ وساتي ډېر به داسې کسان هم وي چې هغوی به **شهیدان** وي په دنیا کې به موږ ورباندې د **شهید** احکام عملي کړو لکن الله β به د هغه شهادت قبول نه کړي او هغه ثواب به ورنه کړي چې د کوم له **شهیدانو** سره وعده شوې ده یوازې **شهیدان** هم نه بلکه ډېر علماء σ به وي چې د هغوی نه دا علم او دا سعی نه وي قبوله شوې او داسې نور پدې اړه د رسول الله γ یو حدیث دی له حضرت ابي هریره I نه روایت هغه فرمایي رسول الله γ

---

[1] متفق علیه

فرمایل : إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا قَالَ قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ. قَالَ كَذَبْتَ وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لأَنْ يُقَالَ جَرِىءٌ. فَقَدْ قِيلَ. ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِىَ فِي النَّارِ. [1]

ترجمه : بېشکه چې د قیامت په ورځ چې د چا په اړه اول فیصله کیږي یو کس به وي چې **شهید** شوی به وي هغه به راوستل شي الله β به خپل نعمتونه ور په یاد کړي او ده ته به هم یاد شي بیا به الله β ورته ووایي : تا پدې نعمتونو کې څه وکول؟ هغه به ورته ووایي ما تر هغه وخته پورې ستا په لاره کې جنګ وکولو تردې چې زه **شهید** شوم الله β به ورته ووایي تا دروا غ وویل : بلکه تا ددې لپاره جنګ وکولو چې خلق ووایي چې دی ډېر زړور دی او خلقو دا وویل (تا چې د کوم شي لپاره جنګ کولو هغه کار وشو) بیا به امر وشي هغه به په مخ باندې کش کړل شي تردې چې په اور کې وغورځول شي .

ب : ثبات ، استقامت او صبر

هغه **شهید** چې په آخرت کې الله β ورته لوړې مرتبې ورکوي دا به هغه **شهید** وي چې په سختیو باندې یې صبر کړی وي او که په جنګ کې شهېد شوی وي په خپل ځای باندې محکم ولاړ وي شکست یې نه وي خوړلی او په شا باندې نه وي راغلی او که له کومې بیماري نه په حق رسېدلی وي یا له کوم مصیبت نه نو له خپل تکلیف نه یې شکایت نه وي کړی بلکه صبر یې کړی وي الله β پدې اړه فرمایي

[1] متفق علیه

: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُواْ وَاذْكُرُواْ اللّهَ كَثِيراً لَّعَلَّكُمْ تُفْلَحُونَ . [1]

ترجمه : اى هغو كسانو چې ايمان ئې راوړى دى (يعنى اى مؤمنانو) كله چې مخامخ شئ له كوم فوځ ((د دښمن)) سره (چې جنګ درسره كوي) نو ثابت قدم اوسئ تاسې (او مه ترې تښتئ) او يادوئ تاسې الله ډير (په خوله او زړه) ښائي چې تاسې په مراد ورسيږئ (په برى سره پر دښمن د ذكر په بركت) .

الله پدې آيت كې بندګانو ته ورښيي چې له دښمن سره ښكه مخامخ شي الله امر كوي چې ثابت او ټينګ به اوسئ او صبر به كوئ ، نه به تښتئ ، نه به شا ته ځئ بلكه په هغه وخت كې به ذكر كوئ او الله به نه هېروئ او په هغه باندې به توكل كوئ .

په بل ځاى كې الله فرمايي : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ . [2]

ترجمه : اى هغو كسانو چې ايمان ئې راوړى دى (اى مؤمنانو !) صبر كوئ (په طاعت ، مصيبت او له معصيته) او ټينګ اوسئ ! په صبر (د كفارو په مقابل كې) او محكم اوسئ ! (په اسلامى سرحداتو كې) ! او وويريږئ ! له الله له پاره د دې چې په مراد ورسيږئ ! (بريالى شئ ! او له دوزخه نجات ومومئ !) .

---

1 سورة الانفال آية ٤٥
2 سورة آل عمران آية ٢٠٠

په بل ځای کې الله β فرمايي : **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُواْ زَحْفاً فَلاَ تُوَلُّوهُمُ الأَدْبَارَ وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلاَّ مُتَحَرِّفاً لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاء بِغَضَبٍ مِّنَ اللّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ** .[1]

ترجمه : اى هغو كسانو چې ايمان ئې راوړى دى ((يعنى اى مؤمنانو !)) كله چې يو ځاى شئ تاسې (يا مخامخ شئ يا پېښ شئ جنګ کې) هغو كسانو سره چې كافران شوي دي ((د جنګ په ډګر كې)) په دغه حال كې چې دوى غونډ (او ګڼ) وى نو مه ګرځوئ تاسې دغو (كفارو) ته شاوې خپلې ((د تېښتې په نيت)) او هر هغه چې وګرځوي دغو ((كفارو)) ته په دغه ورځ ((مخامخ كېدلو د جنګ)) شا خپله مګر په دې حال كې چې ګرځېدونكى وي (په هنر سره) له پاره د جنګ يا حال دا چې يو ځاى كېدونكى وي طرف د بلې طائفې (د مجاهدينو) (نو پدې صورتونو كې څه پروا نشته كه په شا راشي او كه دا صورتونه نه وي) نو په تحقيق رجوع ئې وكړه او اخته شو په غضب (قهر) له ((جانبه د)) الله β او ځاى د اوسېدلو د ده دوزخ دى او بد ځاى د ورتلو دى (دا دوزخ).

د حضرت ابي قتادة I نه روايت دى هغه فرمايي رسول الله γ ته يو كس راغلو ورته يې وويل : كه زه د الله β په لاره كې ووژل شم زما ګناهونه به ما ته ښل كيږي؟ رسول الله γ ورته وويل : **نعم إن قتلت في سبيل الله وأنت صابر محتسب مقبل غير مدبر** .[2]

ترجمه : هو! كه ته چېرته پداسې حالت كې د الله β په لاره كې ووژل شې چې ته صبر كونكى وې مخلص

[1] **سورة الانفال آية ١٥ او ١٦**
[2] **رواه مسلم**

وې پداسې حالت کې ووژل شې چې دښمن ته د مخ کړی وي شا د نه وي اړولې (د تېښتې په حالت کې نه وې) .

د شهيد احکام

شهيد ته به غسل نه ورکول کيږي

د شهيد تفصيلي قسمونه وړاندې تېر شول په هغوی کې چې کوم اول نمبر شهيد وو چې د جنګ شهيد او يا د ميدا ن شهيد ورته ويلی شو جمهور علماء σ په دې نظر دی چې هغوی ته به غسل نه ورکول کيږي .[1]

حضرت جابر بن عبد الله I فرمايي د اُحد په ورځ رسول الله γ د اُحد د شهيدانو په اړه وفرمايل : **ادفنوهم في دمائهم** .[2]

ترجمه : دوی په خپلو وينو کې دفن کړئ .

همدارنګه حضرت جابر بن عبد الله I د يو بل وخت واقعه بيانوي او فرمايي : **رمي رجل بسهم في صدره، أو قال: في جوفه، فمات، فأدرج في ثيابه كما هو، ونحن مع رسول الله** .[3]

ترجمه : يو کس په غيشي باندې په سينه کې وويشتل شو او يا په ګېډه کې وويشتل شو بيا په حق ورسېدو نو په خپلو جامو کې ونغښتل شو لکه څنګه چې وو او موږ له رسول الله γ سره وو .

[1] **المبسوط: 49/2، بدائع الصنائع: 324/1**
[2] **رواه البخاري في كتاب الجنائز**
[3] **اخرجه الامام احمد في مسنده**

همدارنګه حضرت عبد الله بن ثعلبة I هم فرمايي : رسول الله γ د اُحد د اُحد په ورځ په شهيدانو په اړه وفرمايل : **زملوهم في ثيابهم** .[1] (يعني دوی په خپلو جامو کې ونغاړئ)

شهيد ته غسل ولې نه ورکول کيږي؟

شهيد ته د غسل نه ورکولو يوه وجه داده چې په ده باندې د عبادت يو اثر پروت دی چې دده وينه او دده دشهادت حالت دی که چېرته موږ ده ته غسل ورکړو دا د عبادت اثر به لده څخه ختم شي او په شريعت کې ددې پرېښودل مستحب دي حضرت ابو هريره I فرمايي رسول الله γ فرمايل : **وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُكْلَمُ اُحد فِي سَبِيلِ اللَّهِ - وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ - إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجُرْحُهُ يَثْعَبُ دَمًا ، اللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ ، وَالرِّيحُ رِيحُ مِسْكٍ** .[2]

ترجمه : زما د په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی يو څوک د الله β په لاره کې نه زخمي کيږي او الله β ښه خبر دی چې څوک د هغه په لاره کې زخمي کيږي مګر د قيامت په ورځ به راشي او له زخم نه به يې وينه بهيږي رنګ به يې رنګ د وينې وي او بوی به يې د مسکو بوی وي .

ددې امله خو يو عالم السهيلي ρ پدې اړه فرمايي چې شهيد به له خپلې مبارکې وينې سره خښول کيږي او وينه به له هغه څخه نه لرې کيږي او هغه زياتوي : **فكيف يطهر منه وهو طيب وأثر عبادة،**

[1] اخرجه الامام احمد في مسنده
[2] صحيح البخاري و مسلم

ومن هذا الأصل انتزع بعض العلماء كراهية تجفيف الوجه من ماء الوضوء... ومن هذا الأصل انتزع كراهية السواك بالعشي للصائم؛ لئلا يذهب خلوف فمه، وهو أثر عبادة. [1]

ترجمه : د شهيد نه وينه ولې پاكه شي او هغه د عبادت اثر دى او د همدې امله خو ځينې علماوو σ د اوداسه له اوبو څخه د مخ وچول مكروه ګڼلي دي او د همدې امله په روژه كې د ماسپښين نه وروسته مسواك وهل مكروه ګڼل شوي دي ځكه لدې سره د خولې نه هغه بوى لرې كيږي چې د روژه لرونكي په خوله كې وي او هغه د عبادت اثر وي .

او په همدې ډول كله چې يو كس په احرام كې (د حج په وخت) كې په حق ورسېدو رسول الله γ امر وكولو چې په ده باندې د احرام آثار پريږدئ رسول الله γ وفرمايل : **اغسلوه بماء وسدر، وكفنوه في ثوبين، ولا تحنطوه، ولا تخمروا رأسه، فإنه يبعث يوم القيامة ملبيًا.** [2]

ترجمه : په اوبو او سدر سره يې وويندئ او په دوو جامو كې كفن وركړئ خوشبويي وربانديې مه لګوئ او سر يې مه ور پټوي بېشكه دا به د قيامت په ورځ پداسې حالت كې را پورته كيږي چې تلبيه به وايي .

بله وجه يې داده چې علماء σ فرمايي شهيد ته به غسل نه وركول كيږي ځكه : **لأجل أن يبقى دمه شاهدًا على خصمه يوم القيامة ، وشاهدًا على من ظلمه، لأنه إذا حضر**

---

1 الروض الانف
2 صحيح البخاري

إلى السيد عبده محمولاً بدمائه وهيآت جراحه وهيئته التي لاقى بها أعداءه، فنظر إليه السيد على تلك الحال، كان أبلغ في عطفه عليه وميله إليه، ومغنيًا عن شفاعة الشافعين عنده.[1]

ترجمه : ددې امله چې د هغه وينه دده په مخالف لوري باندې يو ګواه پاتې شي او په هغه چا باندې شاهد شي چې په ده باندې يې ظلم کړى دى ځکه چې يو مالک ته د هغه غلام پداسې حالت کې ورشي چې په هغه باندې وينه او زخمونه وي او په هغه حالت ورشي چې کوم حالت دده دښمنانو دده کړى وي او پدې حالت کې مالک ورته وګوري نو وربانديې مهربان کيږي او بيا ورته د سفارش کونکى د سفارش ضرورت نه وي .

يعنې شهيد ته ځکه غسل نه ورکول کيږي ترڅو شهيد په هغه شکل کې د خپل الله β په وړاندې حاضر شي چې په کوم شکل کې دى شهيد کړل شوى دى او هغه وينه او ټول د شهادت اثرونه دده په ځان باندې وي دا به په هغه کسانو باندې چې دى يې په شهادت رسولى دى يو دليل وي چې پده باندې يې ظلم کړى دى .

شهيد ته د غسل نه ورکولو دريمه وجه داده چې مخکې آيت تېر شو چې شهيد خو ژوندى وي او ژوندي ته خو غسل نه ورکول کيږي او دا چې موږ په هغه باندې د هغه وينه پريږدو او هغه په هماغه حالت کې پريږدو چې په کوم حالت کې شهيد شوى دى نو معنى يې داده چې زموږ ټينګ ايمان دى چې هغه شهيد مړى شوى نه دى بلکه د يو دار (دنيا) نه بل دار (آخرت) ته الله β نقل کړى دى .[2]

---

[1] الذخيرة، للقرافي **475/2**
[2] أحكام القرآن، لابن العربي **68/1**

خلورمه وجه يې داده چې اکثر په جهاد کې حالات عادي نه وي او کله کله شهيدان هم زيات وي چې په هغوی کې اکثر د زياتو زخمونو مالکان وي او د هغوی وينځل سخت شي او اکثر ژوندي پاتې کسان هم په ځانونو باندې زخمونه لري چې هغوی ته هم پدې کې تکليف دی چې د شهيدانو خدمت وکوي او هر وخت حالات دېته برابر نه وي نو ځکه شهيدانو ته غسل ورکول معاف شوي دي .[1]

پنځمه وجه يې داده چې شهادت پخپله پاکونکی دی کله چې انسان شهيد شي همدا پاکي يې بس ده هغه ته د غسل ضرورت نه وي .[2]

شپږمه او کلکه وجه يې داده چې دا د شارع امر دی بغير د علة او وجې نه يې موږ منو لکه امام نووي ρ چې فرمايي : **والطريقة السديدة عندنا في ترك الغسل أنه غير معلل.**[3]

ترجمه : او کلکه طريقه له موږ سره د شهيد په نه غسل کې داده چې ددې لپاره څه علت نشته .

که جنب شهيد شي غسل ورته شته

که چېرته يو مجاهد پداسې حالت کې شهيد شو چې هغه جنب وو نو هغه ته به غسل ورکول کيږي دا غسل ددې امله نه چې دی په حق رسېدلی دی بلکه ددې امله چې دی جنب وو لکه د اُحد په ورځ چې رسول الله γ د شهيدانو په اړه حکم وکولو چې دوی په خپلو جامو کې ونغاړئ او غسل مه ورکوئ لکن دوو کسانو ته غسل ورکړل شو يو حضرت حنظله I چې

---

[1] المغني
[2] تبيين الحقائق249/1
[3] المجموع 266/5

ملائکو ورته ورکړو او يو سيد الشهداء حضرت حمزه I دوی ته ددې امله غسل ورکړل شو چې کله د جهاد اعلان وشو دوی د شپې ځان ته دومره وخت ورنه کړو چې غسل وکوي او راساً يې د جهاد اواز ته لبيک وويل او ميدان ته روان شول او د جنابت غسل په دوی باندې پاتې شوی وو .[1]

[1] أخرجه ابن أبي شيبة في المصنف: 458/2

لــه شهيد نــه بــه نــجاست لــرې كــيــږي

كـه د شهيد لـه بـدن سره كـوم نـجس شى ولـګـيـږي لـكـه ګـنـدګـي يـا بـل شى هغـه بـه د شهيد لـه بـدن څخه پـاكـول كـيـږي او تـرې صفـا كـول كـيـږي بـه لـكـن اوس پـوښـتـنـه دلـتـه داده چې كـلـه د نـجاست خبـره شي نـو هغـه ويـنـه چې وبـهـيـږي هغـه خـو هم پـه نـجاست كې راځـي الله β فـرمـايـي : **إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ .** [1]

تـرجمه : بـيشكـه هم دا خبـره ده چې حرام كـړي دي (الله β) پـه تـاسې بـانـدې (خوراک) د مـرداري او (حرام كـړى دى الله β خوراک) د ويـنـې (بـهـيدونـكـې) او (حرام كـړى دى الله β خوراک د) غوښې د خـنـزيـر. او (حرام كـړى الله β خوراک د) هـر هغـه حلال كـړل شوي چې آواز كـړل شوى وي پـه هغـه بـانـدې (پـه وخت د ذبـحې كـې) بـى لـه پـاک الله β نـو هغـه څوک چې اړ (ضرورتـمـنـد) شى (د دې حرامـو خوړلـو تـه) حـال دا چې نـه ظلم كـوونـكـى او نـه تـجاوز كـوونـكـى وي (لـه قـدر د كـفـافـه) نـو نـشتـه ګـنـاه پـه ده بـانـدې بـېشكـه چې الله β لـوى بـخښونـكـى پـوره رحم لـرونـكـى دى .

پـه پـورتـنـي آيـت كـې و الـدم تـكـى ښكـاره يـاد كـړل شوى دى چې پـه نـجسو شيـانـو كـې حساب شوى دى همدارنـګـه پـه بـل ځـاى كـې الله β فـرمـايـي :

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ . [2]

---

[1] سورة البقرة آية ١٧٣

[2] سورة المائدة آية ٣

ترجمه : حرام کړی دی پر تاسې (خوراک د) مردار (حيوان) او (د بهېدونکی) وينې او د غوښې د خنزير .

همدارنګه په بل ځای کې الله β فرمايي : **قُل لاَّ أَجِدُ فِي مَا أُوْحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّماً عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلاَّ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَماً مَّسْفُوحاً أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ** .[1]

ترجمه : ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې نه مومم زه په هغه شي کې چې وحی کړل شوې ده ماته (تر اوسه پورې) (يوشی) حرام کړل شوی پر کوم خوړونکي چې خوري هغه مګر که وي دا شی مرداره يا وينه بهيدونکی يا غوښه د خنزير نو بيشکه دغه خنزير پليت دی .

پدې آيت کې الله β په ښکاره ډول سره ويلي دي چې دما مسفوحا يعني بهېدلې وينه او د بختور شهيد په بدن هم چې کومه وينه وي همدا وينه ده او ابن عربي صاحب ρ پدې باندې اجماع نقل کړيده چې وينه نجسه ده هغه فرمايي : **اتفق العلماء على أن الدم حرام نجس لا يؤكل ولا ينتفع به، وقد عينه الله تعالى ههنا مطلقًا، وعينه في سورة الأنعام مقيدًا بالمسفوح، وحمل العلماء ههنا المطلق على المقيد إجماعًا.**[2]

ترجمه : علماوو σ پدې اتفاق کړی دی چې وينه حرامه ده نجسه ده خوراک يې نا روا دی فايده وربانديې نه اخيستله کيږي او دلته الله β مطلقاً ياده کړيده او په سورة انعام کې الله β مقيده ذکر کړيده او پدې ځای کې علماوو σ مطلقه په

1 سورة الانعام آية ٤٥
2 احکام القرآن لابن عربي ρ

مقيده باندې حمل کړېده (په دواړو ځايونو کې مراد ترېنه بهېدلې وينه ده) .

د شهيد د وينې خاص حکم

نو آيا اوس د شهيد نه د هغه وينه پاکول هم ضروري دي؟

ځواب : ددې اشکال نه ځواب دادی چې د شهيد مبارکه وينه د وينې له ټولو احکامو نه مستثنی ده ځکه پدې کې خاص احکام راغلي دي نو د شهيد وينه ترڅو چې په شهيد باندې وي د شهيد له بدن څخه يې بالکل د لرې کولو ضرورت نشته ابن تيمية ρ پدې اړه فرمايلي دي : **الدم المسفوح هو الدم السائل الخارج من العروق، وهو نجس، ويستثنى من ذلك دم الشهيد ما دام عليه .** [1]

ددينه علاوه که د شهيد له بدن سره هر ډول نجاست ولګيږي هغه به ورڅخه پاکول کيږي او که چېرته هغه نجاست د شهيد له وينې سره ګډ شوی وو نو د هغه نجاست په اندازه به وينه هم ورسره پاکه کړي ځکه د نجاست لرې کول د شهيد په بدن باندې د هغه له وينې پرېښودلو نه ډېر ضرور دي . [2]

شهيد ته کفن ورکول نشته

شهيد به له خپلو جامو سره خښول کيږي او د کفن ضرورت ورته نشته زموږ فقهي کتاب عالمګيري پدې اړه فرمايي : شهيد به د خپلو جامو او خپلو وينو سره خاورو ته سپارل کيږي که په جامه يې کومه ګندګي لګېدلې وه هغه به ترې وينځله شي.

---

[1] شرح العمدة في الفقة
[2] عالمګيري 168/1

او پدې کې د ټولو مذهبونو اتفاق دی چې شهيد به د خپلو جامو سره خښول کيږي حضرت جابر بن عبد الله I د يو بل وخت واقعه بيانوي او فرمايي :
رمي رجل بسهم في صدره، أو قال: في جوفه، فمات، فأدرج في ثيابه كما هو، ونحن مع رسول الله . [1]

ترجمه : يو کس په غيشي باندې په سينه کې وويشتل شو او يا په ګېډه کې وويشتل شو بيا په حق ورسېدو نو په خپلو جامو کې ونغښتل شو لکه څنګه چې وو او موږ له رسول الله γ سره وو .

همدارنګه حضرت عبد الله بن ثعلبة I هم فرمايي :
رسول الله γ د اُحد په ورځ د اُحد د شهيدانو په اړه وفرمايل : **زملوهم في ثيابهم .** [2](يعني دوی په خپلو جامو کې ونغاړئ)

شهيد که لوڅ وو کفن به ورکړي

که چېرته په جنګ کې شهيد لوڅ کړل شوی وو جامې ترينه دښمن ويستلې وې او يا داسې چاودنه يا بله حادثه ورته شوې وه چې له امله يې جامې وتلې وې نو بيا به کفن ورکړل شي رسول الله γ هم د اُحد شهيدانو ته کفن ورکړی وو څکه د اکثرو په بدن باندې به پوره جامه نه وه لکن د حالاتو د سختي له امله دوه او درې په يوه جامه کې نغښتل شوي وو .

د اُحد په ورځ هم د سيد الشهداء په اړه نقل شوي دي چې په هغه باندې يوه ټوټه وه چې کله به مو د هغه سر پرې پټ کړو پښې به يې را

[1] اخرجه الامام احمد في مسنده
[2] اخرجه الامام احمد في مسنده

ښکاره شوي او چې کله به مو د هغه پښې پکې پټې کړې نو سر به يې را ښکاره شو بيا رسول الله γ امر وکولو د هغه سر پکې پټ کړل شو او په پښو باندې يې د الاذخر په نوم ګياه ور واچول شوه او دا هم يو ډول زيادت دی .[1]

خو دومره توټې به پرې نه اچوي چې تر سنت کفن (درى توټو) څخه زيات شي علماء σ پدې اړه فرمايي : **لأن الزيادة على ما عليه حتى يبلغ عدد السنة من الكمال، فكان لهم ذلك** .[2]

ترجمه : زيادت په هغه څه باندې چې په ده باندې دي تردې چې د سنت کفن تعداد ته ورسيږي دا د کفن پوره کول دي دا د دوی لپاره شته .

همدارنګه علماء σ فرمايي : او که لوڅ وي نو بيا به کفن ورکول کيږي او که صرف يوه جامه يې په ځان وه نو د سنت کفن تعداد جامې به ورپوره کړي .[3]

له شهيد نه به اضافي شيان لري کړل شي

هغه شيان چې د شهيد په بدن باندې وي او رخت نه وي يا څرمن وي يا وسپنه وي هغه به دده له بدن څخه لرې کول کيږي .[4]

عالمګيري پدې اړه فرمايلي دي : او هغه شيان چې اضافي دده سره وي او د رخت له جملې څخه نه وي لکه دده سلاح يا بل د څرمنې يا وسپنې څخه

---

[1] بدائع الصنائع 324/1

[2] المبسوط

[3] عالمګيري

[4] المبسوط

جوړ شی چې ده آغوستلې وي هغه به ټول ترپنه وویستل شي که زیات شیان یې آغوستي وي لکه واسکټ جمپر او داسې نور هغه به هم ترې ویستل کیږي .

امام نووي ρ پدې اړه فرمایي چې پدې کې د علماوو σ اجماع ده چې له **شهید** نه به اضافي شیان لرې کول کیږي هغه مبارک ρ فرمایي :
وأجمع العلماء على أن الحديد والجلود تنزع عنه. [1]

ترجمه : علماوو σ پدې اجماع کړېده چې وسپنیز او څرمنیز شیان به له **شهید** څخه ویستل کیږي .

او له **شهید** سره به صرف د هغه ضروري جامه پرېښودل کیږي نور به د هغه څخه هرشی لرې کول کیږي د هغه خولی ، موزې ، پټکی او هرڅه چې وي [2] .

ددې لپاره دوی یو دلیل دا وایي چې د اُحد په ورځ رسول الله γ امر وکولو چې اضافي شیان له **شهیدانو** څخه وباسئ او یوازې د هغوی جامه وربانددې پرېږدئ همدارنګه د جاهلیت په زمانه کې دا رواج وو چې دوی به خپل قهرمانان له سلاح سره خښول او زموږ اسلام موږ له هر هغه شي څخه منع کوي چې د جاهلیت رسم او رواج وي او موږ ته امر کوي چې د کفارو سره په ناسته ولاړه ، خوراک او څښاک او هېڅ شي کې هم ځان مشابه نه کړو همدارنګه له هغوی سره د سلاح او یا بل اضافي شي خښول د هغه شي ضائع کول دي او هېڅ فایده پکې نشته او اسلام موږ له هر هغه شي نه منع کوي چې په هغه کې مصرف بې فایدې کیږي .

[1] المجموع 267/5
[2] رد المحتار 250/2

په شهيد باندې به د جنازې مونځ کيږي

د حنفي مسلک له مخې په مانځه کې د شهيد او نورو مسلمانانو مړيو فرق نشته مونځ به ورباندې اداء کول کيږي .[1]

د اُحد د شهيدانو په اړه هم حضرت عقبة بن عامر I روايت کړى دى چې رسول الله γ داسې مونځ ورباندې وکولو لکه په عامو مسلمانانو مړيو يې چې کولو .[2]

شهيد به چېرته دفن کيږي؟

د شهيد لپاره غوره خبره داده چې په کوم ځاى کې شهيد شوى وي چې هماغلته دفن کړل شي که هغه ځاى دده د خښېدلو لپاره برابر وو څه وېره نه وه چې ځوک به يې را وباسي يا به اوبه ورباندې راشي او يا څه بله وېره نه وه او که داسې له کوم شي نه ډار وو نو بيا د يوړل شي چې په کوم ځاى کې امن وو هلته د خښ کړل شي حضرت جابر بن عبد الله I فرمايي د اُحد په ورځ موږ غوښتل چې خپل مړي مدينې ته يوسو او هلته يې دفن کړو چې يو کس اواز وکولو: **إن رسول الله يأمركم أن تدفنوا القتلى في مضاجعهم، فرددناهم** .[3]

ترجمه : رسول الله γ امر کوي چې مړي په هغه ځاى کې خښ کړئ چېرته چې پراته دي .

---

[1] تبيين الحقائق 248/1، شامي 250/2
[2] صحيح بخاري
[3] رواه ابو داود في كتاب الجنائز

همدارنګه د حضرت جابر I نه روایت دی هغه فرمايي رسول الله γ فرمايل : **ادفنوا القتلى في مصارعهم.** [1](شهيدان په هغه ځای کې خښ کړئ چېرته چې شهيدان شوي دي) .

د حنين له جنګ وروسته د طائف تاريخي واقعه وه په هغه کې دوه کسان په شهادت ورسېدل هغه رسول الله γ ته راوړل شول رسول الله γ وويل : چېرته چې شهيدان شوي دي هماغلته يې دفن کړئ . [2]

په علماوو σ کې ابن قدامة ρ فرمايي : **ويستحب دفن الشهيد حيث قتل .** [3](شهيد هلته دفن کول مستحب دي چې په کوم ځای کې وژل شوی وي) .

مخکې د اُحد د شهيدانو په اړه د حضرت جابر I حديث تېر شو امام سرخسي ρ د هغه حديث په اړه فرمايي : **وهذا حسن ليس بواجب، وإنما صنع هذا رسول الله γ لأنه كره المشقة عليهم بالنقل مع ما أصابهم من القروح.** [4]

ترجمه : دا ښه خبره ده خو واجبه نه ده (چې شهيد په هغه ځای کې دفن کړل شي چېرته چې شهيد شوی وي) او رسول الله γ د اُحد په ورځ داسې ځکه وکول چې رسو ل الله γ نه غوښتل چې دوی ته تکليف ورسيږي سره ددې چې دوی ته زخمونه رسېدلي وو (په اُحد کې تقريباً ټول شريک صحابه کرام φ زخميان شوي وو) .

---

1 اخرجه النسائي
2 اخرجه النسائي في كتاب الجنائز
3 المغني
4 شرح السير الكبير

خو ابن قیم ρ فرمايي : **السنة في الشهداء أن يدفنوا في مصارعهم، ولا ينقلوا إلى مكان آخر.** [1]

ترجمه : په **شهيدانو** کې سنت داده چې په هغه ځای کې خښ کړل شي چېرته چې **شهيدان** شوي وي او بل ځای ته نقل نه کړل شي .

زموږ د مذهب ځينې کتابونه بيا وايي چې په کوم ځای کې **شهيد** شي نو د هغه خلقو په هديره کې د خښ کړل شي : **ويستحب في القتيل والميت دفنه في المكان الذي مات، في مقابر أولئك القوم .** [2]

ترجمه : د وژل شوي او مړي لپاره مستحب ده چې په هغه ځای کې خښ کړل شي چېرته چې وفات شوی وي د هغه خلقو په هديره کې .

---

[1] زاد المعاد

[2] عالمګيري او فتاوی قاضيخان

که قبرونه ویستل تکلیف وو

کله کله داسې کیږي چې په جنګ کې شهیدان زیات شي بیا د ژوندیو لپاره اسانه نه وي چې د هر یو لپاره بېل قبر وباسي نو پداسې صورت کې روا ده چې دوه دری او یا زیات په یوه قبر کې دفن کړل شي د اُحد د ورځې په اړه حضرت هشام بن عامر I فرمایي : موږ رسول الله γ ته د اُحد په ورځ شکایت وکولو چې یا رسول الله هر یو شهید ته بېل بېل قبر ویستل زموږ لپاره اسان نه دي (له یوې خوا شهیدان زیات وو او له بلې خوا ټول ځوانان زخمیان وو) رسول الله γ چې مهربان استاذ او مهربان رهبر وو وفرمایل : **احفروا وأعمقوا وأحسنوا، وادفنوا الاثنين والثلاثة في قبر واحد** .

ترجمه : قبرونه ژور کړئ ، ښه یې ژور کړئ او ښائسته یې جوړ کړئ دوه او دری په یوه قبر کې دفن کړئ بیا صحابه وو φ ورته وویل : بیا څوک مخکې کړو؟ رسول الله γ وویل : **قدموا أكثرهم قرآنا** .[1]
(هغه کس مخکې کړئ چې ډېر قرآن یې زده وي) .

ددې امله علماوو σ اجازه ورکړېده که حالات سخت وو او د هر شهید لپاره بېل قبر ویستل تکلیف وو نو متعدد کسان د په یوه قبر کې دفن کړل شي .[2]

---

[1] اخرجه النسائي في كتاب الجنائز
[2] فتاوى قاضيخان

د شهيد تر شهادت وروسته

څرنګه چې شهيد د الله β د رضا لپاره خپل ځان
قربان کړو الله β ته ډېر ګران دی او الله β به ورته
لوړې مرتبې ورکوي ددې امله يې ټولو خپلوانو
او شا ته پاتې خلقو ته په کار دي چې دده په
فراق کې د پوره زغم او صبر څخه کار واخلي او
د هغه لپاره په دعا ګانو کې لوړې مرتبې
وغواړي او چې کله يې هم زړه د هغه په جدايي
باندې د درد احساس کوي نو صرف ووايي :
إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ او بايد همدا فکر وکوي چې
هېڅوک په دنيا کې د همېش لپاره پاتې کېدونکي
نه دي او بختور هغه څوک وي چې خپله او يا يې
کوم نېږدي خپلوان پدې لاره باندې لاړ شي شهادت
داسې يوه نېکه او لوړه او پاکه مرتبه ده چې
الله β يې هرچا ته نه ورکوي او چې چا ته يې الله β
ورکړي بايد د هغه خپلوان او ټول متعلقين
وربانديې خوشحالي وکوي .

الله β فرمايي : **وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوفْ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمَوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ (155) الَّذِينَ إِذَآ أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ (156) أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ (157)** [1]

ترجمه : او خامخا موږ آزمويو تاسی په يوه
شی چې هغه عبادت دی (د دښمن) له ويرې او له
لوږی (قحط) او له کموالی د مالونو (په راز
راز (قسم قسم) آفتونو سره) او د نفسونو (په
قتل، موت، مرض او نورو) او د ميوو (په آسماني
او ځمکني آفتونو سره) او زيری ورکړه صبر
کونکو ته (په جنت سره صبر کوونکي) هغه کسان

[1] **سورة البقرة**

دی کله چې وروروسیږی دوی ته څه مصیبت – نو وایی دوی بیشکه موږ (مملوک) د اللهβ یو او بیشکه موږ هم ده (الله β ته) بیا ورتلونکی یو (په آخرت کې) دغه کسان په هم دوی دی عنایتونه (بخښنې) له (طرفه د) رب د دوی او مهربانی ده او دغه کسان هم دوی دي سمه لاره موندونکي (حق ته).

حضرت صهیب I فرمایي رسول الله γ فرمایل : **عجباً لأمر المؤمن، إن أمره كله له خير، وليس ذلك لأُحد إلا للمؤمن، إن أصابته سراء شكر، فكان خيراً له، وإن اصابته ضراء صبر، فكان خيراً له**. [1]

ترجمه : د مسلمان کار هم عجیب دی په هر کار کې ورته خیر دی او دا د مؤمن نه بغیر د بل چا لپاره نشته که چېرته ورته خوشحالي ورسیږي دی وربانديې شکر وباسي نو دا دده لپاره غوره ده او که چېرته ده ته څه تکلیف ورسیږي دی وربانديې صبر وکوي نو هم دده لپاره خیر دی.

په بل حدیث کې رسول الله γ فرمایي : **أشد الناس بلاءً الأنبياء ثم الأمثل فالأمثل ، يبتلى الناس على قدر دينهم ، فمن ثخن دينه اشتد بلاؤه ، ومن ضعف دينه ضعف بلاؤه ، وإن الرجل ليصيبه البلاء حتى يمشي في الناس وما عليه خطيئة** . [2]

ترجمه : تر ټولو نه سخته ابتلاء د انبیاوو وي بیا د هغې نه لاندې چې څومره نېک وي ابتلاء یې په هماغه اندازه وي او په خلقو باندې ابتلاء او امتحان د هغوی د دین په اندازه راوستله کیږي څوک چې په دین کې کلک وي نو ابتلاء یې

[1] صحیح مسلم
[2] صحیح ابن حبان

سختـه وي او ځوک چې پـه دیـن کـې ضعیف وي ابـتلاء یـې هم کمزورې وي او پـه یـو انسان بـانـدې تـر هغه وختـه پـورې ابـتلاء راوستلـه کیـږي تـردې چې پـه خلقـو کـې ځي او پـه ده بـانـدې هېڅ خطاء او ګنـاه نـه وي پـاتـې ټـولـې تـرېـنه محـو او لـرې شـوې وي.

(پـه چا بـانـدې چې ډېـر امـتحانـونـه او سختـې ابـتلاء ګـانـې راځي دا ددې نـښه ده چې دا کس الله β تـه ګـران دی الله β تـه چې ځـوک ځـومـره ګـران شي پـه هغه بـانـدې ابـتلاء ددې امـلـه سختـه راځي چې هغه صبـر وکـوي پـدې سره دده ګـنـاهـونـه ختـمـول کـیـږي)

حضرت علـي I الاشعث بـن قـيس تـه خبـرې کـولـې د هغه د مړه زوی پـه اړه یـې ده تـه د صبـر نـصیحت کـولـو ورتـه یـې وویـل : **"إن تحزن فقد استحقت منك الرحم ، وإن تصبر ففى الله خلف من ابنك . إنك إن صبرت جرى عليك القدر وأنت مأجور ، وإن جزعت جرى عليك وأنت مأثوم"**

تـرجمه : کـه تـه چېرتـه خفـګـان وکـوې نـو تـه بـه لـه ځـانـه رحمت مـنع کـړې او کـه تـه صبـر وکـوې الله β بـه درتـه د زوی بـدل درکـړي او کـه تـه صبـر وکـوې نـو ځه چې کـیـږي هغه بـه هسې هم کـیـږي خـو تـاتـه بـه پـکـې اجـر درکـول کـیـږي او کـه تـه فـریـاد وکـوې بـیـا هم چې ځـه کـیـږي هغه خـو بـه کـیـږي او تـه بـه پـکـې ګـنـاهـګـار وې .

د شهید د کـورنـۍ حق

پـه پـاتـې مـسلمـانـانـو بـانـدې د شهید دکـورنـۍ زیـات حق دی د هغه د کـونـډې د هغه د یـتـیمـانـو پـه پـالـنـه او ساتـنـه کـې الله β لـوی لـوی اجـرونـه ایـښي دي تـردې چې ځـوک د هغوی پـالـنـه کـوي او پـه ایـمـانـداري او صداقـت سره د هغوی ساتـنـه کـوي الله β

به ورته د جهاد اجر ورکوي رسول الله γ د مجاهد داهل په اړه فرمايي : **ومن خلف غازيًا في سبيل الله بخير فقد غزا .** [1]

ترجمه : څوک چې د غازي په کور کې دده خلف شو يعني دده د کور مشکلات او کارونه يې ورته حل کول او دده د کور ساتنه يې ورته کوله دا هم غازي دی يعني هغه څوک چې د مجاهد دکور فکر وکوي او که د مجاهد په نشت والي کې د هغه د کور څه کار ورته وکوي دا هم په جهاد کې او د جهاد په ثواب کې شريک دی .

په يو حديث کې رسول الله γ د هغه کسانو د کورنيو حق ښکاره کوي چې هغوی جهاد ته تللي وي او فرمايي : **حرمة نساء المجاهدين على القاعدين كحرمة أمهاتهم، وما من رجل من القاعدين يخلف رجلاً من المجاهدين في أهله فيخونه فيهم؛ إلا وقف له يوم القيمة فيأخذ من عمله ما شاء، فما ظنكم؟ .** [2]

ترجمه : د مجاهدينو د ښځو احترام او حرمت په ناستو خلقو دومره دی لکه د دوی د میندو (هغه کسان چې جهاد ته نه ځي هغوی به د مجاهدينو د ښځو داسې قدر او احترام کوي لکه د خپلو میندو چې کوي او که هغوی ته څوک په بد نظر ګوري داسې به وي لکه خپلې مور ته چې په بد نظر ګوري) يو سړی چې له ناستو خلقو څخه وي (جهاد ته نه وي تللی) د مجاهدينو په کور کې د هغه په ځای پاتې شي د هغه په اهل کې خيانت وکوي دا کس به د قيامت په ورځ ودرول شي او مجاهد ته به اجازه ورکول شي چې دده له عمل څخه يې څومره خوښه وي ترې وا د اخلي نو ستاسې

---

[1] **صحيح البخاري**
[2] **صحيح مسلم**

څه ګمان دی؟ (چې يو څوک پدې پوه شي چې ده زما اهل ته په بد نظر کتلي وو زما په اهل کې زما نه وروسته پاتې وو هغوی ته يې بد رسولي وو اوس اجازه ورکړل شي چې د هغه له عملونو څخه يې څومره خوښه وي وا دخلي نو ستاسې څه ګمان دی څومره به تري واخلي؟)

لوی عالم امام حليمي ρ فرمايي : **وهذا -والله أعلم- لعظم حق المجاهد على -القاعد- فإنه ناب عنه، وأسقط بجهاده فرض الخروج عنه، ووقاه مع ذلك بنفسه، وجعل نفسه حصنًا له وجنة دونه، فكانت خيانته له في أهله أعظم من خيانة الجار في أهله** .[1]

ترجمه : او الله β ښه عالم دی دا بيان ددې لپاره شوی دی چې په ناست سړي باندې د مجاهد حق بيان کړي ځکه مجاهد لدې ناست سړي څخه نائب شو جهاد ته په تللو کې او له ده څخه يې وتل ساقط کړل (ده ته يې اجازه ورکړه چې دی په کور کې پاتې شي او خپله جهاد ته لاړو) او دی يې په خپل ځان باندې و ساتلو (ځکه که مجاهدين جهاد ونه کوي نو ددې تاوان ټولو خلقو ته رسيږي بيا به کفار په ټوله ساحه باندې مسلط شي او دا د ټولو خلقو لپاره تر هلاکت نه ډيره بده خبره ده) او خپل ځان يې د هغه په مخ کې لکه ديوال داسې ودرولو او دده په مخ کې يې خپل ځان سپر کړو په خپل ځان سره له ده څخه دفاع کوي نو د داسې چا په حق کې خيانت کول تر هغه خيانت څخه ډير بد دی چې څوک يې د خپل ګاونډي په حق کې کوي .

رسول الله γ به خپله د **شهيدانو** کورونو ته ورتللو د هغوی سره به يې همدردي ښکاره کوله د هغوی د

[1] **المنهاج في شعب الايمان**

احوالو پوښتنه به يې کوله حضرت انس I فرمايي رسول الله γ به په مدينه منوره کې د ام سليم کور ته ورتلو چا ورځخه پوښتنه وکوله نو رسول الله γ وفرمايل : **إني أرحمها، قتل أخوها معي** .[1] (زما ورته زړه بديږي ددې ورور لما سره **شهيد** شو) ورور يې حضرت حرام بن ملحان I وو د بئر معونة په غزا کې په شهادت رسېدلی وو .

نو رسول الله γ به ددې مبارکې کورته ورتلو او هغې ته به يې تسلي ورکوله ترڅو د خپل ورور په جدايي باندې ډېره خفه نشي او که خفه شوې وي د يو مهربان استاذ او مهربان لارښود او مهربان قائد په ورتلو سره به يې هغه غم سپک شي .

رسول الله γ به صحابه وو φ ته هم امر کاوه چې په کوم کور کې به **شهيد** شوی وو چې د هغوی سره ښه رويه وکوي د هغوی سره همدردي وکوي او د هغوی سره د ژوند په اړخونو کې مرسته وکوي کله چې د مؤتة په غزوه کې حضرت جعفر I په شهادت رسېدلی وو رسول الله γ صحابه وو φ ته وفرمايل : **اصنعوا لآل جعفر طعامًا فإنه قد أتاهم أمر شغلهم** .[2]

ترجمه : د جعفر د کورنی لپاره خوراک تيار کړئ ځکه دوی ته داسې څه ور پېښ شوي دي چې هغوی يې لدې نه مصروف کړي دي چې ځانونو ته خوراک برابر کړي .

حضرت اسماء بنت عميس د حضرت جعفر I ميرمن فرمايي کله چې حضرت جعفر I په شهادت رسېدلی وو (دا رسول الله γ ته د معجزې په توګه معلومه

---

[1] **صحيح البخاري**
[2] **رواه ابو داود**

شوې وه) رسول الله γ راغلو ماته يې ويل : د جعفر ماشومان ماته راوله ما چې ورته راوستل رسول الله γ هغوی ځان ته نېږدې کړل او د رسول الله γ له سترګو مبارکو نه اوښکې راغلې .[1]

کله چې د مؤتة د غزا نه مجاهدين را ستانه شول مدينې منورې ته چې را نېږدې شول مسلمانان او رسول الله γ مخې ته ور وتلي وو د هغوی استقبال يې کاوه او د غازيانو زامن او ماشومان ور وتلي وو د خپلو پلرونو هرکلی يې کاوه رسول الله γ مجاهدينو ته وويل : خپل ماشومان پورته کړئ او د جعفر زوی ماته راکړئ حضرت عبد الله I د حضرت جعفر ماشوم زوی راوستل شو حضرت رسول الله γ ته ورکړل شو او کله چې ټولو پلرونو خپل ماشومان په غېږو کې پورته کړل د حضرت جعفر I يتيم بچی رسول الله γ په غېږ کې پورته کړو .[2]

حضرت عبد الله بن جعفر I فرمايي ماته رسول الله γ وويل : **هنيئًا لك، أبوك يطير مع الملائكة في السماء** .[3]

ترجمه : ستا لپاره ځومره ښه ده ستا پلار په اسمان کې له ملائکو سره آلوزي .

همدا رنګه له رسول الله γ څخه وروسته د صحابه وو φ همدا عمل وو يو کس چې کله حضرت ابو بکر صديق I ته ور ننوتلو ويې کتل چې وړوکې ماشومه يې په سينه اچولې ده ناز ورکوي او مينه ورسره کوي هغه کس ورته وويل : ای د رسول الله γ خليفه

---

1 **رواه احمد**
2 **تاريخ الطبري 42/3**
3 **فتح الباري**

دا ستا لور ده؟ ده مبارک ورته وویل : نه دا د داسې چا لور ده چې لما څخه غوره وو ..

هغه کس ورته وویل : دا څوک وو چې لتا څخه له رسول الله γ څخه وروسته غوره وو ؟

ده مبارک ورته وویل : دا حضرت سعد بن الربیع I وو له تکړه خلقو څخه وو په بدر کې حاضر وو او په اُحد کې په شهادت ورسېدو.


حضرت عمر I به چې کله بیت المال تقسیم کاوه نو د شهیدانو اولادونو ته به یې له نورو نه زیاته برخه ورکوله په یو تقسیم کې یې د حضرت حنظله (هغه چې ملائکو ورته غسل ورکړی وو) زوی ته ۲۰۰ درهمه زیات ورکړل حضرت طلحة I ورته خپل وراره راوستلو هغه ته یې ترردې کمه برخه ورکړه هغه ورته وویل : دا انصاري هلک ته تا زما له وراره نه زیاته برخه ورکړه ده مبارک ورته وویل : هو ځکه د اُحد په ورځ ما دده پلار لیدلی وو چې د خپلې تورې سره یې داسې منډې وهلې لکه اوښ چې منډه وي (توره یې ډېره ښه چلوله او حملې یې ورسره کولې)

نو حنظله I په اُحد کې په شهادت رسېدلی وو نو حضرت عمر I یې ډېر وخت وروسته هم له بچي سره مینه کوله او هغه ته یې برخه زیاته ورکوله .

په بل ځای کې ده یو سړي ته څلور زره درهمه ورکړل او بیا یې زر نور پسې ورکړل چا ورته وویل : خپل زوی ته د دا زیات نه ورکوې لکه هغه ته د چې ورکړل؟ ده مبارک I ورته وویل : ځکه چې د هغه پلار د اُحد په ورځ ثابت پاتې شوی

وو او ددې (خپل زوی ته یې اشاره وکوله) پلار په هغه ورځ داسې ثابت نه وو پاتې.[1]

حضرت عمر I به چې کله د حضرت جعفر I زوی ته سلام اچولو ورته ویل به یې : **السلام عليك يا ابن ذي الجناحين** (په تا د سلام وي د هغه چا زویه چې الله β ورته دوه وزرونه ورکړي دي دا ځکه چې کله په غزوة مؤتة کې د اسلام جنډه حضرت جعفر I ته پاتې شوه نو ده په ښي لاس کې پورته کړه او په چپ لاس کې یې توره وه چې وار پرې راغلو ښی لاس یې ترینه پرې کړو ده د هغه لاس هیڅ پروا ونه کوله او جنډه یې په چپ لاس کې ونیوله څه وخت وروسته بل وار پرې راغلو چپ لاس یې ترې پرې کړو ده مبارک جنډه د خپل سر او اوږې په مینځ کې ونیوله او ښکته کېدلو ته یې پرې نه ښوده تردې چې بل وار پرې راغلو او سر مبارک یې هم پرې شو او شهید شو بیا رسول الله γ وفرمایل : الله β ده I ته د دوو لاسونو په ځای په جنت کې دوه وزرونه ورکړل ددې امله خو ورته جعفر الطیار هم وایي)



[1] تاریخ عمر بن الخطاب، لابن الجوزي ص98

ګلـــ

ونــه

شــــهــيــدان

پـدې بـرخـه کـې د څـو مـبـارکـو شهیدانو یـاد کـوم ددې لـپـاره نـه چـې زه د صحابـه وو φ شهیدان او د هغوی قـربـانـي تـاسـې تـه شمېرل غـوارم ځکه د صحابـه کـرامـو د شهیدانو یـاد تـردې زیـات دی چـې پـه یـوه کـتـاب کـې را ټـول شي بـلـکـه یـوازې او یـوازې ددې لـپـاره یـو څو ګـلـونـه شهیدان دلـتـه یـادوم چې زمـا دا رسالـه ورسره بـخـتـوره او نـېکمرغه شي صرف د خـپـل کـتـاب د تـبـرک لـپـاره د یـو څو مـحـتـرمـو شهیدانو نـومـونـه تـاسـې ذکـر کـوم الله β د دوی بـرکـتـونـه پـه مـوږ بـانـدې واچـوي .

حضرت رسول الله γ

څرنګه چې شهادت يوه لوړه مرتبه ده نو الله β خپل ګران رسول ته هم شهادت نصيب کړو د خيبر په غزا کې زينب بنت الحارث نومې ښځې چې د يهودو د مشر سلام بن مشکم ښځه وه رسول الله γ ته يو ګډ (پسه) تحفه کړو او په هغه کې يې ورته زهر واچول بيا يې له چا نه پوښتنه وکوله چې رسول الله γ په څاروي کې د کوم ځای غوښه ښه خوري؟ دوی ورته وويل : د لاس ... نو د لاس په ساحه کې يې زهر ورته ښه زيات کړل کله چې رسول الله γ له لاس نه خوراک وکولو نو هغه ورته وويل : چې په ده کې زهر اچول شوي دي (دا د رسول الله γ معجزه وه) رسول الله γ په خوله کې نوړی وغورځوله او تېره يې نه کړه بيا يې امر وکولو چې ددې ځای يهود ماته را ټول کړئ هغوی را ټول کړل شول رسول الله γ ورته وويل : زه لتاسې نه پوښتنه کوم تاسې ماته صحيح ځواب راکوئ؟ دوی ورته وويل : هـــــو يا رسول الله ..

رسول الله γ ورته وويل : ستاسې پلار څوک دی؟ دوی ورته د يو کس نوم واخيست .. رسول الله γ ورته وويل : تاسې درواغ وويل ستاسې پلار خو فلانی دی او رسول الله γ ورته بدل نوم واخيست .. دوی ورته وويل : هو! تا رښتيا وويل بيا رسول الله γ ورته وويل : که زه لتاسې نه پوښتنه وکوم تاسې ماته صحيح ځواب راکوئ؟ دوی ورته وويل هو که مو د درواغو ځواب درکړو نو داسې به تاته معلوم شي لکه د پلار په اړه مو چې درواغ درته وويل او درته معلوم شول رسول الله γ ورته وويل : د اور اهل څوک دي؟ دوی ورته وويل : مونږ به هلته د يو څه وخت لپاره لاړ شو بيا به مونږ

تـرې لاړ شو زمـوږ وخت بـه هلـتـه پـوره شي بـيـا بـه لـه مـوږ نـه وروسـتـه تـاسې (مـسلمـانـان) هلـتـه راشئ رسول الله γ ورتـه وويـل : تـاسې هلـتـه پـکې ذلـيـل اوسئ کـلـه بـه هم مـوږ هلـتـه سـتـاسې ځای ونـه نـيسو .. بـيـا رسول الله γ ورتـه وويـل : کـه زه درنـه څـه پـوښتـنـه وکـوم تـاسې مـاتـه پـکې رښتـيـا وايـاست؟ دوی ورتـه وويـل : هـــو رسول الله γ ورتـه وويـل : پـدې ګـډ کې تـاسې زهر اچولـي دي؟ دوی ورتـه وويـل : هـــــو رسو ل الله γ ورتـه وويـل : دا ولـې؟ دوی ورتـه وويـل : مـوږ وېـل کـه تـه رښتـيـا پـيـغمـبـر وې نـو زهر بـه تـاتـه تـاوان ونـه کـوي او کـه پـه درواغـو راغلـی يـې مـوږ بـه درڅخه خلاص شو ...

هغـه ښځـه رسول الله γ تـه راوستـل شوه رسول الله γ ورتـه وويـل : ولـې د داسې کـار وکـولـو؟ هغې ورتـه وويـل : مـا سـتـاسې وژل غـوښتـل رسول الله γ ورتـه وويـل : الله β زه ستـاسې پـه لاس مـړ نـه کـړم صحابـه وو φ ورتـه وويـل : دا مـړه کـوو نـه؟ رسول الله γ وويـل نـه ... رسول الله γ هغې تـه هېڅ هم ونـه ويـل نـه يـې ورتـه عذاب ورکـړو او نـه يـې څـه ډول سزا ورتـه ورکـړه هغـه کسانـو چې لـدې ګـډ نـه خوراک کـړی وو هغوی ته‌ولـو تـه يـې امـر وکـولـو چې هغـوی د علاج وکـوي خـو وروستـه د ښځې پـه اړه اختـلاف دی چې څـه ورسره وشول امـام زهري ρ فـرمـايـي : وروستـه هغې بـيـا اسلام قـبـول کـړو هغـه پـرېـښودل شوه پـه ابـي داود کې يـو روايـت نـقـل شوی دی چې دا ښځـه پـرېـښودل شوه خو کـلـه چې حضرت بـشر بـن الـبـراء I چې د همـدې ګـډ نـه يـې خوراک کـړی وو شهيد شو بـيـا دا ښځـه هم ووژل شوه .. او ددې دواړو روايـتـونـو چې يـو وايـي بـغـيـر د کـومې سزا نـه يـې پـرېـښوده او بـل وايـي چې مـړه يـې کـړه هم اختـلاف نـشتـه ځکـه پـه اول کې يـې پـرېـښوده

او وروسته چې کله حضرت بشر بن البراء I شهید شو نو بیا یې مړه کړه .

کله چې رسول الله γ سخت بیمار شو له کومې بیماري نه چې وفات شو حضرت عائشه ι فرمایي رسول الله γ ماته ویل : هغه په خیبر کې مې چې د ګډ د لاس نه یوه خوله خوراک کړی وو د هغه خوراک خوند مې په خوله کې دی نو معلومه شوه چې پدې وخت کې کله رسول الله γ ته هغه لاس د معجزې په توګه ویلي وو چې په ده کې زهر اچول شوي دي رسول الله γ هغه خوراک له خولې نه وغورځولو چې دده په خوله مبارکه کې وو لکن بیا هم څه نا څه اثر یې په رسول الله γ کړی وو او کله چې په آ خري ځل بیمار هم شو نو د همدې زهرو له امله وو نو ددې امله رسول الله γ ته الله β د شهادت لوړه مرتبه ورکړه او الله β د ورته مرتبې نورې هم لوړې کړي .

حضرت ابو بکر الصدیق I

د حضرت ابي بکر صدیق I د وفات سبب په ښکاره کې تبه وه خو د تاریخ ځینې علماء σ لکه امام طبري ρ په تاریخ طبري کې لیکلي دي همدارنګه امام حافظ ابن حجر ρ په الاصابة کې لیکلي دي چې حضرت ابو بکر صدیق I ته تر وفات یو کال وړاندې یوې یهودې ښځې وریژې ورکړې وې چې په هغې کې زهر اچول شوي وو په هغه وخت کې له ده I سره په خوراک باندې دوه کسان نور هم شریکان وو چې یو ته یې عتاب بن اسید ویل او یو یې صحابي وو حضرت حارث بن کلدة I کله چې حضرت حارث بن کلدة خوراک وکولو هغه ته ښکاره شوه چې پدې کې زهر اچول شوي دي زر یې د حضرت

ابـي بـكـر الـصـديـق I لاس ونـيـولـو او ورتـه يـې وويـل : اى د رسـول الله γ خـلـيـفـه تـاتـه يـو كـلـنـي زهـر دركـړل شـول (داسـې زهـر دركـړل شـول چـې كـلـه بـدن تـه نـنـوزي يـو كـال وروسـتـه تـاثـيـر كـوي) ددې نـه وروسـتـه خـو دوى خـوراک بـس كـړو خـو زهـر خـو د دوى مـعـدو تـه تـېـر شـوي وو هـمـاغـه وو چـې لـدې حـادثـې نـه پـوره يـو كـال وروسـتـه د حـضـرت ابـي بـكـر صـديـق I بـيـمـاري شـروع شـوه او پـه هـمـدې كـال كـې د نـنـه عـتـاب بـن اسـيـد ρ او الـحـارث بـن كـلـدة I هـم پـه حـق ورسـېـدل نـو ځـكـه ددې قـول لـه مـخـې حـضـرت ابـي بـكـر الـصـديـق I تـه هـم الله β د شـهـادت لـوړه مـرتـبـه وركـړه الله β د ورتـه مـرتـبـې نـورې هـم لـوړې كـړي .

حضـرت عـمـر I (شهيد المحراب)

حضـرت عـمـر I تـه هـم الله β شـهـادت وركـړو ده مـبـارک بـه دوه سـوالـونـه كـول چـې يـو يـې شـهـادت نـصـيـب شـي او بـل وفـات يـې پـه مـديـنـه مـنـوره كـې شـي الله β ورتـه هـغـه دواړه سـوالـونـه قـبـول كـړل پـه مـديـنـه مـنـوره كـې د رسـول الله γ پـه جـومـات كـې يـو مـجـوسـي غـلام **شهيد** كـړو هـغـه چـې لـه ډېـر وخـت نـه يـې ددە د مـرگ لـپـاره پـروگـرامـونـه او لارې جـوړولـې د شـپـې پـه تـيـاره كـې راغـلـو حـضـرت عـمـر I تـه د جـومـات پـه يـوه كـونـج كـې پـټ شـو ... پـه هـمـاغـه ځـاى كـې وو تـردې چـې حـضـرت عـمـر I جـومـات تـه راغـلـو او خـلـق يـې مـانـځـه تـه پـاڅـول بـيـا مـحـراب تـه مـخـكـې شـو او مـونـځ و درېـدو چـې كـلـه يـې تـكـبـيـر وويـلـو قـرائـت يـې شـروع كـړو .. تـوره تـيـاره وه د امـيـر الـمـؤمـنـيـن سـره حـفـاظـتـي كـسـان هـم نـه وو ، پـه جـومـات كـې د رڼـا دومـره انـتـظـام هـم نـه وو ... هـرڅـه پـه نـبـوي طـريـقـه بـانـدې كـېـدل ...

مجوسي غلام له کونج نه پرې را ووتلو او په محراب کې یې امیر المؤمنین I د مانځه په حالت کې د سترګو په رپ کې درې وارې ووهلو اول وار یې په سینه کې ولګېدو ، بل یې په ډډه کې او دریم یې تر نامه (نو) لاندې ولګېدو ... حضرت عمر I یوه چغه وکوله او په زمکه بانديې وغورځېدو .. او د قرآن کریم دا آیت یې تلاوت کاوه ... و کان امرا الله قدراً مقدوراً (الله β چې څه تقدیر لیکلی وي هغه به کیږي) غلام په صفونو کې منډه کړه چې څوک به یې مخې ته درېدل هغه به یې وهلو تردې چې د جومات نه تر وتلو پورې یې ۱۳ کسان زخمیان کړل آخر په یو ځای کې ودرېدو چې څوک به ور نېږدې کېدل هغه به یې وهلو یو کس راغلو چې پټو (ډبل څادر) ورسره وو هغه یې پرې ور واچولو مجوسي پوه شو چې ددې کس نه ځان نشي خلاصولی نو یې خپل ځان هم په همدې خپل خنجر باندې ووهلو ... ... حضرت عبد الرحمن بن عوف I مانځه ته وړاندې شو مونځ یې مکمل کړو .. حضرت عمر I د بې هوښي په حالت کې کور ته نقل کړل شو خلق ورسره روان وو ژړل یې ... په بې هوښي کې وو تردې چې نېږدې لمر راختلی وو کله چې را په هوش کې شو شاوخوا خلقو ته یې وکتل اول پوښتنه چې له خلقو نه یې وکوله دا وه ... خلقو مونځ وکولو؟ دوی ورته وویل : هو بیا یې وویل الحمد لله ... لا اسلام لمن ترک الصلوة (د هغه چا لپاره اسلام نشته چې مونځ یې پرېښود) ..

اوبه یې را وغوښتې اودسې یې وکولو اراده یې وکوله چې مانځه ته پاڅیږي لکن وس یې ونشو د زوی حضرت عبد الله I لاس یې ونیولو هغه یې شا ته کېنولو هغه ته یې تکیه وکوله او کېناستو له زخمونو څخه یې وینې بهېدلې ...

حضرت عبد لله I فرمايي : والله ما په زخم باندې ګوته ايښوده چې وينه يې بنده کړم لکن نه بنديده بيا مو ورته زخمونه په پټکيو سره وتړل او د سحر مونځ يې وکولو ..

بيا يې وفرمايل : ای ابن عباس ته وګوره زه چا قتل کړم ؟

هغه مبارک ورته وويل : مجوسي غلام ووهلې او بيا يې څه نور مسلمانان هم ووهل او په آخر کې يې خپل ځان هم قتل کړو ..

حضرت عمر I وويل : د الله β حمد او ثناء ده چې زما قاتل يې داسې څوک نه دی کړی چې هغه د الله β لپاره يوه سجده کړې وي او په هغه سجده لما سره دليل ووايي ..

بيا حضرت امير المؤمنين عمر ابن الخطاب I د همدې زخم نه په شهادت ورسيدو الله β يې د مرتبې په جنتونو کې لوړې کړي .

حضرت عثمان I (الشهيد المظلوم)

د حضرت عثمان I د شهادت د وجې قصه اوږده ده خو زه يې له هغه ځای نه شروع کوم چې د حضرت عثمان I قاتلينو دده مبارک کور محاصره کړی وو دا د هجرت ۳۵ کال د ذی الحجې د مياشتې ۱۷ تاريخ د پنجشنبې ورځ وه پدې ورځ باندې حضرت عثمان I روژه وو ځينې صحابه وو φ کوښش کاوه چې دده کور ته اوبه ور ورسوي ترڅو دی مبارک وربانديې روژه ماته کړي لکن د محاصره کونکو له لوري نه يې مخه ونيول شوه ماښام شو د حضرت عثمان I په کور کې دومره څه نه وو چې ده

وربـانـدې روژه مـاتـه کـړې وای د شپې نـا وخت دده مـېرمـن حضرت سيـدة نـائـلـة بـن الـفـرافـصة ϑ د همسايـه لـه کـور نـه د څـه اوبـو پـه پـيـدا کـولـو بـانـدې وتـوانـېده کـلـه يـې چې اوبـه ده مـبـارک I تـه راوړې ده تـه يـې وويـل : دا واخلـه روژه مـاتـه کـړه ... ده مـبـارک تـر کـړکـۍ نـه بـهـر وکـتـل ورتـه يـې وويـل : نـه اوس سحر شوی دی سحر را ښکاره شوی دی او مـا پـه ځـان مـنـلـې وه چې زه بـه سبـا روژه کـېږم .

مـېرمـن يـې ورتـه وويـل : نـو تـا بـيـا خـوراک او څښاک لـه کـومـه کـړل؟

ده I ورتـه وويـل : مـا رسـول الله γ ولـيـدو چې د اوبـو ډولـچې يـې پـه لاس کـې وه او لـدې چت نـه يـې مـاتـه اوبـه راکـړې مـا دومـره اوبـه وڅښلې چې پـړې مـوړ شوم بـيـا يـې راتـه وويـل : دا خلق بـه پـه تـا بـانـدې ظلم کـوي کـه تـه ورسره جنګ وکـوې نـو تـه وربـانـدې کـامـيـابـېږې او کـه تـه لـه دوی سره جنګ ونـه کـوې سبـا روژه بـه تـه لـه مـوږ سره مـاتـه کـړې ... نـو ده مـبـارک وويـل : مـاتـه داسې ښکاره کـيـږي چې سبـا الله β مـاتـه شهـادت راکـوي ...

د دې ورځې پـه سبـا د جُمعې مـبـارکـه ورځ د ذی الـحجې د مـيـاشتې ۱۸ تـاريـخ وو يـو صحابـي حضرت کـثـيـر بـن الـصلـت I ورغلـو ورتـه يـې وويـل تـه راوزه د کـور پـه صحن کـې کـيـنـه کـه تـه د کـور پـه صحن کـې کـيـنـې دا خلق بـه لـتـا څخه خپـلـه محـاصره مـاتـه کـړي او خپـاره بـه شي (ده مـبـارک I تـه الله β يـو ډول رعب ورکـړی وو) او پـدې وخت کـې دده مـبـارک سپـيـنـه ږيـره وه عمـر يـې لـه ۸۲ نـه لـوړ وو ..

ده مـبـارک ورتـه وويـل : مـا د شپې پـه خوب کـې لـيـدلـي دي چې زه رسول الله γ تـه ورغلـم حضرت

ابوبکر صدیق او حضرت عمر Λ هم له ده مبارک γ سره ناست وو ماته یې وویل : ته ځه ته به سبا له موږ سره روژه ماته کړې .

حضرت عثمان I وویل : نن چې څو پورې لمر لویږي زه به تر هغې وړاندې د آخرت له اهل څخه وم .

حضرت کثیر بن الصلت I دده I په امر له ده څخه را ووتلو او حضرت عثمان I ورته وویل : چې ماته یوه جامه برابره کړه چې وایې غوندم (لکه پرتوګ داسې) او دا په عادي حالاتو کې ده مبارک نه آغوستلو خو اوس پدې ډار شوی وو چې معلومه نه ده زه به په څه ډول حال کې ووژل شم هسې نه چې عورت مې ښکاره شي او د حضرت عثمان I د حیاء ستاینه رسول الله γ هم کړیده زیات حیاء ناک وو ..

په هغه جامه کې یې ځان په سمه توګه پټ کړو او قرآن کریم یې مخې ته کېښود تلاوت یې شروع کړو .

د وروستي ځل لپاره د صحابه وو φ زمریان زامن ورغلل ورته یې وویل : موږ ته امر وکوه چې لتا څخه دفاع وکوو او کنه نو مونږ به په خپل سر توري را واخلو او دا د شر لوښي خلق چې ته یې محاصره کړی ئې له دې ځای نه ورک کړو حضرت عثمان I تولو ته قسم ورکړو او ورته یې وویل : چې زما په چا باندې یوه ذره حق هم وي زه هغوی ته قسم ورکوم چې دوی به جنګ نه کوي دوی د ما ووژني خو زه له دوی سره جنګ نه کول غواړم او زه دا غواړم چې د حضرت آدم ν د هغه زوی په ډول شم چې هغه ویل : لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَا بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ * إِنِّي أُرِيدُ

أَنْ تَبُوءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ وَذَلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ . [1]

ترجمه : قسم دى خامخا كه دي راوغځاوه تا (اى قابيله) ماته لاس خپل دپاره د دي چې ته ووژنې ما نو نه يم زه غځوونكى د لاس خپل تاته چې ووژنم تا بېشكه زه وېرېږم له الله β چې رب (پالونكى د ګردو (ټولو)) عالميانو دى . په تحقيق زه اراده لرم د دي چې رجوع و كړې (اخته شى) ته په ګناه د (وژلو) زما او په ګناه خپلې (چې پخوا دې كړې ده) نو شې به ته له صاحبانو (ملګريو) د اور (د دوزخ) او هم دا (اور) دى جزا د ظالمانو (چې په ناحقه وينې تويوي.

او د ټولو نه وروسته چې ترې را ووتلو هغه د رسول الله γ ګران لمسى حضرت حسن بن علي I وو .

پدې وخت كې هغه كسان چې د حضرت عثمان I كور يې محاصره كړى وو هغوى فكر وكا كه دا محاصره اوږده شي نو كېداى شي له لرې نه دمسلمانانو فوځونه مدينې ته را ورسيږي بيا به له هغوى سره دوى ته مقابله كول سخت شي نو دوى وغوښتل چې نور هرڅنګه وي بايد حضرت عثمان I شهيد كړي نو پدې وخت كې حضرت عثمان I تلاوت كاوه ددې خلقو نه يو كس كنانة بن بشر التجيبي چې ددې شر د خلقو په سر كې وو ور وړاندې شو د حضرت عثمان I د كور دروازه يې وسوزوله بيا د فتنې نه ډک څه نور بد بخت كسان ور ننوتل په دوى كې يو كس وو چې الموت الاسود (تور مرګ) يې ورته ويل : ويل شوي چې دا عبد الله بن سبا وو او يا بل څوک وو هغه د حضرت عثمان I په مرى مباركه

[1] سورة المائدة آية ٢٨ او ٢٩

زور وکولو تردې چې ده فکر وکا چې په شهادت ورسېدو ..

بیا څه نور کسان ورننوتل چې دوی فکر کاوه شهید شوی دی لکن هغه ژوندی وو .. هغوی ورته وویل:

ته په کوم دین یې نعتله ... (نعتل معنی ده کم عقل) ..؟

ده مبارک ورته وویل : زه په اسلام دین باندې یم او زه نعتل نه یم زه امیر المؤمنین یم .

هغه ورته وویل : تا د الله β کتاب بدل کړی دی

ده مبارک ورته وویل : د الله β کتاب دا دی زما او ستاسې په مینځ کې دی .

بیا کنانة بن بشر الملعون راغلو او توره یې را وویسته په ده مبارک یې وار وکولو او د حضرت عثمان I وینه مبارکه په قرآن کریم باندې ور تویې شوه او ټول روایات پدې متفق دي چې په قرآن کریم کې هغه وینه پدې ځای ورته تویې شوې وه .. فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللهُ ...

بیا کنانة بن بشر الملعون په سر مبارک ووهلو دی مبارک په اړخ باندې چپه شو بل ځل یې غوښتل چې په سینه کې یې ووهي حضرت نائلة I دده مبارک مېرمن راغله غوښتل یې چې د خپل وس مطابق له خپل خاوند نه دفاع وکوي د هغې مبارکې ګوتې ددې ملعون له تورې سره پرې شوې پدې توګه یو بل بد بخت سودان بن حمران راغلو او دی مبارک یې په ګېډه کې په توره ووهلو او پدې وارونو سره هغه مبارک په شهادت ورسېدو .

حضرت علي I

د امت شقي عبد الرحمن بن ملجم يو بل كس ته ورغلو چې شبيب بن نجدة الشجعي ورته ويل كېدل هغه ته يې وويل : تاته د د دنيا او آخرت شرف په كار دی؟

هغه كس ورته وويل : هغه څه دی؟

ده ورته وويل : د علي وژل

هغه ورته وويل : مور در باندې بوره شه ډېر سخت كار ته د اراده كړېده ته دا كولی شې؟

ددې امله چې حضرت علي I له يوې خوا تكړه انسان وو او له بلې خوا يې په جنګونو كې ډېر وخت تېر كړی وو او ښه تجربه يې درلوده او له بلې خوا ډېر زيات زړور وو او ددې ټولو د پاسه هغه اوس امير المؤمنين وو نو شبيب بن نجدة الشجعي عبد الرحمن بن ملجم دېته هڅولو چې لدې عزم نه د واوړي دا سخت كار دی.

عبد الرحمن بن ملجم ورته وويل : په جومات كې ورته پټېږم كله چې د سحر مانځه ته راوزي نو حمله به پرې وكوم او قتل به يې كړم كه چېرته زه په تېښته برياليی شم نو زړه به مې سكون پيدا كړي (له حضرت علي I سره دده زياته دښمني وه) او خپل ارمان ته به ورسيږم او كه چېرته زه هم ووژل شم نو هغه چې د الله β سره دي هغه لدې دنيا نه غوره دي (مطلب يې دا وو چې اللهβ به ماته ثواب راكړي) .

هغه ورته وويل : د الله β عذاب در باندې نازل شه ته د هغه له شخصيت نه خبر يې په اسلام كې تر

ټولو نه اول ماشوم وو ، د رسول الله γ سره يې خپلوي در لوده (د تره زوی يې دی) زه کله هم نشم کولی چې دېته زړه ښه کړم (زه نشم کولی چې د حضرت علي I قتل ته ځان تيار کړم) .

عبد الرحمن بن ملجم ورته وويل : ولې هغه په نهروان کې خلق قتل نه کړل؟ (نهروان يوه واقعه وه چې د حضرت علي I او خوارجو په مينځ کې تېره شوه او ګڼ شمېر خوارج پکې ووژل شول) پدې اړه يې دليلونه ورته ويل ترڅو چې شبيب بن نجدة يې دېته تيار کړو چې له ده سره پدې بد کار کې مرسته وکوي او پدې وخت کې عبد الرحمن بن ملجم ، برک بن عبد الله او عمرو بن بکر وعده سره وکوله چې په يوه ورځ به دوی ټول په يوه فارموله باندې حضرت عليI حضرت معاوية I او حضرت عمرو بن العاص I وژني او د دوی په ګمان امت به د دوی له شر نه خلاصوي ..

دوی ټولو دا وعده وکوله چې دوی به دا مرګونه د جُمعې په ورځ د رمضان په ١٧ باندې کوي نو برک بن عبد الله روان شو دمشق ته هلته حضرت معاوية بن ابي سفيان I وو او عمرو بن بکر فسطاط ته چې په مصر کې دی روان شو هلته حضرت عمرو بن العاص I وو او عبد الرحمن بن ملجم په کوفه کې پاتې شو دلته حضرت علي I وو ..

عبد الرحمن بن ملجم د رمضان تر ١٧ پورې صبر وکولو چې کله حضرت علي I د سحر مانځه ته راووتلو په خلقو کې تېرېدلو مانځه ته يې پاڅول سره ددې چې حالات خطرناک وو خو ده مبارک I خپل ځان الله β ته تسليم کړی وو نه ورسره ساتونکی وو او نه ورسره بل څه حفاظتي تدبير وو ترڅو چې د مانځه ځای ته نېږدې شو دلته شبيب بن نجدة (چې د عبد الرحمن بن ملجم سره

يې د مرستې وعده کړې وه) په حضرت علي I باندې وار وکولو چې د هغې په نتيجه کې حضرت علي I په زمکه وغورځېدو لکن شهيد نه شو عبد الرحمن بن ملجم ورته راغلو په هغه توره يې ورباندې وار وکولو چې زهر ورباندې لګول شوي وو دی مبارک يې په سر باندې ووهلو او وينې يې په ږيره مبارکه باندې راغلې ..

حضرت علي I اواز وکولو خلقو را ترف کړل شبيب بن نجدة په تېښته بريالی شو او عبد الرحمن بن ملجم يې ونيولو ..

حضرت علي I حضرت جعدة بن هبيرة I ته وويل : په خلقو باندې مونځ وکوه او دی مبارک کور ته نقل کړل شو دی مبارک I پدې پوه شو چې پدې توره باندې زهر لګو شوي دي او ددې امله خو دی خامخا مړ کېدونکی دی او دا واقعه ټوله په هغه ډول وه چې يو وخت رسول الله γ ده ته د معجزې په ډول ويلي وو چې ته به پدې ډول باندې شهيد کېږې ...

عبد الرحمن بن ملجم يې را وغوښت ورته يې وويل : دا کار د ولې وکولو؟

هغه وويل : دا توره مې څلوېښت ورځې تېره کوله او له الله β نه مې غوښتل چې پدې باندې د ټول مخلوق شر انسان قتل کړي ...

حضرت علي I ورته وويل : ماته داسې ښکاره کيږي چې ته به خامخا وژل کېږې او ستا دعاء قبوله شوه (يعني پدې خپله توره به ته ووژل شې او ته د ټول مخلوق شر يې) .

شهید عبیدة بن الحارث (الشیخ الشهید المجاهد)

دا مبارک I د رسول الله γ د تره زوی وو او له هغه کسانو څخه وو چې په اسلام کې وړاندې وو له رسول الله γ څخه لس کاله مشر وو د رسول الله γ په وړاندې د زیات قدر او عزت خاوند وو په اول ځل کله چې رسول الله γ یوه ډله مجاهدین په یوه سریه کې لېږل دی یې وربانده مشر کړی وو شپېته کسان مجاهدین یې په لاس ورکړي وو او دا په اسلام کې اول بیرغ وو چې د جهاد لپاره وتلی وو د قریشو د یوې قافلې سره په لاره کې مخامخ شوي وو چې د هغوی په مشري کې ابو سفیان وو او دواړو ډلو د غیشو تبادله سره کړې وه او دا په اسلام کې اول جنګ وو .[1]

شهادت یې

د بدر د جنګ په ورځ مخکې لدې چې لښکرې سره مخامخ شي عتبة د مسلمانانو ډلې ته آواز وکولو چې خپل پهلوانان د میدان ته را ولیږي حضرت علي I د ولید بن عتبة مقابلې ته ور وړاندې شو الله β ورته غلبه ورکړه او ولید بن عتبة یې ووژلو بیا شیبة بن ربیعة را ووتلو سید الشهداء حضرت حمزة I ور وړاندې شو هغه یې ووژلو عتبة بن ربیعة میدان ته را ووتلو حضرت عبیدة بن الحارث I ور ووتلو سره ددې چې دی مشر وو لکن الله β ورته په خپل فضل قوت ورکړی وو او له هغه سره یې د وارونو ښه تبادله وکوله په آخر کې هغه په ده باندې یو وار وکولو چې دده مبارک I پښه یې ماته کړه او ده چې په هغه

[1] سیر اعلام النبلاء

باندې وار وکولو هغه هم زخمي شو پدې وخت کې چې حضرت حمزة او حضرت علي Λ دواړه په میدان کې وو ورغلل عتبه یې مړ کړو او کار یې ور ختم کړو او دی مبارک I یې د رسول الله γ خیمې ته نقل کړو رسول الله γ یې له مخ مبارک نه خاورې پاکې کړې حضرت عبیدة رسول الله γ ته وویل : زه شهید نه یم؟ رسول الله γ ورته وویل : هو! ته شهید یې او زه په تا باندې ګواه یم .. بېرته مدینې ته په لاره باندې دی مبارک په شهادت ورسېدو او په صفراء مقام کې یې دفن کړو رسول الله γ په خپله دده بختور قبر ته ور ښکته شو او رسول الله γ دده نه بغیر د بل چا قبر ته نه دی ور ښکته شوی .[1] الله β د په جنتونو کې دده مرتبې لوړې کړي .

شهید حارثه بن سراقة I (الشهید الغلام)

په ځینې روایاتو کې یې نوم حارث بن سراقة راغلی دی حارثة یا حارث بن سراقة بن الحارث الانصاري الخزرجي له بني عدي بن النجار له قبیلې څخه وو مور یې الربیع بنت النضر وه د حضرت انس بن مالک I عمه وه .

شهادت یې

د حضرت ثابت البناني I نه روایت دی هغه له حضرت انس I نه روایت کوي چې یوه ورځ کله چې رسول الله γ په لاره روان وو یو انصاري ځوان ورسره مخامخ شو رسول الله γ ورته وویل : سحر د څنګه شروع کړو ؟ هغه ورته وویل : پداسې حالت

---

[1] ابن عساکر

کې مې سبا کړو چې په الله β مې په حقه سره ایمان راوړی دی رسول الله γ ورته وویل : ګوره فکر وکوه چې څه وایې بېشکه د هرې خبرې لپاره حقیقت وي هغه وویل : شپه مې ویښه تیریږي او ورځ مې تنده لکه زه چې د رب په عرش باندې ختلی وم لکه زه چې جنتیانو ته ګورم چې د یو بل زیارت کوي او ماته داسې را ښکاره کیږي لکه زه چې د دوزخ خلقو ته ګورم چې پکې په عذاب کیږي .. رسول الله γ ورته وویل : ته یو داسې انسان یې چې الله β د زړه روښانه کړی دی ...

بیا ځوان ورته وویل : یا رسول الله γ زما لپاره دعاء وکوه چې الله β مې شهادت نصیب کړي رسول الله γ ورته دعاء وکوله یوه ورځ د جنګ اواز وشو (د بدر غزا ته مجاهدین روان شول) هغه ځوان اول هغه کس وو چې په آس سپور شو او اول هغه کس وو چې په بدر کې شهید شو کله یې چې مور د شهادت نه خبره شوه رسول الله γ ته راغله ورته یې وویل : یا رسول الله γ د حارثة په اړه راته ووایه که په جنت کې وي چې زه پرې ونه ژاړم او که چېرته په اور کې وي چې وربانديې ښه ډېره وژاړم رسول الله γ ورته وویل : ای د حارثة موریې په جنت کې یو جنت نه دی بلکه جنتونه دي او حارثه فردوس اعلی غوره جنت کې دی مور یې بېرته له رسول الله γ څخه را ستنه شوه او خندل یې او ویل یې : بَخٍ بَخٍ لك ياحارثة ! .[1]

شهید سعد بن خیثمة I (الشهيد النقيب)

دا حضرت سعد بن خیثمة بن الحارث بن مالک الانصاري I له اوس قبیلې نه وو او ابا خیثمة

[1] أسد الغابة 356/1 وحياة الصحابة 24/3

به ورته ویل کېدل ده ته ﷲ β په بدر کې شهادت
ورکړو او پلار یې په اُحد کې شهید شو .[1]

شهادت یې

حاکم د حضرت سلیمان بن بلال I نه روایت کړی دی
چې کله رسول ﷲ γ بدر ته د وتلو اراده وکوله
سعد بن خیثمة او پلار یې دواړو وتل غوښتل دا
رسول ﷲ γ ته وویل شول : چې هغوی دواړه تلل
غواړي او په کور کې یې بل څوک نشته نو دواړو
ته یې د تلو اجازه ورنه کړه خو دا چې کوم یو
به اوس ځي او کوم به پاتې کیږي نو دوی په خپل
مینځ کې پچه واچوله پچه دده ووتله .. پلار یې
ورته وویل : سره ددې چې په پچه کې تا وګټله
خو ته په کور کې پاتې شه او ماته اجازه راکړه
چې له رسول ﷲ γ سره لاړ شم حضرت سعد ورته ویل
: پلاره که د جنت نه بغیر د بل کوم شي معامله
وی نو تاته به مې خپل حق درکړی وو خو اوس د
جنت معامله ده نه یې شم درکولی زما پچه وتلې
ده او زه پخپله تلل غواړم د بدر میدان ته د
پوره مېړانې او غیرت سره وړاندې شو د بدر د
جنګ په دوران کې عمرو بن عبد ودّ په شهادت
ورسولو ﷲ β یې دې په جنت کې مرتبې لوړې کړي
(عمرو بن عبد ودّ تر آخره پورې په ا سلام مشرف
نه شو په خندق کې د حضرت علي I په لاس ووژل
شو) .[2]

شهید عمیر بن ابي وقاص I (الشهید الفدائي الصغیر)

1 الاصابة
2 حیاة الصحابة

د حضرت سعد بن ابي وقاص I (مشهور صحابي) ورور
وو حضرت سعد I فرمايي : كله چې بدر ته حركت
كېدو ما خپل ورور عمير وليدو چې پټېدو ما
ورته وويل : ولې پټيږې؟ ده راته وويل : هسې
نه چې رسول الله γ مې ووينې او هغه ووايي چې ته
كشر يې ته به جهاد ته نه ځې او د تللو اجازه
به را نه كړي او زه تلل غواړم كېداى شي الله β
راته شهادت راكړي .. كله چې رسول الله γ وليدو
هغه ورته د تلو اجازه ورنكړه او ورته يې وويل
: ته لا وړوكى ته به نه ځې ... دى په ژړا شو
رسول الله γ چې دده ژړا وليده بېرته يې د تلو
اجازه وركړه حضرت سعد I فرمايي څرنګه چې دده
قد وړوكى وو نو ما ورته د توري بند غوټه كړو
ترڅو لږ وړوكى شي او له ده نه په زمكه ونه
لګيږي د پوره غيرت او شهامت سره بدر ته
وړاندې شو او په ١٦ كلنى كې د پوره جذبې سره
په شهادت ورسېدو [1]

الله β يې د په جنت كې مرتبې لوړې كړي.

سيد الشهداء حمزة I (اسد الله و اسد رسوله)

حمزة بن عبد المطلب كنية نوم يې ابو عمارة
وو د رسول الله γ ګران تره وو او په رضاعة كې يې
ورور وو مور يې هالة بنت اهيب وه او د رسول
الله γ د مور بي بي آمنې د تره لور وه د حضرت
صفية بنت عبد المطلب l سكه ورور وو حضرت حمزة
I له رسول الله γ څخه دوه كاله مشر وو او د يو
قول له مخې څلور كاله ورڅخه مشر وو كله چې
رسول الله γ په مدينه منوره كې د مهاجرو او

---
[1] حياة الصحابة

انصارو په مینځ کې وروړګلوي جوړوله نو دده وروړګلوي يې له حضرت زيد بن حارثة I سره جوړه کړې وه .

حضرت حمزة I د بعثت په دوهم کال په اسلام مشرف شو او مدينې منورې ته يې هجرت وکولو په بدر کې حاضر وو او ښه په ميړانه و جنګېدو او سخت مقاومت يې وکولو په دوو تورو يې جنګ کاوه په يو روايت کې په اسلام کې اوله جنډه هم ده ته ورکړل شوې وه او د يو روايت له مخې حضرت عبيدة ابن الحارث بن عبد المطلب I ته چې ورکړل شوې وه هغه پرې مخکې وه .

شهادت يې

حمزة I د اُحد په غزوة کې د وحشي په نوم يو حبشي په لاس شهيد شو چې د هجرت په دريم کال د شوال په نيمايي کې وه خو ده بختور تر خپل شهادت وړاندې يودېرش کسان کفار وژلي وو او په اُحد کې د شهادت په ځای باندې دفن شو .[1]

حضرت جابر بن عبد الله I فرمايي : رسول الله γ د اُحد له جنګ نه وروسته په حضرت حمزة I پسې کتل پيدا يې نه کړو يو سړي ورته وويل : ما هلته د ونې سره وليدو چې ويل يې زه د الله β او د هغه د رسول زمری يم او ويل يې : يا الله β زه پناه غواړم له هغه څه نه چې دې خلقو راوړي دي ابو سفيان او ملګرو يې او دا زموږ ملګرو چې څه وکول (شکست) دهغې په اړه زه لتا څخه معافي غواړم رسول الله γ هغه لور ته ورغلو چې صحابي ورته اشاره کړې وه کله يې چې د هغه په تندي مبارک باندې سترګې ولګېدلې په ژړا شو کله يې

[1] تهذيب الاسماءو اللغات النووي ρ

چې ولیدل چې د هغه شکل ور خراب کړل شوی وو ډېر زیات خفه شو ویې ویل : کوم کفن نشته؟ په انصارو کې یو کس پاڅېدو او یوه جامه یې رسول الله γ ته ور واچوله ... هغه یې وربانديې همواره کړل بیا رسول الله γ وویل : **سید الشهداء عند الله تعالی یوم القیامة حمزة** . [1]

ترجمه : د قیامت په ورځ د الله β په وړاندې د شهیدانو سردار حضرت حمزة I دی .

شهید عبد الله بن جحش I (الشهید المجدع في الله)

حضرت ابو محمد عبد الله بن جحش I مور یې آمنة بنت عبد المطلب وه د رسول الله γ عمه وه د اسلام په شروع کې مخکې لدې چې رسول الله γ دارالارقم ته ننوزي په اسلام مشروف شوی وو حبشې ته یې هجرت کړی وو بیا یې مدینې منورې ته هم هجرت کړی وو له مدینې منورې څخه رسول الله γ یو ځل دی مبارک د یوې سریې په سر مقرر کړی وو او ده څه غنیمت راوړی وو او دا په اسلام کې اول غنیمت وو په بدر کې یې شرکت کړی وو په ښه مېړانه او غیرت سره جنګېدلی وو . [2]

شهادت یې

دا مبارک هم په اُحد کې په شهادت ورسېدو حضرت سعد بن ابي وقاص I فرمایي : ماته حضرت عبد الله بن جحش I د اُحد په ورځ وویل : موږ دعاء نه کوو؟ راځه زه به دعاء کوم ته به وربانديې آمین وایې او ته به دعاء کوې زه به ستا په

---

[1] حیاة الصحابة
[2] تهذیب الاسماء و اللغات د لږ بدلون سره

دعاء باندې آمين وايم بيا يو طرف ته شوو حضرت سعد بن ابي وقاص I دعاء وکوله ويل يې : اى الله β ما په جنګ کې د يو ډېر زورور کس سره مخامخ کړه چې زه ورسره جنګ وکوم هغه لما سره جنګ وکوي بالآخره ما وربانـد ې کامياب کړه چې زه هغه ووژنم پدې دعاء باندې حضرت عبد الله I آمين وويل بيا حضرت عبد الله بن جحش I دعاء وکوله ويل يې يا الله β ما لداسې کس سره په جنګ کې مخامخ کړه چې هغه زورور وي او ښه جنګي سامان ولري زه صرف ستا د رضا لپاره له هغه سره جنګ وکوم بيا هغه ما شهيد کړي بيا مې غوږونه او پوزه راڅخه پرې کړي په قيامت کې چې زه لتا سره مخامخ شم ته به راڅخه پوښتنه کوې چې دا ولې؟ زه به درته وايم چې ستا او د ستا د رسول γ د رضا لپاره يا الله β ته راته ووايې : هو ...! تا رښتيا وويل .. حضرت سعد بن ابي وقاص I فرمايي : د عبد الله دعاء زما له دعاء څخه غوره وه ... بيا تر جنګ ختمېدلو وروسته ما وليدل چې حضرت عبد الله I پروت وو او د هغه پوزه او غوږونه ورڅخه پرې کړل شوي وو په يو تار کې پيودل شوي وو .[1]

شهيد حضرت انس بن النضر I

حضرت انس بن النضر بن ضمضم د حضرت انس بن مالک I تره وو.[2]

او دا ثابته شوې چې رسول الله γ دده په حق کې ويلي وو : **إن من عباد الله مَنْ لو أقسم على الله لأبرّه .**

---

[1] حياة الصحابة
[2] اسد الغابة

[1](بېشکه د الله β ځينې داسې بندګان دي که دوی قسم وکوي الله β به يې په قسم کې پاتې نه راولي هغه به يې قسم ورته پوره کوي).

کله چې دده خور رُبيع بنت النضر د حضرت انس بن مالک عمه يوه جاريه ووهله او د هغې غاښ يې ور مات کړو هغوی له دوی نه تاوان وغوښت دوی له تاوان ورکولو نه انکار وکولو خبره رسول الله γ ته راغله رسول الله γ د دوی په مينځ کې د قصاص حکم وکولو دا ورور حضرت انس بن النضر رسول الله γ ته راغلو ويل: يا رسول الله γ اوس به زما د خور رُبيع غاښ ماتول کيږي؟ زما د په هغه ذات باندې قسم وي چې ته يې په حقه را لېږلی يې چې د هغې غاښ به نه ماتيږي رسول الله γ ورته وويل: انس د الله β د کتاب فيصله د قصاص ده ... هغه خلقو ورته بښنه وکوله نو بيا رسول الله γ وويل: بېشکه د الله β ځينې داسې بندګان دي که دوی قسم وکوي الله β به يې په قسم کې پاتې نه راولي هغه به يې قسم ورته پوره کوي.[2]

شهادت يې

دی مبارک د څه مشکلاتو له امله له رسول الله γ سره بدر ته نه وو تللی بيا ډېر زيات خفه وو او هر وخت به يې ويل چې رسول الله γ جنګ ته تللی وو او زه ورسره نه وم؟ او هر وخت به يې پښېمانتيا ښکاره کوله او ويل به يې والله که چېرته ماته دومره وخت راکړل شو چې له رسول الله γ سره کوم جنګ ته حاضر شوم الله β به ووينې چې

---

[1] تهذيب الاسماء و اللغات للنووي ρ
[2] صفة الصفوة

زه څه کوم (ښه قرباني به ورکوم) په همدې ارمان کې وو چې د اُحد د غزا وخت شو کله چې د اُحد په لور روان وو حضرت سعد بن معاذ I ورڅخه پوښتنه وکوله ای ابا عمرو چېرته ځې؟ ده ورته وویل : واه واه د جنت بوی د اُحد د غره له خوا نه را باندې لګیږي میدان ته وړاندې شو په پوره مېړانه وجنګېدو په هغه وخت کې چې مشرکانو او شیطان په خلقو کې اواز ه خپره کړه چې رسول الله γ په شهادت ورسېدو نو دی په یوه ډله صحابه وو φ چې مشران او کشران صحابه φ او حضرت عمر I او حضرت طلحه I هم پکې وو راغلو چې ویې لیدل هغوی ناست دي ده ورته وویل : دا وخت اوس د کېناستلو دی؟ ولې جنګ نه کوئ؟ دوی ورته وویل : رسول الله γ شهید شو نور جنګ د چا لپاره وکوو؟ ده ورته وویل : چې رسول الله γ شهید شو نو تر هغه وروسته تاسې په ژوند څه کوئ پاڅېږئ په هغه څه باندې تاسې هم شهیدان شئ چې په کوم شي باندې رسول الله γ شهید شو لدې خبرې سره هغوی ته نوې جذبه ورغله هغوی ټول را پاڅېدل او بېرته یې جنګ ته مخه کړه او دی مبارک په جنګ باندې ور ګډ شو تردې چې په شهادت ورسېدو کله چې دی وکتل شو په بدن باندې یې لوی واړه زخمونه څو اتیا وو (څه د پاسه اتیا) خور مبارکه ι یې فرمایي ما د زخمونو له امله خپل ورور ونه پېژندلو بیا مې د هغه جسد د ګوتو څخه و پېژندلو ځکه له یوه پلوه یې زخمونه ډېر زیات لیدلي وو له بله پلوه دده د سخت مقاومت له امله کفار ده ته ډېر زیات په غصه وو نو چې کله دی شهید شو دده پوزه او غوږونه یې لکه د ډېرو نورو صحابه وو φ په ډول غوڅ کړي وو الله β د په جنت کې ورته لوړې مرتبې ورکړي .

شهید حضرت ثابت بن الـــدَّحْـــدَاح I

د لوړې مرتبې صحابي وو خپلوان يې ډېر نه درلودل له بل ځاى نه راغلى وو په مدينه منوره كې دېره شوى وو كله چې د اسلام رڼا راغله په اسلام مشرف شو كله چې آيت نازل شو : **مَّن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ** (245). [1]

ترجمه : څوک دى هغه سړى چې قرض وركوى الله β لره قرض نېک (د زړه له اخلاصه د الله β په لاره كې په صرفولو سره) نو زيات به كړي الله β (ثواب د) قرض ده لره په زياتوالي ډېر او الله تنګوي (رزق) او فراخوي (رزق) او هم (خاص) بيا به ده ته بيولى كيږئ ! (د اعمالو د جزا له پاره).

دى مبارک I رسول الله γ ته راغلو ورته يې ويل : الله β له موږ نه قرض غواړي؟ رسول الله γ ورته وويل : هـــو ابا الدحداح حضرت ابو الدحداح I ورته وويل : رسول الله γ لاس د را كړه رسول الله γ خپل مبارک لاس وركړو وېل زه خپل رب ته خپل باغ وركوم حضرت عبدالله بن مسعود I فرمايي چې دده په باغ كې ٦٠٠ د خورما ونې وې .. بېرته باغ ته راغلو دده مېرمن او ماشومان يې په باغ كې وو ورته يې وويل : د باغ نه را ووزه دا ما الله β ته قرض وركړو او بيا يې د ماشومانو په خولو كې چې خورما وې هغه يې هم ترې وويستلې او په لاسونو كې يې چې وې هغه يې هم ترې واخيستې په باغ كې يې پرېښودې او دده دوه باغونه وو بيا يې ماشومان او خپله مېرمن لدې باغ نه وويستل او دا يې د رسول الله γ صحابه وو φ ته وقف كړو .

---

[1] سورة البقرة

شهادت یې

د اُحد په ورځ کله چې د رسول الله γ د شهادت خبر خپور شو بیا د جنګ حالات ښه نه شول د اکثرو مسلمانانو زړه هم مات شو او اکثر صحابه کرام φ داسې وو چې د هغوی په جذباتو کې لا زیادت راغلو او نور هم په جنګ ور تېز شول دی هم له هغه ډلې څخه وو کله چې ده ولیدل چې د ځینې مسلمانانو زړونه له جنګ څخه مات شول نو یې چیغه کړه ای د انصارو ډلې ، ای د انصارو ځوانانو زما خوا ته راشئ زه ثابت بن الدحداحة یم که رسول الله γ ووژل شو نو الله β خو هغه ذات دی چې هغه نه مړ کیږي همېشه ژوندی دی د خپل دین څخه دفاع وکوئ بېشکه الله β ستاسې مرسته کوي او ستاسې مددګار دی نو له یوې خوا بلې خوا خپاره صحابه φ وربانديې ور ټول شول او بېرته یوه جنګې ډله ترېنه جوړه شوه د کفارو د یوې ډلې سره یې جنګ شو چې په هغې کې د کفارو ټول مشران وو لکه خالد بن ولید ، عمرو بن العاص ، عکرمة بن ابي جهل ، ضرار بن خطاب (په هغه وخت کې په اسلام نه وو مشرف شوي او د کفارو له لوري جنګېدل) له دوی سره یې سخته مقابله شوه او سخت مقاومت یې وکولو لکن د مسلمانانو تعداد کم وو نو ځکه په شهادت ورسېدل او شکست یې ونه خوړلو او نه ترېنه په شاه شول دی مبارک د خالد بن ولید له لوري په نیزه ولګېدلو او شهید شو او پدې ډله کې چې څومره کسان ورسره را ټول شوي وو ټول په شهادت ورسول شول او د مسلمانانو له لوري دا آخري کسان وو چې شهیدان شول بیا جنګ ختم شو.[1]

[1] حیاة الصحابة

ﷲ β د ټولو ته په جنت کې لوړې مرتبې ورکړي او موږ ته د هم داسې قسمت راکړي چې له دوی سره د شهیدانو په ډله کې د قیامت په ورځ را پاځیږو .

شهید حضرت مصعب بن عمیر I

دا حضرت ابو عبد الله مصعب بن عمیر I بن هاشم بن عبد الدار وو تر اسلام وړاندې د ښه مال خاوند وو په خپل مور او پلار باندې ډېر زیات ګران وو او په نفس حال کې الله β ورته ښه ښائست ورکړی وو داسې جامې به یې آغوستلې چې د بل چا په وس کې نه وه او داسې عطر به یې لګول چې بل چا نشوای لګولی او مور پلار ورته هر وخت داسې قدر ورکولو چې په هغه وخت کې بل مور پلار خپل اولاد ته نشوای ورکولی ، زیات په نعمتونو کې پټ وو رسول الله γ هم فرمایل چې ما په مکه کې تر حضرت مصعب بن عمیر نه ښه ښکاره کېدونکی او د ښه لباس خاوند ځوان نه وو لیدلی او کله چې په اسلام هم مشرف شو په صحابه وو φ کې د لوړې مرتبې خاوند وو او په هغه کسانو کې وو چې د اسلام په شروع کې په اسلام مشرف شوي وو او په هغه وخت کې یې ایمان راوړی وو چې رسول الله γ په دار الارقم کې وو خو د خپلې مور او نورو خپلوانو او قوم له ډاره یې خپل اسلام پټ ساتلی وو او په مختلفو وختونو کې به پټ د رسول الله γ په ملاقات مشرف کېدو یو ځل عثمان بن طلحة العبدري ولیدو چې مونځ یې کولو نو مور او د کور خلق یې پرې خبر کړل هغوی دی ونیولو او بندي یې کړو او نه به یې پرېښود چې بهر ته لاړ شي او یا له رسول الله γ سره وګوري تر ډېره وخته په بند کې پاتې شو بیا یې حبشې ته هجرت وکولو او بیا بېرته مکې ته راغلو خو بیا یې

هغه حالت نه وو ډېر غریب وو ، ډېر سختې د ځرمنې اويا بل شي جامې به يې په ځان وې د دنيا هغه نعمتونه يې ټول د الله β له نوم نه زار کړل او ځان يې د الله β د دين کار ته وقف کړو حضرت عروة بن زبير ρ فرمايي زه چې يوه ورځ د حضرت عمر بن عبد العزيز ρ سره ناست وم هغه د جومات په جوړونه کې مصروف وو هغه وويل : يوه ورځ مصعب بن عمير راغلو او رسول الله γ په مجلس کې له صحابه کرامو φ سره ناست وو دده په ځان باندې د ځرمن يوه ټوټه وه چې نه سمه پاکه شوې وه او نه د ځان د پټولو لپاره پوره وه چې کله مجلس ته راغلو نو ټولو صحابه وو φ خپل سرونه ښکته واچول ځکه له دوی سره هم داسې څه نه وو چې ده مبارک ته يې ورکړي وای حضرت مصعب بن عمير په رسول الله γ باندې سلام واچولو رسول الله γ يې سلام واخيست او بيا يې دده ستاينه وکوله او بيا يې وفرمايل : حمد ثناء ده هغه ذات لره چې هغه دنيا په دنيا والو باندې څنګه بدلوي ما دا کس (معصب بن عمير) ليدلی وو تر ده مې ښه ځوان نه وو ليدلی چې له ده نه يې لباس ، خوراک او نور نعمتونه ښه وو بيا الله β دی له هغه حالت نه دې حالت ته د الله β او د رسول په مينه کې را وويستو .[1]

کله چې له حبشې نه راستون شو څه وخت وروسته رسول الله γ د ۱۲ کسانو صحابه وو φ سره په ملګري مدينې منورې ته ور ولېږلی وو چې هلته خلقو ته تردې دمه نازل شوی قرآن او اسلام ور وښيي او د مدينې منورې ځلانده ستوري حضرت سعد بن معاذ ، اسيد بن حضير Λ هم دده په لاس په

[1] الطبقات الكبرى

اسلام مشرف شوي دي په بدر کې شريک شوی وو او د ښې مېړانې سره جنګېدلی وو .

شهادت يې

ورته په اُحد کې د شهادت لوړه مرتبه ورکړه β الله او په اُحد کې د مسلمانانو بيرغ دده په لاس کې وو ابراهيم بن محمد بن شُرحبيل العبدري ρ له خپل پلار نه روايت کوي هغه فرمايي : د اُحد په ورځ د مسلمانانو بيرغ دده په لاس کې وو کله چې د مسلمانانو په صفونو کې څه ګډ وډي را مينځ ته شوه حضرت مصعب بن عمير تر آخري حده پورې مقاومت وکولو او د مسلمانانو جنډه يې ښکته کېدلو ته نه پرېښوده د کفارو په لښکر کې ابن قميئة چې په آس سپور وو راغلو او دده ښی لاس يې په توره ووهلو او پرې يې کړو او مصعب I ويل : **وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ** بيا يې جنډه په چپ لاس کې پورته کړه او ويې ويل : **وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ** هغه بيرته پسې را تاو شو او د هغه مبارک I چپ لاس يې پرې ووهلو او پرې يې کړو ده مبارک جنډه د سر او اوږې په مينځ کې ونيوله او پورته يې وساتله چې هغه وربانديې د دريم ځل لپاره حمله وکوله او په نيزه باندې يې وويشت دی مبارک د جنډې سره زمکې ته را وغورځېدو دوو کسانو انصارو حضرت سويبط بن سعد بن حرملة I او ابو الروم بن عمير I په جنډه باندې ور ټوپ کړل هغه يې بېرته پورته کړه او ابو الروم بن عمير I واخيسته بيا تر آخره پورې د حضرت ابو الروم بن عمير په لاس کې وه تردې چې مسلمانان له جنګ نه وروسته مدينې منورې ته داخل شول .

ابراهيم بن محمد بن شُرحبيل العبدري ρ له خپل پلار نه په حکايت سره زياتوي چې حضرت مصعب بن عمير I پدې وخت کې د ځلوېښتو کالو وو او يا څه د پاسه کله چې دی مبارک I شهيد پروت وو رسول الله γ يې سر ته و درېدو او دی په څادر کې پټ وو ويې ويل : ای ځوانه ما ته په مکه کې ليدلی وې او لتا نه ښه لباس ښه جامه د بل چا نه وه او نه په شکل کې څوک لتا ښخه ښائسته وو او بيا ته اوس ببر سر په يو څادر کې پټ يې بيا رسول الله γ حکم وکولو چې قبر ورته جوړ کړئ او قبر ته خپل ورور حضرت ابو الروم بن عمير بن ربيعة او حضرت سُويبط بن سعد بن حرملة M ور ښکته کړو .[1]

همدا هغه بختور صحابي وو چې په اړه يې په مختلفو ځايونو کې ويل شوي دي چې صحابه φ له اسلام سره څومره زيات بدل شول ځينې يې داسې خلق وو چې په مکه کې زيات مالدار وو او بيا ډېر زيات غريبان شول حضرت مصعب بن عمير I چې په يو وخت کې د مالدارو خلقو په سر کې واقع وو او پداسې وخت کې الله β ورته شهادت ورکړو چې صرف يو څادر يې درلود چې دده مبارک سر به يې پکې پټ کړو نو پښې به يې لوڅې شوې او چې پښې به يې پکې پټې کړې نو سر به يې لوڅ شو بيا رسول الله γ حکم وکولو چې سر يې پکې پټ کړئ او په پښو باندې يې اذخر ګياه ور واچوئ .

د حضرت عبيدة بن عمير I نه روايت دی چې رسول الله γ راغلو او د حضرت مصعب بن عمير I سر ته ودرېدو کله چې هغه شهيد پروت وو بيا يې دا آيت

---

[1] الطبقات الکبری

تلاوت کړو : مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا. [1]

ترجمه : ځینی له مؤمنانو څخه (داسې) سړي دي چې رښتیا کړې ئې ده هغه خبره چې عهد کړی ؤ دوی له الله β سره په هغه باندې (چې ثبات، استقامت فی القتال دی)

پس ځینې له دوی هغه دي چې تر سره ئې کړ نذر خپل ((چی مړ شو یا شهید)) او ځینې له دوی هغه دي چې انتظار کوي (دغه مرګ یا شهادت ته) او بدل ئې نه کړ (عهد خپل یوه ذره هم) په بدلولو سره .

بیا رسول الله γ وفرمایل : إن رسول الله يشهدُ أنكم الشهداءُ عند الله يوم القيامة.

ترجمه : بېشکه د الله β رسول په تاسې باندې ګواهي ورکوي چې تاسې شهیدان یاست د قیامت په ورځ.

بیا یې خلقو ته مخ را واړولو ویې ویل : أيها الناس، زوروهم، وأتوهم، وسلموا عليهم، فوالذى نفسى بيده لايُسلمُ عليهم مُسَلِّمٌ إلى يوم القيامة إلا رَدُّوا عليه السلام . [2]

ترجمه : ای خلقو د دوی زیارت کوئ او دوی ته راځئ او په دوی باندې سلام اچوئ زما د په هغه ذات باندې قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دی چې په دوی باندې تر قیامت پورې څوک سلام اچوي دوی به د هغوی د سلام ځواب ورکوي .

---

[1] سورة الاحزاب آية ٢٣

[2] الطبقات الكبرى

شهيد حضرت عمرو بن الجموح I

دا حضرت عمرو بن الجموح بن زيد بن حرام الانصاري I په انصارو کې د خزرج قبيلې څخه وو معزز او درونـد سړی وو په يـو روايت کې رسول اللهγ د بني سلمة يوې ډلې کسانو ته وويل : سيدکم عمرو بن الجموح (ستاسې سيد عمرو بن الجموح دی) او عمرو يو ربتونی سردار کس وو او د بني سلمة په کورنۍ کې شريف کس وو او هرچا ورته د عزت په نظر کتل .[1]

شهادت يې

دا مبارک په پوره پښه باندې ګوډ وو په بدر کې نه وو شريک شوی کله چې د اُحد لپاره د غزا اعلان وشو دی هم را روان شو زامنو يې ورته وويل : ته به نه ځې الله β تاته د ستا د ګوډ والي له امله د نه تلو اجازه د رکړېده ته په کور کې پاتې شه دی مبارک I راغلو رسول الله γ ته يې له خپلو زامنو شکايت کاوه چې ما جهاد ته تلو ته نه پرېږدي راته وايي چې ته په کور پاتې شه .. رسول الله γ يې زامنو ته وويل : دا مه منع کوئ پرېږدئ چې لاړ شي کېدای شي الله β ورته شهادت ورکړي .

او د اُحد نه وړاندې به يې هر وخت زامنو ته ويل : تاسې زه پرې نه ښودم چې د بدر غزا ته لاړ شم تاسې زه له جنت څخه منع کړم والله که زه پاتې شوم زه به جنت ته ننوزم (بل ځل به جهاد ته ځم) کله چې د اُحد جنګ شروع کېدونکی وو رسول الله γ خپلو صحابه وو φ ته وويل : **قوموا إلى**

---

[1] **تهذيب الاسماء**

جنة عرضها السموات والأرض أعدت للمتقين (هغه جنت ته ور پاڅېږئ چې فراخي يې له د زمکې او اسمانونو دومره ده او د متقيانو لپاره تيار کړل شوى دى حضرت عمرو بن الجموح I د خپلې ګوډې پښې سره پورته شو او ويې ويل و الله زه به له همدې پښې سره جنت ته ځم او په جنګ باندې ور ګډ شو تر هغه وخته پورې د خپلې وسې مطابق و جنګېدو چې په شهادت ورسېدو .

حضرت هند l دده مېرمن وه او د حضرت عبد الله بن عمرو بن حرام خور وه هغې ويل ماته اوس هم ياد دي چې هغه روانېدو دعاء يې کوله يا الله β ما مه رد کوې (يعني شهادت راکړې) پدې ورځ باندى دى هم په شهادت ورسېدو او دده يو زوى خلاد هم په شهادت ورسېدو .

د حضرت قتادة I څخه روايت دى هغه فرمايي : حضرت عمرو بن الجموح I رسول الله γ ته راغلو ورته يې وويل : يا رسول الله γ ستا څه نظر دى که زه د الله β په لاره کې تر هغه وخته پورې جهاد وکوم چې شهيد شم زه به جنت ته ځم دا پښه به مې جوړه وي؟ او پښه يې ګوډه وه رسول الله γ ورته وويل : هو ... کله چې د اُحد په ورځ په شهادت ورسېدو رسول الله γ راغلو ورته و درېدو ويې فرمايل : داسې ده لکه زه چې همدا اوس ده ته ګروم او دى پدې پښه باندې پداسې حالت کې په جنت کې ګرځي چې دا پښه يې جوړه وي .[1]

د اُحد په ورځ د حالاتو د سختوالي له امله دى او دده د مېرمن ورور (دده آوښى) حضرت عمرو بن حرام I په يوه کفن کې کېښودل شول او د اُحد د

[1] حياة الصحابة

شهیدانو په اړه په اسلامي تاریخ کې یوه واقعه مشهوره ده چې اوبه وربانـدې راتلې نو د قبرونو په اړه د څه کار کولو په موخه د دوی قبرونه را وکیندل شول چې دوی لدې ځای نه لېږ بلې خوا ته کړي چې د دوی دواړو قبر را لوڅ کړل شو داسې ښکاره کېدل لکه پرون چې شهیدان شوي وي په دوی کې یو چې زخمي شوی وو خپل لاس مبارک یې په هغه زخم باندې ایښی وو بیا همداسې دفن کړل شوی وو نو چې کله یې قبر را لوڅ کړل شو دده لاس مبارک یې چا له زخم نه لرې کړو بېرته یې چې پرېښودو لاس بېرته زخم ته لاړو او د اُحد د غزا د ورځې او ددې ورځې چې قبرونه یې را ښکاره کړل شول په مینځ کې څلوېښت کاله تېر شوي وو په یو روایت کې شپږ څلوېښت کاله تېر شوي وو .[1]

الله β د په جنت کې لوړې مرتبې ورکړي .

شهید عبد الله بن عمرو بن حرام I

دا حضرت عبد الله بن عمرو بن حرام الانصاري السلمي ابو جابر I وو په بدر کې حاضر وو هلته الله β ورته شهادت نه وو ورکړی په رنګ کې یې سور والی وو درمیانه قد لرونکی ښکلی انسان وو مخکنی شهید حضرت عمرو بن الجموح I دده آوښی (دده د خور خاوند) وو دوی دواړه په اُحد کې شهیدان شول او د اُحد په ورځ دی اول شهید وو .

شهادت یې

دده زوی جابر I فرمایي : کله چې سبا د اُحد جنګ واقع کېدونکی وو ماته مې پلار وویل سبا

---

[1] سیر اعلام النبلاء

زما امید دی چې زه هغه کس وم چې د مسلمانانو له ډلې نه اول په شهادت ورسیږم نو زه درته وصیت کوم چې زما له لورانو سره به ښه رویه کوې .

حضرت جابر بن عبد الله I فرمایي : کله چې زما پلار د اُحد په ورځ شهید شو زه ورغلم له مخ نه مې یې ټوټه لرې کوله او ژړل مې او د رسول الله γ ملګرو زه لدې نه منع کولم او رسول الله γ نه منع کولم او زما عمه فاطمة بنت عمرو ϑ هم وربانده ژړل رسول الله γ وویل : که تاسې وربانده ژاړئ او که وربانده نه ژاړئ ملائکې په خپلو وزرونو باندې وربانده تر هغه پورې سیوری کوي چې تاسې یې پورته کړئ .[1]

همدارنګ جابر I د همدې شهید زوی زیاتوي کله چې زما پلار عمرو بن جموح I د اُحد په ورځ شهید شو رسول الله γ راته وویل : جابره زه درته خبر درکړم چې الله β ستا پلار ته څه وویل؟ ما ورته وویل : هو رسول الله γ ما ته ووایه الله β زما پلار ته څه وویل؟ رسول الله γ راته وویل : الله β چې له هرچا سره خبرې کوې د پردې تر شا یې ورسره کوي لکن ستا د پلار سره یې بغیر د پردې نه خبرې وکولې ورته یې وویل : یا عبد الله تمنا وکړه چې در یې کړم څه وغواړه چې در یې کړم ستا پلار ورته وویل : ای ربه ما ژوندی کړه چې بیا ستا په لاره کې ووژل شم الله β ورته وویل : دا خو مخکې زما فیصله شوېده چې یو ځل څوک مړه شي هغه به بېرته نه ځي بیا یې ورته وویل : یا الله β لما نه شا ته چې څوک پاتې دي هغوی ته

---

[1] الطبقات الکبری

ورسوه چې زه خوشحال يم بيا الله β آيت نازل کړو : وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ (169)[1]

ترجمه : او له سره گمان مه کوى ! (اى محمده يا اى سامعه !) پر هغو کسانو چې وژل شوي دي دوى په لاره د الله β (جهاد او طاعت) کې د مړو (مړه نه دى)، بلکه ژوندي دي په نزد د رب خپل رزق ورته ورکولى شي (له جنتي ما کولا تو او مشروباتو څخه).

لکه مخکې چې تېر شول دا مبارک I د اُحد په ورځ اول شهيد وو دا او عمرو بن الجموح ϑ په يو قبر کې خښ کړل شوي وو څکه د دوى په مينځ کې ډېره زياته مينه وه رسول الله γ د دوى په اړه وويل : دا دواړه يو له بل سره مينه کونکي په يو قبر کې دفن کړئ .

د دوى قبر پداسې ځاى کې وو چې هلته د سيل اوبه راتلې څلوېښت کاله وروسته ددې لپاره چې دوى له هغه ځايه لرې کړي چېرته چې د سېل راتللو مخه وه نو چې کله يې قبر را لوڅ کړل شوي څلوېښت کاله وروسته داسې ښکاره کېدل لکه پرون چې شهيدان شوي وي د عبد الله I په مخ باندې زخم وو او لاس مبارک يې په زخم باندې ايښى وو يو چا دده مبارک لاس له زخم څخه لرې کړو له زخم څخه يې وينه روانه شوه (سبحان الله) چې لاس يې پرېښودو بېرته لاړو په زخم کېښودل شو او وينه يې ودرېده حضرت جابر I د حضرت عمرو بن الجموح I زوى وو هغه وايي چې کله مو را لوڅ کړو ما خپل پلار وليدو داسې ښکاره کېدو لکه

[1] سورة آل عمران

هغه چې ويده وي او هغه لېر هم نه وو بدل شوی چا ورثخه پوښتنه وکوله تا يې کفنونه وليدل؟ هغه مبارک I وويل : زما پلار په يوه نمرة نومي جامه کې پېچل شوی وو پدې ورځ مور هغه تېوته وليده چې هغسې وه لکه څنګه چې مور خښ کړي وو [1].

[1] الطبقات الكبرى

شهید حضرت سعید بن الربیع I

حضرت سعید بن الربیع الانصاري الخزرجي I بدري صحابي دی په بدر کې شریک وو تعلیم یافته صحابي وو د جاهلیت په دور کې یې کتابت کاوه چې د چا څه به څه کار وو ده به ورته لیکل کول کله چې په اسلام مشرف شو ښه مسلمان وو له هیڅ ډول قرباني څخه یې دریغ نه کاوه او د اسلام او مسلمانانو لپاره هر ډول قرباني ته تیار وو کله چې مهاجرین مدینې منورې ته راغلل نو رسول الله γ د مهاجرو او انصارو په مینځ کې وروروګلوي جوړوله دده ورور ګلوي یې د حضرت عبد الرحمن بن عوف سره جوړه کړې وه حضرت امام احمد ρ له حضرت انس I څخه روایت کړی دی چې کله حضرت عبد الرحمن بن عوف I مدینې منورې ته راغلو رسول الله γ دده ورور ګلوي د حضرت سعد بن الربیع الانصاري I سره جوړه کړې وه حضرت سعد I ورته وویل : وروره زه په مدینه منوره کې مالدار سړی یم زما په مال کې نیم مال واخله او دوه ښځې مې دي چې کومه یوه د خوښه وي ماته وو وایه چې درته طلاقه یې کړم ته ورسره واده وکوه حضرت عبد الرحمن ابن عوف I پخپله تاجر سړی وو ورته یې وویل : وروره الله β د ستا په مال او اهل کې تاته برکت واچوي ما ته صرف بازار را وښیه (بیا زه خپله کاربار او تجارت کولی شم زه خپله دومره څه کولی شم چې خپل ژوند پرې برابر کړم) بیا دوی ورته بازار وښود .[1]

شهادت یې

1 حیاة الصحابة

اُحد ته د پوره جذبې سره وتلی وو کله چې د اُحد غزوة پای ته ورسېده حضرت زید بن ثابت I فرمايي زه رسول الله γ ولېږلم چې حضرت سعد بن الربيع I وګورم چې څه حال يې دی رسول الله γ راته وويل : که د ولېدو زما سلام ورته ووايه او ورته ووايه : رسول الله γ ويل : څنګه يې؟ زه راغلم په مړيو کې ګرځېدم او يو يو کس مې کتلو چې دی مې پيدا کړو او د ژوند په آخري سلګيو کې وو او اويا (۷۰) زخمونه يې په ځان باندې لګېدلي وو پدې کې د توري ، د غيشی او نيزي او هرشی زخمونه موجود وو ما ورته وويل : سعده ! رسول الله γ تاته سلام ويل او ويې يې څنګه يې؟ ده راته وويل : زما د خوا نه د هم په رسول الله γ او په تا باندې سلام وي ورته ووايه رسول الله γ ماته د جنت بوی راځي او زما انصارو قوم ته ووايه : د الله β په وړاندې به ستاسې هېڅ عذر نه وي که چېرته رسول الله γ ته تکليف ورسول شو او پتاسې کې ساه وي .. دا خبره يې وکوله او ساه يې ورکړه ..

او په يو روايت کې دي چې حضرت سعد ورته وويل : زما له لوري رسول الله γ ته خبره ورکړه چې زه په مړيو کې يم او زما سلام ورته ووايه او ورته ووايه سعد وايي : الله β د تا ته زموږ او ټول امت له خوا نه خير درکړي .[1]

شهيد الاصيرم بن عمرو بن ثابت بن وقش I

[1] حياة الصحابة

دا حضرت عمرو بن ثابت بن وقش په مدينه منوره کې د اوس بني عبد الاشهل له قبيلې څخه وو د حضرت سعد بن معاذ او د حضرت اسيد بن حضير Λ د تره زوی وو دا بختور صحابي وو پداسې وخت کې ورته شهادت ورکړو چې څنګه يې ايمان راوړو الله β او دا هماغه صحابي دی چې جنت ته به د شهيدانو په ډله کې ځي او الله β ته يې يوه سجده هم نه وه ايښې .

يوه ورځ حضرت ابو هريره I له حاضرو خلقو نه پوښتنه وکوله ورته يې وويل : ماته داسې کس را وښيئ چې جنت ته به ځي او يوه سجده به يې هم نه وي ايښي ... کله چې خلق چُپ شول او چا ته هم ددې ځواب نه وو زده نو بيا خلقو ده مبارک ته وويل : دا کس څوک وو؟ حضرت ابو هريره I ورته وويل : دا حضرت عمرو بن ثابت بن وقش I وو .

شهادت يې

د حضرت محمود بن اسد I نه پوښتنه وشوه چې د اصيرم صحابي I قصه څنګه وه؟ ده وويل : ده ته به دده قوم اسلام ور وړاندې کولو لکن ده به يې له منلو څخه انکار کولو او زړه يې ورته نه کېدو کله چې د اُحد د غزا ورځ وه په داسې وخت کې چې ځينې غازيان د اُحد ميدان ته تلل تر هغه وخته پورې هم دده زړه ته اسلام لاره نه وه ور پيدا کړې خو لږ وروسته دده زړه ته د اسلام رڼا ور ننوتله اسلام يې قبول کړو او سم د لاسه د اُحد جنګ ته روان شو تردې چې په صفونو کې ور ننوتلو او د اسلام په دښمنانو يې حملې شروع کړې او د پوره جذبې سره و جنګېدو او زخمي شو د بني عبد الاشهل قبيلې يو سړی په شهيدانو کې ګرځېدو خپل کسان يې پکې کتل چې ده ته را

ورسېدو ورته يې وويل : اې والله دا خو اصيرم دى ته دلته څه کوې؟ موږ چې راتلو ده خوپه هغه وخت کې هم له اسلام نه انکار کولو ... پوښتنه يې ترې وکوله عمرو څه شي دلته راوستلې؟ د خپل قوم په ملاتړ راغلې او که د اسلام لپاره راغلې؟ ده وويل : نـــــــــــه د اسلام لپاره راغلم په الله β او د هغه په رسول γ مې ايمان راوړو او مسلمان شوم بيا مې توره را واخيسته او په سحر کې له رسول الله γ سره را ووتلم تردې چې دا څه را باندې وشول چې وشول (زخمي شوم) په همدې خبرو کې ډېر وخت تېر نه وو چې د دوى په وړاندې يې ساه ورکړه ... چا د رسول الله γ په وړاندې ياد کړو رسول الله γ وويل : إنه من أهل الجنة (هغه جنتي دى) .[1]

د يوم الرجيع شهيدان M

د يوم الرجيع **شهيدان** د اسلام په تاريخ کې مظلوم **شهيدان** وو دا لس کسان صحابه کرام φ وو **شهيد حضرت مَرْثَـد بن أبى مَرْثـد الغَنَوِىّ** شهيد **حضرت خالـد بـن البُكـيْر شهيد حضرت عاصمُ بن ثابت بن أبى الأقْلَـح** شهيد حضرت **خُبَيْبُ بن عَـدِىّ شهيد حضرت زَيـدُ بن الدَّثِنـة** شهيد **حضرت عبدُ الله بن طارق رضى الله عنهم اجمعين** د هجرت په څلورم کال د صفر په مياشت کې د بني لحيان قبيلې څه خلق چې له بني هذيل څخه وه عضل او قارة قبيلو ته ورغلل له هغوى سره يې خبرې وکولې چې رسول الله γ ته به ورشو څه کسان به ترې وغواړو چې له موږ سره يې را وليږي چې موږ ته قرآن او اسلام را زده کړي يوه ډله راغلل رسول الله γ ته يې دا خبره وکوله چې په موږ کې ډېر کسان مسلمانان شته موږ ته د استاذانو ضرورت دى چې موږ په دين پوه کړي او

---

[1] **حياة الصحابة**

مـوږ تـه قـرآن کـریـم را زده کـړي رسـول الله γ چې د اسلام پـه خپـرېـدلـو کې زیـات لېوالـه وو نـو د خپـلو صحـابـه وو φ کـرامـو څخه یـې لـس کسـان لـه دوی سره مـلګري کـړل او پـدې لـسو کسـانـو بـانـدې یـې حضرت عـاصم بـن ثـابـت I امـیر مقـرر کـړو .

دوی راغـلـل هغـه کسـان هـم ورسره وو چې کـوم پـه دوی پسې ورغـلي وو تـردې چې الـرجیع نـومـي علاقـې تـه را ورسېدل دې کسـانـو پـدې ځـای کې لـه دوی سره خیـانـت وکـولـو او د دوی قـتـل تـه یـې مـلا وتـړلـه او د هـذیـل قـبیـلـې خلقـو تـه یـې اواز وکـولـو چې راشي او لـه دوی سره ددې کسـانـو پـه وژلـو او نـیـولـو کې مـرستـه وکـوي د تـورو والـه خلـق پسې را ووتـل او هېڅـا د دوی مـرستـه ونـه کـولـه حضرت عـاصم بـن ثـابـت او مـلګـرو یـې M خپـلي تـورې را وویـستـې سره ددې چې د ټـولـې قـبیـلـې پـه مقـابـل کې محـدود کسـان وو لـکـن بـیـا هـم جنګ تـه تـیـار شـول دوی ورتـه وویـل : و الله مـوږ سـتـاسې وژل نـه غـواړو او مـوږ تـاسې تـه د الله β پـه نـوم وعده درکـوو چې مـوږ تـاسې نـه مـړه کـوو بـلـکـه مـوږ دا غـواړو چې تـاسې پـه قـریـشو بـانـدې پـه مکـه کې خرڅ کـړو او مـوږ لـه هغـوی نـه پـیسې واخلـو او پـدې وخت کې قـریـشو دا ډېـره غـوره ګـڼـلـه چې چـا بـه څوک صحـابـه φ وروسـتـل تـرڅو یـې دی د هغـه خپـلـوانـو پـه بـدل کې مـړه کـړي چې پـه بـدر کې او پـه اُحد کې وژل شـوي دي صحـابـه کـرامـو φ ورسره ونـه مـنـلـه او ځـان یـې ورتـه تـسلـیم نـه کـړو ددې صحـابـه وو φ مشر حضرت عـاصم بـن ثـابـت I وویـل : و الله مـوږ د مشرک هېڅ ډول تـړون او وعده نـشو مـنـلی پـدې کې جنګ شروع شو صحـابـه کـرام φ صرف لـس کسـان وو او د هـذیـل قـبیـلـې خیـانـت ګـر او غـدار کسـان د سلـو کسـانـو پـه شـاوخوا کې وو او څرنـګـه چې د همدې ځـای وو نـو پـه هر ډول اسلحو بـانـدې هم سنـبـال وو او تـر صحـابـه وو M څخه غـوره

سامان ورسره وو په صحابه کرامو φ کې اوه
کسان د دوی د امیر حضرت عاصم بن ثابت I په
شمول په شهادت ورسېدل کله چې دې دریو کسانو
ولیدل چې دوی خو اوس کم کسان پاتې شول نو
کېدای شي که دوی تسلیم شي نو دا د دوی لپاره
ښه وي نو جنګ یې بس کړو دری کسان حضرت زید
بن الدَّثِنَة حضرت خُبَیب بن عديّ او حضرت عبد الله
بن طارق M تسلیم شول دوی چې کله ونیول شول
او له دوی نه یې توري واخیستی د دوی تړل یې
شروع کړل نو ښکاره شوه چې یو ځل یې بیا له
دوی سره خیانت وکولو نو د یو قول له مخې
همدلته حضرت عبد الله بن طارق I انکار وکولو او
له دوی سره یې تللو ته غاړه نه اېښوده نو هغه
یې همدلته په شهادت ورسولو او د یو قول له
مخې چې کله الظهران علاقې ته ورسېدل هلته یې
دا مبارک په شهادت ورسولو او دا دوه کسان
حضرت زید بن الدَّثِنَة او حضرت خُبَیب بن عديّ Λ
یې دواړه مکې ته بوتلل هلته یې په قریشو
باندې خرڅ کړل حضرت خبیب په مکه کې حجیر بن
ابي اهاب التمیمي واخیستو دده پلار په اُحد کې
وژل شوی وو ده ویل زه به یې د خپل پلار په ځای
ووژنم او حضرت زید بن الدثنة صفوان بن امیة
واخیستو چې د هغه پلار امیة بن خلف په بدر کې
وژل شوی وو ده ویل زه به یې د خپل پلار په ځای
ووژنم دوی دواړه یې په ذی القعده میاشت کې
واخیستل پدې میاشتو کې به دوی جنګ او وژنه نه
کوله نو دوی یې بندیان وساتل چې دا میاشتې
تېرې شي اول یې زید په شهادت ورسولو او حضرت
خبیب I یې یو څه وخت نور هم بندي وساتلو بیا
یې د هغه د قتل لپاره ټول خلق را وغوښتل په
اول کې یې چې بندي کړو نو ډېره بده رویه یې
ورسره کوله ده مبارک ورته وویل : تاسې خو ځان
کرام او معزز خلق ګڼئ او معزز خلق خو د
بندیانو سره داسې رویه نه کوي بیا د هغې نه

وروسته به یې ورسره ښه رویه کوله او یوې ښځې ته یې حواله کړو چې ماویة نومیده هغې به هر وخت په دې باندې پهره کوله هغې به ویل کله به چې شپه شوه ده مبارک I به د شپې په مانځه کې تلاوت کاوه چې په ګاونډ کې به ښځو دده اواز واوریدو ورته را ټولې به شوې او دده تلاوت ته به یې ژړل .. ما ورته ویل : څه د په کار دي؟ ده راته وویل نه صرف دا چې ماته به پاکې اوبه راکوې او هغه څه به را باندې نه خوري چې د بتانو لپاره ذبح کړل شوي وي او ماخبر کړې چې دوی زما د مرګ اراده څه وخت لري .. کله چې دده د مرګ وخت معلوم شو ما ورته وویل چې په فلاني وخت کې یې ستا د مرګ اراده کړې ده دی بالکل وربانديې خفه او غمجن نشو ... دا ماویة هم وروسته په اسلام مشرفه شوې ده دا فرمایي ما یوه شپه یو دم ده ته ور وکتل چې ومې لیدل دده په لاس کې د انګورو دومره وږی دی لکه د انسان سر او د هغه نه یې خوراک کولو او پدې وخت کې د زمکې په مکه کې انګور نه پیدا کېدل وخت یې نه وو .

کله یې چې را وویستلو او شهید کولو یې ده ورته وویل : ما پریږدئ چې دوه رکعته مونځ وکوم هغه یې پرېښودو دوه رکعته مونځ یې وکولو حضرت سعید بن عامر I فرمایي زه حاضر وم چې د مکې کفارو د خبیب بن عدي I اعدام کولو هغه یې راوستلو او دهغه د بدن څخه به یې غوښې شکولې او هغه یې په دار خېژولو او ډول ډول تکلیف یې ورکولو چا ورڅخه پوښتنه وکوله چې ته دا خوښوې چې محمد γ د ستا په ځای قتل شي او ته دې په امن وې؟ ده ورته وویل والله زه دا هم نه خوښوم چې د هغه په پښه کې ازغی لاړ شي او زه دې په اهل کې وم (ماته خپل شهادت منظور دی لکن د رسول الله γ په پښه کې یو ازغی تلل نه)

بالآخره یې را وویستلو چې په دار یې وځړوي په حرم کې یې د تنعیم سره لرګی ورته درولی وو چې کله یې راوستلو ده ورته وویل که تاسې ماته اجازه راکړئ دوه رکعته مونځ وکوم؟ دوی اجازه ورکړه مونځ یې وکولو او بیا یې ورته وویل که زه نه ډارېدلی چې تاسې به ګمان وکوئ چې زه د مرګ نه ډارېږم نو ما خپل مونځ اوږدول غوښتل (دا اول ځل وو چې څوک د مرګ نه وړاندې مونځ کول غواړي)

بیا یې هغه په دار باندې وخېژولو ده وویل ای الله β موږ ستا د رسول پیغام رسولی دی هغه γ زموږ په حال خبر کړه بیا یې دعا وکوله ویل یې : **اللهم أحصهم عددًا واقتلهم بددًا ولا تغادر منهم احدا** بیا هغوی شهید کړو .

الله β د خبیب د شهادت په اړه رسول الله γ ته خبر ورکړو هغه γ حضرت عمرو بن امیة الضمري را ولېږلو چې د شپې یې د دار له لرګي نه را ښکته کړي هغه د شپې پټ پټ راغلو چې د لرګي نه یې را ښکته کړو په زمکه یې واچولو لږ وروسته یې زمکې ته وکتل په زمکه باندې هېڅ شی نه وو او هغه مبارک I زمکې تېر کړی وو ددې امله ده I ته بلیع الارض هم ویل کیږي .

دا په تاریخ کې اول هغه کس وو چې د الله β په لاره کې په دار و ځړول شو او اول هغه کس دی چې د خپل شهادت نه وړاندې یې مونځ وکولو .

د بئر معونة د ورځې شهیدان M

دا اویا کسان صحابه کرام φ وو

د هجرت په څلورم کال د صفر په میاشت کې بله د اسلامي تاریخ د ددرنه ډکه واقعه د بئر معونة واقعه وه دا هغه وخت مینځ ته راغله کله چې ابو براء عامر بن مالک بن جعفر چې په ملاعب الاسنة یې شهرت درلود رسول الله γ ته مدینې منورې ته راغلو رسول الله γ ورته اسلام وړاندې کړو هغه اسلام قبول نه کړو او ډېر سخت انکار یې هم ترې ونه کولو بیا یې ورته وویل ای محمده ! γ که ته چېرته خپل ملګري د نجد علاقې ته را ولېږې هلته هغه خلق اسلام خواته را وبلي زما امید دی هغوی به ستا خبره ومني رسول الله γ ورته وویل د نجد له خلقو زه ډارېږم ابو براء د رسول الله γ سره وعده وکوله چې دی به یې هلته ساتنه کوي رسول الله γ دده په وعده باندې اعتماد وکولو او حضرت المنذر بن عمرو I یې د څلوېښتو کسانو صحابه وو φ سره ور ولېږلو جلیل القدر صحابه φ یې ورسره ملګري کړل دوی لاړل د بئر معونة ساحې ته ورسېدل هلته یې عامر بن الطفیل ته د رسول الله γ د لورې نه خط ور ولېږلو چې اسلام ته یې را وبلل هغه بغیر ددې چې د رسول الله γ خط ته وګوري په استازي یې شروع وکوله او شهید یې کړو بیا یې د نورو صحابه وو φ د وژلو لپاره بني عامر ته اواز وکولو هغوی ورته وویل چې زموږ کس ابو براء دوی ته ویلي دي چې راشي ددې امله موږ هغه کم نه راولو بیا یې د بني سلیم څخه نورې قبیلې لکه عصیة، رعلا، ذکوان القارة په دوی پسې را وغوښتلې هغوی یې ملاتړ وکولو ټول پسې راغلل تردې چې دا مظلوم صحابه φ یې محاصره کړل دوی چې ولیدل خپلو تورو ته یې لاس کړو جنګ یې ورسره شروع کړو ترڅو چې ټول شهیدان شول یوازې حضرت کعبَ بنَ زیدِ بن النجار په داسې حالت کې

پاتې شو چې دمه پکې چلېده بيا الله β بېرته شفاء ورکړه بيا د خندق په غزوة کې په شهادت ورسېدو .

دوی چې دلته شهيدان شول عمرو بن امية الضمري او يو بل کس انصاري وو κ د بني عمرو بن عوف کورنۍ څخه دواړه پدې وخت کې په مرکز کې نه وو دوی ته چا ونه ويل چې دلته څه قصه شوېده بلکه دوی کارغان وليدل چې د دوی د مرکز په ځای باندې ګرځېدل دوی وويل دا مارغان د څه خبرې له امله دلته دومره ډېر تا ويړي دوی راغلل چې وګوري چې څه چل دی چې راغلل ويې ليدل صحابه φ په وينو کې لانده پراته دي هغه بل انصاري حضرت عمرو ته وويل څه کوو؟ ده ورته وويل لاړ به شو رسول الله γ ته به ددې واقعې په اړه خبر ورکړو هغه بل صحابي وويل چېرته چې منذر بن عمرو شهيد شوی دی زه ددې ځای څخه نه ځم نو يې ددې ځای له کفارو سره جنګ شروع کړو هغه صحابي I په شهادت ورسېدو او عمرو يې ژوندی ونيولو هغه يې عامر بن الطفيل ته ور وستلو هغه خوشې کړو دده په ګمان چې دده په مور باندې د يوه غلام ازادول لازم شوي وو نو دهغه په بدل کې به دا خوشې کړم زما د مور غاړه به خلاصه شي .

رسول الله γ ددې شهيدانو په شهادت باندې ډېر خفه شو او تر ډېره وخته پورې به يې د سحر په مانځه کې دعا قنوت ويله او ددې حادثې مجرمانو ته به يې پکې ښېرا کوله .

شهيد حضرت سعد بن معاذ I

جليل القدر او د لوړې مرتبې صحابي وو دی ابو عمرو سعد بن معاذ بن النعمان بن عبد الاشهل

الانصاري د اوس د قبيلې مشر وو د حضرت مصعب بن عمير I په لاس په اسلام مشرف شوی وو کله چې رسول الله γ حضرت مصعب بن عمير I مديني منورې ته خلقو ته د اسلام او قرآن د ور زده کولو لپاره ور ليږلی وو کله چې حضرت سعد بن معاذ I په اسلام مشرف شو د خپلې کورنۍ بني عبد الاشهل ته يې وويل : ترڅو چې تاسې په اسلام مشرف نه شئ ستاسې د نرو او ښځو خبرې په ما باندې حرامې دي (له ما سره به خبرې نه کوئ) بيا هغوی ټولو په يو ځای باندې اسلام قبول کړو په اسلام کې دده له راتلو سره ډېر برکت راغلو او اسلام چې دده په ژوند کې راغلو دده ژوند ته يې هم ډېر برکت ورکړو او د خپلې قبيلې لپاره يې ډېره فايده ورسوله په بدر کې موجود وو ، په اُحد کې موجود وو د بني قريظة يهود دده په فيصله باندې تسليم شول او په خندق کې غزوة کې هم حاضر وو .[1]

شهادت يې

دا مبارک د ښې جذبې خاوند وو د خندق په غزوة کې زيات مصروف وو او څرنګه چې د خندق په واقعه کې کفارو په مدينه منوره باندې حمله کول غوښتل او د اسلام بيخ يې ويستل غوښتل نو د مديني منورې نه دفاع کول د مسلمانانو لوی کار وو او څرنګه چې حضرت سعد I په مدينه منوره کې د اوس د قبيلې مشر وو نو پدې ډېر ښه پوهېدو چې مدينه منوره له کومه لوري په خطر کې ده او له کومه لوري يې دفاع په ښه توګه کېدلی شي نو ځکه يې په هره خبره کې دده رايه اخيستل کېده او د قدر په نظر ورته کتل کېدل يوه شپه چې د خندق په غزوة کې حضرت سعد له يوې خوا پدې غم کې وو چې کفار تر خندق را تېر نشي او له

---

[1] تهذيب الاسماء

بلې خوا دا غم ورسره وو چې په مدینه کې موجود یهود چېرته د شا له خوا په مسلمانانو باندې حمله ونه کوي نو د شپې به یې یو ځل هغه خوا ته کتل او یو ځل به یې په ځیر ځیر د شا خوا ته کتل او ځارنه به یې کوله زغره یې آغوستې وه چې دده شاه او سینه مبارکه او ګېډه یې پټه کړې وه او لاسونه یې لوڅ وو د کفارو له لوري وربانديې غیشی راغلو په څنګل کې یې له یو طرف څخه ننوتلو او بل لوري ته ورڅخه ووتلو دده مبارک هغه په چپ لاس ونیولو او له خپل لاس نه یې بېرته وویستلو خو د ښي لاس ګوتو یې کار پرېښودو او نور یې نیزه پکې نشوای نیولی د وینې جریان ډېر زیات وو او دی یې کمزوری کړو او را وغورځېدو دوه کسان ورڅخه لاندې شول یو په امن ځای ته یې نقل کړو حضرت سعد I لېږ ځان د خورما بېخ ته تکیه کړو او خپل پټکی مبارک یې را واخیستو چې دا زخم پرې وتړي ترڅو د وینې د جریان مخه ونیسي پدې وخت کې سحر شو او د لمر سترګه را پورته شوې وه او لا رڼا یې نه وه کړې سخت درد او تکلیف وو لکن حضرت سعد بن معاذ I د زیاتې لوړې حوصلې خاوند وو لاس یې پورته کړو او دعاء یې وکوله : ای الله β که چېرته د قریشو سره جنګ لا پاتې وي نو ما هم پاتې کړه ورته بېشکه زما دا خوښیږي چې زه د هغه قوم سره جنګ وکوم چې ستا د رسول تکذیب یې کړی دی او هغه یې له خپل کور او خپلې علاقې نه ویستلی دی او که چېرته جنګ په ختمېدو وي نو بیا مې د همدې زخم نه شهادت په نصیب کړه خو تر هغه وخته مې مه مړ کوه چې ترڅو مې د بني قریظة په یهودو باندې سترګې یخې شوې نه وي (زړه مې پرې یخ شوی نه وي) د کفارو د لښکر په مرکزونو باندې هلاکونکی باد راغلو خیمې او هرڅه یې ورته تباه کړل داسې باد وو چې ډک دیګونه به چې ایښي وو هغه به یې ورته واړول او هرڅه تاسیسات او پروګرامونه یې ورته خراب

کړل رسول الله γ د هغوی لوري ته يو موټی خاورې ور وويشتلې هغه د هر کافر سترګو ته په پوره پيمانه ور ورسېدلې د پوره بې شرمي او نا کامي سره په تېښته سر شول او بيا يې تر شاه ونه کتل او ټول کفار و تښتېدل الله β مسلمانان او مبارک دين په خپل حفاظت کې وساتلو او کفارو ته يې وس ورنه کړو چې مدينې ته را ننوزي رسول الله γ له خپلو ټولو صحابه وو φ سره راغلو مدينې منورې ته ..

د بني قريظه يهودو چې د مسلمانانو په خلاف يې د کفارو سره لاس يو کړی وو چې دوی به مسلمانان د ننه خوا څخه وهي او کفار به يې له بهر نه ووهي پدې سره به د مسلمانانو بنياد وباسي له مجبوري نه اوس بېرته خپلو ځايونو ته ستانه شول رسول الله γ چې څنګه مدينې منورې ته راغلو جبريل ν ورته راغلو او د جنګ سامان يې په ځان وو رسول الله γ ته يې وويل : تا سلاح کېښودې ملائکو خو تر اوسه پورې د جنګ سلاح نه ده ايښې ځئ په بني قريظه وو پسې ور شئ له هغوی سره جنګ وکوي (ځکه د بني قريظة د يهودو او د رسول الله γ په مينځ کې چې کوم تعهد وو چې دوی به له يو بل سره جنګ نه کوي هغه خو اوس مات شو ځکه دوی د مسلمانانو په خلاف د ټولو کفارو سره د ملاتړ لپاره تيار شول) نو رسول الله γ سم د لاسه اعلان وکولو چې په بني قريظه وو پسې ورتلل دي ټول خلق د هلته ځان رسوي هغوی په خپلو سختو او کلکو قلاګانو کې وو صحابه φ ورغلل او محاصره يې کړل پنځلس ورځې محاصرې دوام وکولو بالآخره هغوی وويل چې د اوس قبيلې سردار حضرت سعد بن معاذ I د راشي زموږ په اړه د فيصله وکوي چې هرڅه فيصله هغه وکوي موږ يې منو دا مبارک په خره باندې راوستل شو او فيصله يې

وکوله هغوی تسلیم شول د شپې د حضرت سعد I د لاس وینه سخته روانه شوه رسول الله γ پخپله ورسره ناست وو او د هغه لاس مبارک یې ځان ته را نیږدې کړی وو د حضرت سعد بن معاذ I د مبارک لاس وینه د رسول الله γ مخ مبارک او ږیري مبارکې ته ور آلوتله او رسول الله γ ورڅخه هیڅ ډول ځان نه ساتلو بلکه چې څومره به وینه زیاتېده دومره به یې نور ځان ته نیږدې کولو چې هغه مبارک ساه ورکړه ...

کله چې دی په جومات کې ایښی وو حضرت سلمة بن اسلم بن حریس I فرمایي موږ په دروازه کې وو رسول الله γ جومات ته ننوتلو موږ هم ننوتل غوښتل په جومات کې نور هیڅوک هم نه وو ما رسول الله γ ولیدو چې د پښو په سرونو باندې په تکلیف سره تلو لکه ډېر رش (بیربار) چې وي ماته یې اشاره وکوله چې ته ودرېږه مه راځه زه ودرېدم او په ما پسې چې څوک را تلل ما هغه حصار کړل هغوی ته مې ویل چې ودریږئ رسول الله γ د لږ ساعت لپاره کېناستلو بیا را ووتلو ما ورته وویل : یا رسول الله γ په جومات کې خو هیڅوک هم نه وو خو ته داسې تلې لکه زیات بېر بار چې وي رسول الله γ راته وویل : دومره ځای نه وو چې زه پکې ناست وی بیا یوې ملائکې زما لپاره خپل یو وزر ټول کړو ماته یې ځای راکړو زه هلته کېناستم او رسول الله γ به بیا بیا ویل : ابا عمرو ستا لپاره د خوشحالي خبره ده ... ستا لپاره د خوشحالي خبره ده (ابا عمرو د حضرت سعد بن معاذ I کنیة نوم وو) .

رسول الله γ د حضرت سعد I د جنازې په اړه فرمایل : **لقد نزل سبعون ألف ملك شهدوا جنازة سعد، أو سرير سعد، ما وطئوا الأرض قبل اليوم** .

ترجمه : د سعد I جنازې ته اویا زره فرښتې را ښکته شوې وې هغه داسې فرښتې وې چې تر اوسه پورې یې په ځمکه باندې پښې نه وې لګېدلې .

حضرت ابو سعید الخدري I فرمایي : زه په هغه ډله کې وم چې د حضرت سعد بن معاذ I لپاره مو په بقیع کې قبر ویستلو خومره به چې موږ خاورې را ویستلې په موږ باندې به د مسکو بوی لګېدو[1] .

---

[1] حیاة الصحابة

د غزوة مؤتة شهيدان M

رسول الله γ حضرت حارث بن عمير الازدي I ملک بصري ته د شام ته د خپل استازي په توګه ور ولیږلو او خط یې ورکړو چې په هغه کې یې دی اسلام ته را غوښتلی وو هغه په ډیر کبر سره د رسول الله γ استازی شهید کړو او د استازي شهید کول په اوس وخت کې هم بد عمل دی او په هغه وخت کې هم ډیر د شرم نه ډک جرم ګڼل کېدو رسول الله γ ته چې دا خبر را ورسېدو نو زیات غصه شو او خلقو ته یې اعلان وکولو چې را ټول شي د رومیانو سره جنګ ته تلل دي نو مجاهدین ۳۰۰۰ کسان جنګ ته را ټول شول اګست/سپتمبر 629 م - جمادی الأولی د هجرت آتم کال وو رسول الله γ د دوی په سر باندې زید بن حارثه I امیر کړو او بیا یې ورته وویل که چېرته دا شهید شو بیا به حضرت جعفر بن ابي طالب I ستاسې امیر وي او که هغه شهید شو بیا به حضرت عبد الله بن رواحة I ستاسې امیر وي .

د جمعې ورځ وه چې دوی روان شول د مجاهدینو خپلوان ورسره را وتلي وو ټولو ورته دعا ګانې کولې چې الله β مو په خیر فاتحین او صابرین خپلو کورونو ته را ورسوه .

دوی لاړل د شام یو کلي معان ته ورسېدل دوی ته خبر راغلو چې رومیان خو جنګ ته په ډیر لوی تعداد کې راوتلي دي چې یو لک کسان رومیان دي او یو لک کسان ورسره نور د قبائلو نه را ټول شوي دي نو دا دوه لکه کسان شول او صحابه کرام صرف ۳۰۰۰ دری زره کسان وو صحابه φکېناستل مشوره یې کوله چې څه وکوو؟ موږ خو دا فکر نه کاوه چې زموږ د محدودو کسانو مجاهدینو مقابله

به د دوو لکو کسانو سره کیږي ځینو پکې ویل چې رسول الله γ ته به خط ولیږو او ورته به ووایو چې زموږ دښمن خو دوه لکه کسان دي یا خو به په موږ پسې نور کسان راولیږي او یا خو به موږ ته څه امر وکوي په هغه امر به عمل وکوو چې هرڅه وو .

حضرت عبد الله بن رواحة I پاڅېدو خبرې یې شروع کړې او ویې ویل : ای خلقو تاسې ددې لپاره راوتلي یاست چې که الله β مو شهادت نصیب کړي والله موږ دخلقو سره په عدد باندې جنګ نه کوو موږ د خلقو سره صرف پدې مبارک دین جنګ کوو چې الله β موږ ته وربانديې عزت راکړی دی راځي چې ور وړاندې شو الله β به په دوو ښو شیانو کې یو موږ ته راکوي یا شهادت او یا کامیابي خلقو وویل والله ابن رواحة رښتیا وویل او ددې خبرې سره ټول په یوه جذبه ور وړاندې شول چې بلقاء سیمې ته ورسېدل د هرقل فوځونه څه رومیان او څه عرب هم نېږدې کلي ته چې مشارف یې ورته ویل را ورسېدل مسلمانان پدې وخت کې د موتة په نوم کلي ته وړاندې شول په اوس وخت کې ورته کرک وایي مسلمانانو خپل فوځ تیار کړو په میمنه (د فوځ په ښي طرف) باندې یې قطبة بن قتادة I مقرر کړو په میسره (د فوځ په چپ طرف) عبایة بن ملک یو انصاري مجاهد I مقرر کړو صفونه سره وړاندې شول او سخت جنګ شروع شو چې صرف د زخمیانو فریاد د تورو اواز او د مسلمانانو د تکبیر اوازونه پورته کېدل د زمکې نه تور ګرد پورته شو فوځونه ډېر په سخته سره مخامخ شول چې د مسلمانانو لمړی امیر حضرت زید بن حارثه I د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو حضرت جعفر I را ټوپ کړل او بیرغ یې پورته کړو د مسلمانانو فوځیانو په مخه کې وو جنګ ډېر سخت وو ښی لاس یې چا ووهلو او لاس یې ترې پرې کړو ده زر بیرغ

په چپ لاس کې ونيولو او هغه يې زمکې ته پرې نه شودو چې لاس يې ترې ووهلو د پاتې بدن او سر په واسطه يې د اسلام بيرغ پورته کړو او زمکې ته يې پرې نه شودو تردې چې شهيد شو .

عبد الله بن رواحة I را ټوپ کړل او د مسلمانانو بيرغ يې پورته کړو او په بل لاس کې يې خپله توره واخيسته او په جنګ ور ګډ شو تردې چې د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو کله چې د مجاهدينو دريم قائد هم شهيد شو ثابت بن أرقم بن ثعلبة الأنصاري I را ټوپ کړل او د مسلمانانو بيرغ يې پورته کړو اواز يې وکړو ای مسلمانانو امير و ټاکئ دوی ورته وويل همدا ته امير شوې ده وويل نه زه يې نشم کولی بيا وويل شول چې خالد بن وليد به امير وي او په اسلام کې د خالد بن وليد دا لمړی ځل وو چې امير شو ده په خپل جنګې مهارت د فوځ ښی طرف چپ طرف ته ولېږلو او چپ طرف يې ښي طرف ته ولېږلو او پدې وخت کې شپه وه سبا چې صفونه سره مخامخ شول نو کفارو چې ولېدل کسان بدل دي دوی فکر وکاوه چې مسلمانانو ته لکه چې نور تازه دم فوځونه راغلي دي د هغوی زړونه وغورځېدل.

او مسلمانانو ته ويل شوي وو چې څومره مو وس وي دومره په سخته سره به حمله کوئ حضرت خالد بن وليد I فرمايي د موتة په ورځ مې په لاس کې نه توري ماتې شوې چې کله سره مخامخ شول مسلمانان په همداسې سخته توګه د کفارو سره مخامخ شول هغوی ماتې وخوړه او مسلمانانو ته يې شا کړه ميدان يې پرېښودو کله چې هغوی له ميدان څخه و تښتېدل نو حضرت خالد بن وليد I هم مسلمانانو ته وويل ودرېږئ په دوی پسې نه ورځو او بېرته مدينې منورې ته را ستانه شول او دا يوه ښه تجربه وه چې د ښه عزت په وخت کې په داسې وخت کې چې کفارو ماتې خوړلې وه دوی

مدينې منورې ته را ستانه شول پدې جنګ کې د مسلمانانو له لوري نه تر ګمان څخه ډېر کم تلفات وو صرف ۱۲ کسان د یو بل قول له مخې ۱۳ کسان شهيدان وو او د روميانو له لوري نه ۳۳۵۰ درى زره درى سوه پنځوس کسان وژل شوي وو

رسول الله γ ددې هرڅه په اړه په مدينه منوره کې صحابه ووφ ته خبر ورکړو هغوى ته يې وويل حضرت زيد بن حارثه I جنګ ته وړاندې شو هغه شهيد شو بيا حضرت جعفر I بيرغ واخيستو هغه هم شهيد شو بيا عبد الله بن رواحة I واخيستو هغه هم شهيد شو او بيا د الله د تورو څخه يوې تورې واخيستو او هغه ته الله β فتح ورکړه .

پدې غزا کې شهيدان په لاندې ډول وو .

زيد بن حارثة
جعفر بن ابي طالب
عبد الله بن رواحة
مسعود بن الاسود
وهب بن سعد
عباد بن قيس
عمرو بن سعد
الحارث بن النعمان
سراقة بن عمرو
أبو كليب بن عمرو
جابر بن عمرو
عامر بن سعد
رضوان الله عليهم اجمعين

د صحابه ووφ د شهيدانو له ياد نه مې زړه نه را تولېږي خو اوس يې په دې ځاى بس کوم که وخت او عمر ياري وکوله چېرته به د شهيدانو لپاره يو بېل کتاب ترتيب کړو چې صرف شهيدان صحابه φ پکې را ټول کړو لکه په سر کې چې ما وويل پدې ځاى کې

زه نه غواړم چې تاسې د صحابه وو φ **شهيدان** او د هغوی د قربانۍ واقعې را ټولې کړم صرف دا يوڅو ګلونه **شهيدان** مې دلته ياد کړل چې زما دا کتاب د دوی په ياد سره متبرک او بختور شي اوس يې دلته ددې دعاء سره پرېږدم چې د اسلام په لاره کې هرڅوک **شهيدان** کېږي او **شهيدان** شوي دي الله β د ورته شهادتونه قبول کړي او پدې مقدس نعمت کې د الله β زموږ قسمت هم وکوي .

آمـــين



ماخذونه

1. القرآن الكريم
2. البرهان في علوم القرآن
3. الإتقان في علوم القرآن
4. تفسير القرطبي
5. تفسير ابن كثير
6. تفسير الطبري
7. تفسير المنار
8. صحيح البخاري
9. صحيح مسلم
10. سنن الترمذي
11. سنن النسائي
12. سنن أبي داود
13. سنن ابن ماجه
14. سنن الدارمي
15. سنن الدارقطني
16. شرح النووي على مسلم
17. فتح الباري شرح صحيح البخاري
18. حاشية السندي على ابن ماجه
19. عون المعبود
20. تحفة الأحوذي
21. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح
22. السيرة النبوية (ابن هشام)
23. كتاب الشفا بتعريف حقوق المصطفى
24. زاد المعاد
25. البداية والنهاية
26. جامع العلوم والحكم
27. سير أعلام النبلاء
28. بداية المجتهد ونهاية المقتصد
29. بيان المختصر شرح مختصر ابن الحاجب
30. بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع
31. تحفة المحتاج في شرح المنهاج
32. جمع الوسائل في شرح الشمائل
33. رد المحتار على الدر المختار
34. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء
35. فتح القدير
36. البحر الرائق شرح كنز الدقائق

37. الأشباه والنظائر على مذاهب أبي حنيفة النعمان
38. القواعد النورانية الفقهية
39. أنوار البروق في أنواع الفروق
40. مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين
41. الجواب الكافي لمن سأل عن الدواء الشافي
42. موعظة المؤمنين من إحياء علوم الدين
43. القاموس المحيط
44. لسان العرب
45. النهاية في غريب الحديث والأثر
46. مختار الصحاح
47. الحاوي للفتاوي

د مؤلف چاپ شوي آثار

1. د حضرت محمد γ د نبوت معجزې
پښتو
2. ړنګه ځاله
پښتو
3. آشیانه سوخته
فارسي
4. په اسلام کې د انسان حقوق
انګلیسي
5. دین یې دام دی ددنیا په لار کې اېښی
پښتو
6. فرار از کزار
فارسي
7. له کزاره تېښته
پښتو
8. زوړ دین نوی مسلمان
پښتو
9. ډم ډمکو جي او لیکوال
پښتو
10. ادیان پشت در
فارسي
11. له دروازې تر شا دینونه
پښتو
12. د انصاف ا و اعتدال لاره
پښتو
13. کفري الفاظ
پښتو
14. کل بچه
فارسي
15. معلومات عمومي فارسي
16. د حج لارښود پښتو
او انګلیسي
17. محمد رسول الله γ سیرت اخلاق او پېژندنه
پښتو

18. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه اول
پښتو
19. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دوهم
پښتو
20. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه دريم
پښتو
21. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه څلرم
پښتو
22. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه پنځم
پښتو
23. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه شپږم
پښتو
24. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه اوم
پښتو
25. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه آتم
پښتو
26. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه نهم
پښتو
27. د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه لسم
پښتو
28. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه اول
پښتو
29. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه دوهم
پښتو
30. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه دريم
پښتو
31. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه څلورم
پښتو
32. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه پنځم
پښتو
33. د علم حديث مطالعه پښتو
او انګليسي
34. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه شپږم
پښتو
35. کلمه طيبة
پښتو

36. الدعاء
پښتو
37. اللهم عربي، پښتو،
انګلسي
38. المسجد پښتو
39. قرآني معلومات لمړی برخه
پښتو
40. سلام پښتو
41. د فقهي کتابونو له پاڼو څخه اومه برخه
پښتو
42. د وخت اهميت (لمړی برخه)
پښتو
43. د وخت اهميت (دوهمه برخه)
پښتو
44. د وخت اهميت (دريمه برخه)
پښتو
45. الحکمة ۱ پښتو
46. الحکمة ۲ پښتو
47. الحکمة ۳ پښتو
48. الحکمة ٤
پښتو
49. حتمي سفر (مرګ)
پښتو
50. حتمي سفر (شهادت) ستاسې
په لاس کې